# د ملي یووالي حکومت لاسته‌راوړنې

## تله ۱۳۹۳ـ سلواغه ۱۳۹۷

## (لنډیز)



د جمهوري رياست لوړ مقام دفتر لوی رياست
د ستراتيژيکو اړيکو او رسنيو معاونيت
د مطبوعاتو رياست

# د ملي يووالي حکومت لاسته‌راوړنې

تله ۱۳۹۳ ـ سلواغه ۱۳۹۷

**(لنډيز)**

کب ۱۳۹۷

# د ملي یووالي حکومت لاسته‌راوړنې

۱۳۹۳ تله - ۱۳۹۷ سلواغه
(لنډیز)

**چمتو کوونکی:**
مطبوعاتو ریاست / د رسنیو او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت /
د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست

www.ocs.gov.af
ocs.afg
OCS_AFG

**د معلوماتو راټولوونکي:**
عادله عباسي، محمد عابد عادل
**د معلوماتو تجزیه او تحلیل:**
عبدالعزیز حیدري، سید حسن عالمي، بهمن دانش‌دوست
احمدضیا محمدي، محمد حسین جوهري، سید ضیا دانش
**پښتو اېډېټر:**
حزب الله اتل
**تدوین:**
سید حسن عالمي
**د پښتۍ طرحه او ډیزاین:**
نادر جلالي
**چاپ:**
اجمیر داوودزی ـ کابل ـ ۱۳۹۷
**شمېر:**
۵۰۰۰ ټوکه

ISBN 978-9936-631-05-2
9 789936 631052

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

## څومره لاره مو وهلې؟


د ملي یووالي حکومت په پیل کې د افغانستان او شاوخوا عمومي وضعیت.......... ۱۵
فرصتونه........................................................................ ۱۸
ننګوني ......................................................................... ۲۰
شته ظرفیتونه ................................................................... ۲۳
د بدلون لپاره مو څه کړي؟ ...................................................... ۲۵


## بهرنۍ سیاست


الف ـ د بهرني سیاست د بنسټونو جوړول ....................................... ۴۱
ب ـ په نړیواله ټولنه کې افغانستان ته باور ورکول ............................... ۴۸
پ ـ د سیمې د نښلوونکې لویې لارې په توګه د افغانستان د ځای تثبیت ........... ۵۰
ت ـ د ټرانزیټي ـ سوداګریز محدودیت ماتول ...................................... ۵۵
ث ـ د افغانستان په اړه له لاسته‌راوړنو د ډکو سیمه‌ییزو کنفرانسونو جوړول ........... ۵۶
ج ـ «د کابل پروسې، سولې او امنیتي همکاریو» طرحه کول او عملي کول .......... ۵۷
چ ـ نړۍ ته د ترهګرۍ د ځالو ورپېژندل او د هغوی پر وړاندې د نړیوالې اجماع جوړول ۵۸
ح ـ د افغانستان د سولې او امنیت لپاره د نړیوال ملاتړ راجلبول..................... ۵۹
خ ـ له اسلامي هېوادونو سره د دوستانه او ژورو اړیکو جوړول ......................... ۶۳
د ـ د افغانستان نړیوال سیاسي او مالي ملاتړ ...................................... ۶۵


## اقتصادي انکشاف


الف ـ د نسبي اقتصادي ثبات ساتل.................................................. ۷۱
ب - د بانکوالۍ پیاوړي کول ........................................................ ۷۵
پ ـ د کلیوالي اقتصاد پیاوړتیا او هوساینه ........................................ ۷۶
ت ـ د هېواد په اقتصادي نظام کې د ځمکې د اهمیت ډېرول ............................ ۷۸
ث ـ د انرژۍ د تولید پراخول او برېښنا رسول........................................ ۷۸
ج ـ د اوبو کنټرول او مدیریت....................................................... ۸۰
چ ـ د کرنې او مالدارۍ وده ......................................................... ۸۱
ح ـ د ښاري زېربناوو پرمختیا ....................................................... ۸۳
خ ـ د تولیدي صنایعو پیاوړي کول .................................................. ۸۴
د ـ د سوداګرۍ او ټرانزیټ وده ...................................................... ۸۵
ذ ـ د زېربناوو پرمختیا او ترانزیټي آسانتیاوې ....................................... ۸۷
ر ـ د کانونو په سکتور کې اصلاحات ................................................. ۸۸
ز ـ د مخابراتي زېربناوو پرمختیا...................................................... ۸۹


## سوله


الف ـ د سولې د عالي شورا پیاوړي کول............................................. ۹۳
ب ـ د جګړې د فکري او اعتقادي زمینو له منځه وړل ................................. ۹۴
پ ـ د علمي مېکانېزمونو جوړول او پلي کول.......................................... ۹۶


## امنیت


الف ـ د سیاسي جغرافیې ساتنه او د ځمکنۍ بشپړتیا دفاع........................... ۱۰۳
ب ـ د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندانۍ او توحید ملي مرکز جوړول .......... ۱۰۳
پ ـ د سوېلي اسیا او افغانستان لپاره د امریکا متحدو ایالتونو د ستراتیژۍ اعلان .... ۱۰۳
ت ـ کابل ته د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا  د پلاوي سفر ..................... ۱۰۴
ث ـ له ترهګرۍ سره د مبارزې سیمه‌ییزه ستراتیژي ................................... ۱۰۴
ج ـ د څلور کلن امنیتي پلان جوړول او پلي کول ..................................... ۱۰۵
چ ـ پراخ او پایدار اصلاحات ........................................................ ۱۰۵
ح ـ پر امنیتي او دفاعي ځواکونو دوامداره پانګونه .................................. ۱۰۷
خ ـ د ځواکونو ظرفیت لوړول ........................................................ ۱۰۷

## امنیت


د ـ د عملیاتو د اغیز ډېروالی ........................................ ۱۰۸
ذ ـ د بشري حقونو د مسایلو ښه‌والی ........................................ ۱۰۹
ر ـ په پوځي بنسټونو کې د فساد کمول ........................................ ۱۰۹
ز ـ د ځواکونو د مورال لوړول او د دوښمن روښانه تعریف ........................................ ۱۱۰
ژ ـ د ځواکونو او د هغوی د کورنیو د ژوند ښه‌والی ........................................ ۱۱۱
س ـ په پوځي برخه کې د قانوني تشو ډکول ........................................ ۱۱۱
ش ـ له نشه‌يي توکو سره مبارزه ........................................ ۱۱۲


## د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا


الف ـ د هېواد د قوانینو چوکاټ بشپړول ........................................ ۱۱۷
ب ـ عدلي او قضايي اصلاحات ........................................ ۱۱۷
پ ـ په څارنوالۍ کې اصلاحات ........................................ ۱۱۸
ت ـ ټاکنیز اصلاحات ........................................ ۱۱۹
ث ـ د محلي حکومتولۍ د اجراآتو ښه‌والی ........................................ ۱۲۱
ج ـ د حکومتي بنسټونو جوړښتي اصلاح ........................................ ۱۲۵
چ ـ د اداري د بشري ځواک ظرفیت جوړونه ........................................ ۱۲۶
ح ـ د فساد د درک په شاخص کې لوړوالی او د روڼتیا زیاتوالی ........................................ ۱۲۸
خ ـ له غصب څخه مخنیوی او د غصب شوو ځمکو بېرته ترلاسه کول ........................................ ۱۳۳
د ـ له انساني قاچاق سره مبارزه ........................................ ۱۳۳
ذ ـ اطلاعاتو ته د لاسرسي پراختیا ........................................ ۱۳۴
ر ـ د بیان له آزادۍ او خبریالانو غوښ ملاتړ ........................................ ۱۳۵
ز ـ د برېښنايي حکومتولۍ پراخول ........................................ ۱۳۷


## ټولنیز انکشاف


الف ـ د روغتیایي خدماتو ښه‌والی ........................................ ۱۴۱
ب ـ د هېواد د ورزشي نظام تقویت ........................................ ۱۴۶
پ ـ د ښوونې ښه‌والی ........................................ ۱۴۸
ت ـ کلتوري وده ........................................ ۱۵۲
ث ـ د کډوالۍ اغېزناک مدیریت ........................................ ۱۵۳
ج ـ د انکشافي پروګرامونو متوازن تنظیم ........................................ ۱۵۵
چ ـ د زیانمنني کچې ټیټول ........................................ ۱۵۶
ح ـ د پروګرامونو له لارې په کارموندنه تمرکز ........................................ ۱۵۷
خ ـ د استوګنې او ښاري خدماتو پروګرام جوړول ........................................ ۱۵۹
د ـ د ښځو د وضعیت ښه‌والی ........................................ ۱۶۰
ذ ـ محیط زیستي ښه‌والی ........................................ ۱۶۲

# مننه

ځواب ویل په ولسواکو نظامونو کې د ښې حکومتولۍ له اساسي اصولو څخه دي؛ په همدې دلیل، حکومتونه مکلف دي، چې د خپلو کړنو راپور او په اړه یې معلومات ورکړي.

مطبوعاتو ریاست د رسنیو او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت په چوکاټ او د ملي یووالي حکومت په کاري دوره کې، دغه ټولګه په بېلابېلو برخو کې د حکومت د لاسته‌راوړنو او عمده فعالیتونو په اړه د اطلاع‌رسونې په موخه تدوین او چاپ کړې.

د جمهوري ریاست د عالي مقام دفتر لوی ریاست همکارانو د دې ټولګې د طرحې، تدوین او چاپ په برخه کې ډېر زیار ګاللی، چې زه ترې مننه کوم. هیله لرم، دغه ټولګه د رسنیو د کارکوونکو، اکاډمیکو بنسټونو د څېړونکو او د افغانستان د شریفو خلکو د پام وړ وګرځي.

عبدالسلام رحیمي

د جمهوري ریاست د عالي مقام دفتر لوی رئیس

## سریزه

ملي یووالي حکومت د حکومتولۍ د فرهنګ د اصلاح لپاره یو شمېر ارزښتونه او کړنلارې په پام کې نیولې چې په ولسواکو نظامونو کې د حکومتونو د ځواب ویلو او حساب ورکولو پر اصل ولاړې دي.

ملي یووالي حکومت د بیان پر آزادۍ او اطلاعاتو ته پر لاسرسي په ټینګار سره نوښتونه پیل کړي، تر څو خلکو ته د خدمتګار په توګه د حکومت په اړه د قضاوت کولو مناسبه فضا برابره کړي. د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت د حکومت د ستراتیژیکو اړیکو د دستګاه د بدنې د یوې برخې په توګه د اطلاع‌رسولو د پیاوړتیا په برخه کې «د ستراتیژیکو اړیکو لارښود» چمتو کړی او مسوولینو او رسنیو ته یې په واک کې ورکړی. همدارنګه یې د حکومت له ویاندویانو سره د پرله‌پسې ناستو په لړ کې د دوی تر منځ سکتوري انسجام او همغږي رامنځته کړې او د عامه افکارو د پوهېدلو او د حکومت د ویاندویانو له لوري هغو ته د ځواب ویلو لپاره یې ځیني مېکانېزمونه جوړ او پلي کړي دي. په همدې برخه کې یې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز له لارې په بېلابېلو برخو کې د دولتي ادارو د  مسوولینو یو لړ مطبوعاتي کنفرانسونه جوړ کړي، چې یو مورد یې د ملي یووالي حکومت په درې‌کلنۍ کې ترسره شو.

د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت توانېدلی چې د مطبوعاتو ریاست له لارې د اطلاع رسولو نوې وسیلې نورو دولتي ادارو ته د الګو په توګه وړاندې کړي. د اطلاع رسولو په وسیلو کې د تنوع رامنځته کول او د هغو د کارولو ډېروالی خلکو ته له بېلابېلو لارو د اطلاعاتو د رسېدو او ځواب ویلو ته  د ویاندویانو د لا هڅونې لامل شوی. د اطلاع رسولو او بیان آزادۍ په شاخصونو کې د افغانستان د ځای بدلون د دغې ادعا دلیل دی، چې د دغه کتاب په اړوند څپرکي کې په تفصیل اشاره ورته شوې.

د اطلاع رسولو د پراختیا پالیسۍ او د جمهوري ریاست عالي مقام د لارښوونې پر اساس د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت د لومړي ځل لپاره د حکومت د لاسته‌راوړنو مفصل او بېلابېل راپورونه چاپ کړي. «د ملي وحدت حکومت درې‌کلنو لاسته‌راوړنو ته لنډه کتنه» کتاب چې تېر کال چاپ شو. دا مهال «د

ملي یووالي حکومت لاسته‌راوړنې» کتاب چې د ۱۳۹۳ له تلې څخه د ۱۳۹۷ تر سلواغې پورې د ملي یووالي حکومت د مهمو فعالیتونو او لاسته‌راوړنو څېړنيز او تحلیلي راپورونه پکې شامل دي، د دغو نوښتونو له جملې څخه دی.

له خپلو همکارانو مننه کوم چې د دغه اثر په لیکلو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې. هیله ده دغه ټولګه د افغانستان شریفو خلکو، په ځانګړې توګه څېړونکو او رسنیو ته د حکومتولۍ په بېلابېلو برخو کې منسجم او بشپړ اطلاعات وړاندې کړي.

هارون چخانسوري

د جمهوري ریاست ویاند او د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو مرستیال

## د پیل خبرې

د دولتي بنسټونو د لویو کړنو او لاسته‌راوړنو راپور ورکول د حکومت د اطلاع‌رسوونکو مراجعو مسوولیت دی. حکومتي بنسټونه جلا جلا او په بېلابېلو لارو دغه چاره ترسره کوي، خو په سکتوري ډول د لویو فعالیتونو او لاسته‌راوړنو منظمول مهمه او اړینه چاره ده. دغه کار اړینو معلوماتو ته د رسنیو او د هېواد د اکاډمیک پاړکي لاسرسی اسانوي.

«د ملي یووالي حکومت لاسته‌راوړنې» تر سرلیک لاندې دغه ټولګه د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر د عمومي ریاست د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو د معاونیت په لارښوونه د مطبوعاتو ریاست د پنځه میاشتنۍ څېړنې محصول دی. د دغې ټولګې معلوماتي سرچینې د دولتي او نادولتي ادارو رسمي راپورونه او همدا راز حکومتي او نړیوال اسناد دي.

دغه ټولګه لږ تر لږه پنځه ځانګړنې لري:

- د لا ډېرې ځیرتیا او کره معلوماتو د وړاندې کولو لپاره د سرچینو ډېروالی
- د پایلو پر بنسټ د لاسته‌راوړنو بیانول
- سکتوري تقسیم‌بندي او منسجمه موضوع‌بندي
- د ګرافونو او جدولونو کارول
- له نااړینو او جزوي معلوماتو څخه ډډه کول

تر لوستلو وړاندې دوه ټکي د لوستونکو لپاره د یادولو وړ دي:

- د شمېرو او ارقامو د ترتیب ګڼ مراجع او د دولتي او نادولتي مراجعو د ډېری ارقامو اټکلي حالت ښایي د دغه کتاب له ځینې نورو برخو سره په ځینو ارقامو کې د ورته‌والي لامل شوی وي، خو د یادولو وړ ده چې د بحث وړ موضوع پر کلیت اغېز نه کوي.
- ښایي د حکومت ځینې لوی فعالیتونه او لاسته‌راوړنې په ډېرو سکتورونو کې یاد شوي وي. لامل یې دا دی چې د ځینو لاسته‌راوړنو ماهیت له یوه سکتور

سره نه دی منحصر، له همدې امله د هر سکتور د معلوماتو د بشپړوالي په موخه د هماغه سکتور له لیده لاسته‌راوړنې یادې شوې دي.

په پای کې له خپلو همکارانو مننه کوم چې د دغه اثر په لیکلو سره یې د هېواد د څېړنیزې او علمي ټولنې د اړتیا یوه برخه پوره کړه.

ناجیه انوري

د مطبوعاتو رئیسه

د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت

د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست

# خومره لاره مو وهلې؟


١ بهرنی سیاست

٢ اقتصادي انکشاف

٣ سوله

۴ امنیت

۵ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا

٦ ټولنیز انکشاف

*تېر څلور کاله او پنځه میاشتې د ملي یووالي حکومت لپاره ننګوونکي وو، له یوې خوا باید له تحمیلي امنیتي ګواښونو سره مقابله شوې وی او له بلې خوا د عامه هوسایني په موخه د بدلون راوستلو د پراختیا اجنډا پیل شوې وی. حکومت وکولای شول د ستونزو منفي اغېزې راکمې کړي، فرصتونه او ظرفیتونه یو ځای او په حاکم لانجمن وضعیت کې په بېلابېلو برخو کې پام وړ پرمختګونه وکړي. له شک پرته د جګړې او نا امنۍ شدت د پرمختګونو د مخنیوي لپاره د افغانستان د دښمنانو وسله وه؛ خو په ټول کې د بهرني سیاست، اقتصادي ودې، امنیت، سولې، د قانون حاکمیت، اصلاحاتو او ټولنیزې پرمختیا په برخو کې د ملي یووالي حکومت کارنامې د ستایلو وړ دي.*

د ملي یووالي حکومت په پیل کې د افغانستان او شاوخوا عمومي وضعیت

فرصتونه ننګوني شته ظرفیتونه

د بدلون لپاره مو څه کړي؟

سید حسن عالمي

د ملي يووالي حکومت پيل د افغانستان لپاره له مثبتو او منفي مسايلو سره مل و. هغه ستونزمنه لار چې د تلو لپاره يې بايد د دولت مشرتابه او د چارو مسوولينو ځيرتيا او ځيرکتيا دواړه کړي واى. له نېکه‌مرغه د ورځنيو مسايلو په اړه دقت او ځيرکي د دې لامل شوه چې حکومت شته فرصتونه، ننګونې او ظرفيتونه په ګوته او د بدلون راوستو لپاره عملي ګامونه واخلي.

## د ملي يووالي حکومت په پيل کې د افغانستان او شاوخوا عمومي وضعيت

په وروستيو لسيزو کې د پرله‌پسې سياسي او امنيتي بدلونونو له امله هېواد بې ثباته او داسې منزوي شو چې د نړيوال نظم پر وړاندې د استعمال لپاره يې آدرس کارول اسانه شول. د ترهګرۍ له نړيوالو ګواښونو وروسته د ملګرو ملتونو سازمان امنيت شورا د ۲۰۰۱ زېږديز کال پرېکړه‌ليک خپور او د نړيوال ائتلاف ځواکونه افغانستان ته راغلل. د دوی جګړه‌ييز ماموريت ۱۳ کاله وغځېد او دا چې ځرګنده شوه يوازې پوځي مبارزه د ګواښونو د تکرار مخنيوی نه‌شي کولای، د خلکو د ژوند او اقتصادي ښه‌والي او په افغانستان کې د سياسي نظام جوړېدو په برخه کې پراخې همکارۍ وشوې. د افغانستان د نړيوالو همکارانو او نوو شريکانو د پوځي او ملکي حضور له لارې هېواد ته لسګونه ميليارده ډالره راغلل تر څو د دولتدارۍ د نظام زېربناوې جوړې شي او افغانستان له انزوا څخه په وتو سره پر خپل قلمرو برلاسى او حاکميت پيدا کړي.

افغانانو د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون په مدرن ډول جوړ او تصويب کړ؛ د افغانستان له وضعيت سره سم اداري جوړښتونه نوي شول؛ زده‌کړې نوي پړاو ته داخلې شوې؛ د بيان آزادي تضمين شوه؛ پراختيايي پلانونو ته بياځلي پام واوښت؛ افغانانو سراسري ټاکنې تجربه کړې او ملي شورا جوړه شوه.

په ورته وخت کې د فساد د بېلابېلو ډولونو د ريښو غځېدو لپاره ډېرې تشې پاتې شوې او له رامنځته شوو فرصتونو څخه د ناسمې ګټې اخيستنې له امله د افغانستان د ځان بسياينې لپاره د نړيوالو شريکانو هيلې له منځه ولاړې. د توکيو کنفرانس[1] ۲۰۱۵ ـ ۲۰۲۴ کلونه[2] د افغانستان لپاره د «بدلون لسيزې»[3] په توګه

---

۱ د افغانستان په اړه د توکيو نړيوال کنفرانس، د ۱۳۹۱ د چنګاښ ۱۸ مه / ۲۰۱۲ جولای ۸
۲ ۱۳۹۴ ـ ۱۴۰۳ هجري لمريز
۳ Transformation Decade (2015-2024)

په پام کې ونیول شول. افغانستان له فساد سره د مبارزې او خودکفایۍ په برخه کې د اصلاحاتو راوستو ژمنه وکړه. له دغو ژمنو سره سره هم د توکیو تر کنفرانس وروسته د افغانستان وضعیت ښه نه‌شو او په ډېرې برخو کې یې تر ۱۳۹۳ کاله مخ پر ځوړ حالت دوام وکړ. بېوزلي له ۳٦ سلنې څخه ۳۹ سلنې او بېکاري له ۲۵ سلنې څخه ۳۹ سلنې ته لوړه شوه او په ۱۳۹۴ کال کې خصوصي پانګونه د ۱۳۹۱ کال په پرتله ۵۰ سلنه کمه شوه.[۱] دغه وضعیت د نړیوالو شریکانو د نهیلۍ، د خصوصي سکتور د ټکني کېدو، د کډوالیو د ډېرېدو او د اقتصادي کمزورۍ لامل شو او په لنډو ټکو کې دا چې یو ځل بیا د افغانستان د پاتې راتلو په اړه د اټکلونو فضا ګرمه وه. له بل پلوه ترهګرو او ملاتړو یې خپلې لیکې نوې او امنیتي ګواښونه یې ډېر کړل.

له دغو بدلونونو سره هم‌مهاله افغانستان په بشپړ ډول د امنیتي مسوولیتونو د اخیستو په حال کې و او د بهرنیو ځواکونو د جګړه‌ییز ماموریت تر پای ته رسېدو وروسته د نړیوالو ځواکونو او افغانستان د اسلامي جمهوریت تر منځ د دوه‌اړخیزې همکارۍ چوکاټ د مشخصېدو لپاره خبرو کلک دوام وکړ، چې په لومړي پړاو کې د ۱۳۹۱ کال د غويي پر ۱۳مه (۲۰۱۲ د مې ۲مه) د افغانستان د اسلامي جمهوریت او امریکا متحدو ایالتونو تر منځ د اوږدمهالو ستراتیژیکو همکاریو د هوکړه‌لیک لاس‌لیکېدو لامل شوې. البته د امنیتي هوکړه‌لیکونو د لاس‌لیک په اړه توافقاتو ډېر وخت ونیو.

همدا مهال په ۱۳۹۳ کال کې په دوو پړاوونو (وري او غبرګولي) کې د جمهوري ریاست دربیمه دوره ټاکنې وشوې او د هېواد بحراني وضعیت ته په پام «د ملي یووالي حکومت» جوړ شو چې د ۱۳۹۳ کال د تلې پر ۷مه یې د جمهور رئیس محمد اشرف غني په لوړې سره کار پیل کړ. د ملي یووالي حکومت چې د جمهور رئیس غني په نظر د افغانانو د یو بل منلو ښکارندوی و، په داسې حال کې سیاسي واک واخیست چې سیاسي ناظرینو او شنونکو د چارو د مخ ته تلو لپاره هېڅ هیله نه لرله؛ ځکه په وروستیو کلونو کې له افغانستان سره د هم‌پیمان په توګه د امریکا متحدو ایالتونو او ګاونډیانو نسبي نا آرامۍ له یوه اړخه او د افغانستان ګډوډ اداري وضعیت له بله اړخه، د داسې یوه حکومت جوړول په هېڅ صورت له وضعیت سره مناسب نه بلل.

له سیاسي پلوه افغانستان د نړیوالو شریکانو له لوري د بې‌باورۍ او په ورته وخت

۱ افغانستان؛ د پراخې اقتصادي ودې لپاره اجنډا، نړیوال بانک، د ۲۰۱۷ د اکتوبر ۴مه

کې د ګونګتیا په فضا کې و، په داسې توګه چې ښکارېده د لا ډېر منزوي کېدو په حال کې دی. د اصلاحاتو ټکنی بهیر، ورځ په ورځ د اداري فساد ډېروالی، د سیالیو ناوړه فضا او سیاسي ګډوډي، عدالت ته د خلکو کم لاس‌رسی، اوج ته د ځمکو د غصب رسېدل، له تقابل سره سره د یو بل په چارو کې د درېځ ګونو قواوو مداخله، د جرمي اقتصاد پراخوالی او د پراختیايي برخو مافیايي کېدل د دغې بې‌باورۍ لوی لاملونه وو.

له اقتصادي پلوه افغانستان د خپلو داخلي تولیداتو په ښه کولو نه و بریالی شوی او د صادراتو کچه یوازې ۴۰۰ میلیونه ډالره وه؛ په ملي بودیجه کې د عوایدو برخه ډېره کمه وه او سلګونه میلیونه ډالره د بودیجې کسر موجود و؛ همدارنګه زېربنايي پروژې په ډېر لوړ لګښت په ډېر ټکني ډول مخ ته تلې.

له امنیتي پلوه د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو تر منځ ملکي مرګ ژوبله له ۶۰۲۵ کسانو څخه ۶۷۹۱ ته لوړه شوه.[1] د نا امنۍ د ډېرېدو اصلي لامل لرو پرتو سیمو ته د حکومت په لاسرسي کې پاتې راتګ او په پوځي عملیاتو کې پر بهرنیو ځواکونو د حکومت ترلي پاتې کېدل وو. همدارنګه د سرتېرو د روحیې کمزوري، د ځواکونو د اړین ظرفیت نه‌شتون او د امنیتي او دفاعي ځواکونو پر اړوندو قراردادونو حاکم فساد ډېر څرګند وو. له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې د امنیتي ګواښونو ډېرېدل څو پرله‌پسې کلونه د نشه‌يي توکو د تولید د ډېرېدو لامل هم شوي وو.

له ټولنیز پلوه ورځ په ورځ خلک ډېر بېوزله کېدل. بېوزلي له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې په درې سلنه ډېرښت سره ۳۹ سلنې ته ورسېده.[2] په ورته وخت کې د ښځو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره د مبارزې پروګرامونو کومه ځانګړې اغېزه نه لرله او د معارف په برخه کې د خیالي‌والي اصطلاح کیفیت اغېزمن کړ. همدارنګه فشارونه او د کاري فرصتونو کمښت د دې لامل شول چې خلک، په ځانګړي ډول ځوانان یو ځل بیا کډوالیو ته مخه کړي.

دغو خبرو ته په پام نوی حکومت په بېلابېلو برخو کې د خلکو او نړیوالې ټولنې له بې‌شمېره پوښتنو او غوښتنو سره مخ و. په واقعیت کې د ملي یووالي حکومت د درېیو یعنې امنیتي، اقتصادي او سیاسي ناورینونو په برخه کې مسوولیت واخیست؛ چې هر یو یې د افغانستان د بقا لپاره لویه ننګونه وه. «لومړۍ امنیتي ننګونه وه چې په نږدې موده کې له هېواده د نړیوالې ټولنې د وتو په وړاندوېینې سره طالبانو

۱ افغانستان؛ د پراخې اقتصادي ودې لپاره اجنډا، نړیوال بانک، د ۲۰۱۷ د اکتوبر ۴مه
۲ افغانستان؛ د پراخې اقتصادي ودې لپاره اجنډا، نړیوال بانک، د ۲۰۱۷ د اکتوبر ۴مه

او د هغوی ملګرو د حکومت او خلکو پر وړاندې بې‌مخینې او خونړې بریدونه پیل کړل. دویم اقتصادي ځوړ و چې د نړیوالو ځواکونو له وتو سره رامنځته شو او ډېرې درنې بشري پایلې یې لرلې. وده له ۱۰ سلنې څخه ۲- سلنې ته راښکته شوه چې معنا یې یوازې د کلنۍ بودیجې په راپور د سرې رنګې کرښې کښل نه بلکې په واقعیت کې د هغو کورنیو له ژورې بېوزلۍ سره مخ کېدل وو چې ګټه وټه راوړونکې یې ښځې دي. درېیمه سیاسي ننګونه وه چې د ملي یووالي حکومت بقا یې له لویې اندېښنې سره مخ کړې وه.»[1]

له درېیو یعنې سیاسي، امنیتي او اقتصادي انتقالونو سره مخامخېدو حکومت له سختې ازموینې سره مخ کړی و. له دې امله له شک پرته حکومت د «فرصتونو» او «ننګونو» په بشپړ درک سره اغېزناکې کړنې وکړې تر څو له «شته ظرفیتونو» په ګټې اخیستنې د خلکو په زړونو کې باور او هیلې پیدا کړای شي او د «بدلون» په برخه کې په عمل سره سیمې او نړۍ ته د افغانستان نوې څېره وښیي.

## فرصتونه

جمهور رئیس د خپلې لوړې په وینا کې اقتصاد، امنیت او بشري ځواک د افغانستان د ثبات د مثلث ضلعې وبللې چې په پیاوړتیا سره یې ټولنه هوسا کېدای شي. واک ته د ملي یووالي حکومت د رسېدو پر مهال د تېر حکومت په پرتله په یادو درېیو برخو کې ډېر فرصتونه نه وو او د حکومت مشرانو باید نوي فرصتونه هم لټولي وای. شته لوی فرصتونه په دوو، داخلي او بهرنیو اړخونو کې را نغاړلی شو:

### الف ـ داخلي اړخ

په وروستیو کلونو کې د افغانستان تګلورې او د حرکت څرنګوالي ته په پام کولای شو په لومړي سر کې د داخلي اړخ شپږ فرصتونه یاد کړو.

**اساسي قانون** د ملي وثیقې په توګه د ملي یووالي د ټینګښت لپاره وسیله ده چې په رڼا کې یې ټولې کړنې او اقدامات وشي.

**پر ولسواکۍ ولاړ نظام**، حکومت یې خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو هغه جوړښت تعریف کړی چې د هېواد «سیاسي اقتدار» تمثیلوي. ولسواک نظام له ټولنې سره د متخاصمو ډلو او خلکو د یو ځای کېدو او په سیاسي برخه کې هغوی د ګډون لپاره مشخص چوکاټ رامنځته کوي.

---

1 جمهوررئیس محمد اشرف غني، د لوړ پوړي پلاوي ناسته (سام)، د ۱۳۹۶ د تلې ۱۳مه

**د ناورینونو ختمولو لپاره د خلکو اراده** په ټاکنو او ولسواکو بهیرونو کې د خلکو د پراخ حضور لامل شوې او تېر ته د بیا ورګرځېدو د مخنیوي لپاره د دوی جدیت ښيي. د خلکو نسبي خوش‌بیني او د حکومت له پروګرامونو څخه د ملاتړ لپاره مناسبه فضا بریالیتوب ته د هغوی رسېدل او د هغوی د هیلو پوره کول باوري کوي.

**خصوصي سکتور** د دولت او خلکو تر څنګ د یوه هېواد د تحرک د مثلث ضلعې بشپړوي.[1] په وروستیو کلونو کې د خصوصي سکتور نسبي وده د هېواد د تحرک د متې په توګه هیله‌بښونکې ده.

**د بیان آزادي** او په ټولنه کې یې پر بنسټ جوړو شوو باورونو حکومت ته فرصت برابر کړ چې ځان ملت ته د ځواب ویلو په ازموینښت کې ودروي او د یوې ځانې محرکې قوې په توګه ترې کار واخلي.

**د ځوان نسل بدلون منل** چې د افغانستان د ټولنې لویه سلنه جوړوي، د تېر او راتلونکي نسل ترمنځ د نښلون د پله په توګه یو بې‌ساری فرصت دی.

## ب - بهرنی اړخ

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د نړیوالو مثبتو او منفي جریانونو د تقاطع په ټکي کې راغلی؛ له دې امله څرګندېږي چې د افغانستان بنسټیزې ستونزې بهرني اړخونه لري. حکومت په دغه اړخ کې شته فرصتونه لټولي او د کارولو لپاره یې عملي اقدام کړی:

د ګډ ګواښ په توګه د **ترهګرۍ پر وړاندې د نړیوالې ټولنې مشترکې مبارزې** او د دغې مبارزې په لومړۍ کرښه کې د افغانستان راتلو له نړیوالې ټولنې سره د امنیتي همکاریو ستراتیژیک اړخونه ډېر کړي.

د نړیوالې ترهګرۍ پر وړاندې په مبارزه کې د مهم شریک په توګه د افغانستان په اړوند د مسوولیت منلو له امله د **نړیوالې ټولنې غیر امنیتي او ارزښتناکې ژمنې** په اقتصادي وده او ځان‌بسیاینې ته د افغانستان په رسېدو کې مرسته کوي.

«**آسیا د تاریخ په اوږدو کې د یوې پرانیستې او نادرې زماني مقطع د تجربه کولو په حال کې ده** تر څو د یوه فرصت په توګه د تاریخ مسیر د ځان په ګټه را واړوي. دا ډول زماني مقاطع ډېر کم دي؛ ځکه ډېری کله چې رامنځته شوي

---

۱ د جمهوررئیس محمد اشرف غني له بیاناتو څخه

رهبرانو يې اهميت ته پام نه دی کړی او فرصت يې له لاسه ورکړی. په دغه زماني مقطع کې په زړه پورې موضوع د آسيا لويې وچې اقتصادي ظهور دی چې په ځرګند ډول يې ليدلی شو. دا په حقيقت کې دغې لويې وچې ته «د جغرافيې ډالۍ» ده او افغانستان د دغې لويې وچې زړه».[۱]

**ريکا[۲] او استانبول پروسه د** افغانستان په محوريت موجود نوښتونه دي چې د لرې او نږدې هېوادونو د ژمنو په لړ کې يوې باثباته ټولنې ته د افغانستان په رسېدو کې د همکارۍ لپاره رامنځته شوي، ترڅو د پراختيايي پروګرامونو پر مخ وړو لپاره، په ځانګړې ډول د سيمې په کچه، د افغانستان د مديريت زمينه برابره کړي.

د ټولې نړيوالې ټولنې او نړيوال نظم لپاره د ترهګرۍ د ګډ ګواښ پر ماهيت د ټينګار لپاره **نړيوالې ناستې** لکه د مونيخ امنيتي کنفرانس او د ناټو کلنۍ ناسته د افغانستان لپاره يو فرصت دی.

**په سيمه‌ييز اقتصاد کې د همګرا کړی تشه** احساسېږي چې افغانستان يې په زړه کې دی. په داسې حال کې چې د سيمې د ګازو او انرژۍ پراخې سرچينې له مارکېټونو او بندرونو څخه د جلاوالي په حال کې دي، زموږ هېواد د همپالنې په دغه کړۍ کې د رول لوبولو ښه فرصت لري.

## ننګونې

له شته داخلي او بهرنيو فرصتونو سره سره حکومت له لويو ننګونو سره هم مخ و چې لاره يې لا سختوله او پرېکړې يې لا ډېر انعطاف منلو ته اړ ايستلې. ننګونې هم په دوو داخلي او بهرنيو اړخونو کې راځي.

### الف ـ داخلي ننګونې

په عمومي توګه د افغانستان هغه ننګونې چې حکومت ورسره مخ و، په لاندې مواردو کې خلاصه کولای شو:

**نا امني** د حکومت او حکومتي پروګرامونو پلي کولو پر وړاندې تر ټولو لويه ننګونه ده. دغې ننګونې د خلکو او حکومت تر منځ پر دوه اړخيز تعامل او د داخلي او بهرنيو پانګو پر جلب پراخه اغېزه کړې ده.

---

۱ د تاشکند په نړيوال کنفرانس کې د جمهوررئيس غني وينا، ۱۳۹۷ د وري ۷مه
۲ Regional Economic Cooperation Conference for Afghanistan (RECCA)

**سیاسي، امنیتي او اقتصادي انتقالونه** داسې مهال هم‌مهاله راغلل چې سیاسي لانجې اوج ته رسېدلې وې، د نړیوالو ځواکونو پوځي ماموریت پای ته ورسېد او د افغانستان اقتصاد باید پر خپل ځان تکیه شوی وای.

**له ملي یووالي حکومت سره د افغانانو ناڅرگندتیا** د نظام داخلي کارونه او بېروني لیدلوری له پوښتنو سره مخ کړی و.

د دولت په ټولو کچو کې **د فساد د ریښو پراخوالی** په عمومي توگه د دولت او په ځانگړي ډول د حکومت د کارونو موثریت کم کړی و او خلکو ته یې د خدماتو په وړاندې کولو او له نړیوالو سره په اړیکو کې نورې فرعي ننگونې رامنځته کړې وې.

په ځینو جغرافیایي او کاري ساحو کې د حکومت د کنټرول کمېدو له امله **د جرمي اقتصاد پراخېدل** د دې لامل شوي وو چې د غیر رسمي اقتصاد لویه برخه احتوا کړي (د نړیوال بانک د راپورونو له مخې په ۲۰۰۴ کال کې ۹۰ سلنه).

**لگښتي اقتصاد** چې د جگړې له امله د پراختیایي اقتصاد د ویجاړو شوو زېربناوو د نه ترمیمېدو پایله وه، په افغانۍ پیسو کې د ټیټوالي لوړوالي، د تورم د زیاتوالي، اقتصادي کمزورۍ او په مالي او اقتصادي پلان‌جوړونو کې د حکومت محدودېدو لامل کېده.

**د حکومت د مالي سیستم کمزورتیا** چې اصلي لامل یې په بودیجه جوړونه کې د اصلاحاتو نه پلي کېدل، په غیر اختیاري مقدارونو پورې د بودیجې تړاو، د عوایدو پوښتنه ولاړوونکي ټولول او په بودیجه کې د سلگونو میلیونو ډالرو کسر و.

**د فقر تر کرښې لاندې هېوادوالو ډېروالي** ټولنه ناهیلې کړې او له بدلونه وېرولې وه. همدارنگه د حکومت پر وړاندې یې د عامه افکارو د اړولو لپاره زمینه برابره کړې وه.

د ملي یووالي حکومت له لوري د واک اخیستو پر مهال **اقتصادي کمزوري** پر هېواد حاکمه وه چې اصلي لامل یې غیر واقعي اقتصادي وده او له بهرنیو مرستو سره د هغو تړاو و.

**د عامه منفي افکارو فضا** په ځانگړي ډول د افغانستان د خلکو او په عمومي ډول د نړیوالو افکارو لپاره په حکومت کې گونگتیا او بې‌باوري رامنځته کړې وه.

په بېلابېلو لکه د عامه سرچینو او شتمنیو په برخه کې **معلوماتي تشه** موجوده

وه چې پلانول او پلي کول يې له نورو ننګونو او د بيو له لوړوالي سره مخ کوي.

**د بشري ځواک د تخصص کمزوري** په ملکي ادارو کې پراخه وه او شپېته سلنه کارکوونکو يوازې د دوولسم ټولګي سند درلود.[۱]

د نابرابرې امنيتي او اقتصادي فضا له امله **ناقانونه بې‌ځايه کېدو او کډوالۍ** په افغان ټولنه کې درز رامنځته کړی و، چې افغانان يې د يوه ځواک په توګه د بدلون له راوستلو لرې کړي او سره جلا کړي وو.

په افغانستان کې له بېلابېلو معيارونو او ارزښتونو څخه اغېزمن **سياسي او ټولنيز درزونه** د تصميم نيولو او ملي پروګرامونو د طرحې او پلي کولو په مخ کې يو ستر خنډ او د هغوی د پرمختګ د ټکني کېدو لامل دی.

په ښار او کلي، مرکز او لرې پرتو سيمو کې **د ټولنيزو جوړښتونو نابرابرۍ**، برابره ټولنيزه وده له منځه وړې ده.

**پرله‌پسې وچکالۍ او سېلابونو** کرنه د هېواد د مهمې اقتصادي برخې په توګه اغېزمنه کړې ده.

## ب - بهرنۍ ننګونې

هغه ننګونې چې افغان ټولنه يې له بهره اغېزمنه کړې ده، په عمده ډول په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

**نيابتي او تحميلي جګړو** د طالبانو تر څنګ تر ۲۰ ډېرو نورو ترهګرو ډلو ته د فعاليت زمينه برابره کړې ده. د مخالفانو بهرنۍ ملاتړ ځينې وخت د داسې پلانونو د جوړولو لامل شوی چې له مخې يې کندوز، غزني او فراه ولايتونو سقوط وکړ او نور جدي ګواښونه لکه داعش يې راپورته کړي.

**په ښارونو کې د نا امنيو ډېرېدل** د جګړه‌مارو له لوري هغه تاکتيک دی چې په جګړه‌ييزو جبهو کې د هغوی تر ناکامېدو وروسته پيل شو، تر څو خلک لا ډېر د حکومت پر وړاندې وپاروي.

**د څه باندې سل زرو نړيوالو ځواکونو وتلو** نه يوازې د افغان ځواکونو مسووليت څو برابره کړ بلکې د ډېری هغو خلکو پر معيشتي برخو يې هم اغېز وکړ چې

۱ د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو د کميسيون راپور، ۱۳۹۷

لګښتونه يې د هغوی له حضور سره تړلي وو.

د افغانستان د ځان نه بسیاوالي له امله له همپیمانه په ځانګړې توګه امریکا متحدو ایالتونو سره **د اړیکو سوړوالي**، د پروګرامونو پلي کول او د چارو مخ ته تګ له ستونزو سره مخ کړي وو.

**د افغان ځواکونو مرګ‌ژوبله او مادي لګښتونه** د امنیتي او دفاعي ځواکونو له لوري د امنیتي مسوولیتونو تر منلو وروسته ډېر شوي دي.

**د نړیوالې کډوالۍ څپې** په ځینو هېوادونو لکه سوریه او عراق کې د وضعیت خرابېدو له امله د کډوالۍ په مدیریت کې ناورین رامنځته کړ چې له داخل او ګاونډيو هېوادونو څخه پرمختللو ټولنو ته يې د افغانانو د کډوالیو پر شمېر هم پام‌وړ اغېزه وکړه.

## شته ظرفیتونه

افغاني ټولنه د فرصتونو کارولو او له ننګونو سره د مخ کېدو لپاره څه ظرفیتونه لري؟ دا د ملي یووالي حکومت له مشرانو او مسوولینو سره یوه مهمه پوښتنه ده. په عمومي توګه دغه ظرفیتونه په څلورو برخو وېشو.

### الف ـ د خلکو فرهنګ

**د خلکو دیني باورونه** د تاریخ په اوږدو کې د هغوی پر تصمیمونو ځانګړی تسلط او اهمیت لرلی؛ په ټولنه حاکمه اسلامي روحیه او په هېواد کې د علماوو مقام د بل هر ټولنیز حرکت په پرتله د جوماتونو په جوړولو کې د افغانانو د پراخ ګډون لامل شوی.

**تشبثي کارونه** له ډېر پخوا د افغانانو د فرهنګ مهمه برخه وه. په دې خاوره د ورېښمو لارې تېرېدل او په تاریخي بهیر کې د افغانانو له لوري د دغه فرهنګ تمثیل يې د ثبوت غوره بېلګې دي.

**د مدني او ولسواکې ټولنې ارزښتونه** که څه هم د طالبانو تر دورې وروسته په افغانستان کې ډېر نه دي پایېدلي؛ خو د افغاني ټولنې لویه برخه د دغو ارزښتونو پر ساتونکو بدله شوې ده.

## ب ـ امنيتي او دفاعي ځواکونه

**ملي اردو، ملي پوليسو او د ملي امنيت ځواکونو** ۳۵۲ زره رضاکار او وطن ته ژمن ځواک جوړ کړی چې د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا او خپلواکۍ د ساتلو ضامن دی.

د امنيتي او دفاعي ځواکونو د **سربښندنې روحيه** د ځمکنۍ بشپړتيا، ملي حاکميت او افغانستان ساتلو لامل شوې ده.

## پ ـ انساني شتمنۍ

**ځوان نسل** د جمعيت‌پېژندنې او ډيموګرافيک له اړخه د افغانستان په څېره کې لوی بدلون راوړی. تر ۲۵ کلنو د کم عمرو تر ۶۰ سلنه ډېر نفوس زموږ د اقتصاد او ملي امنيت د پراختيا لپاره د ستراتيژيک اهميت لرونکې موضوع ده.

**افغان ښځې** د نارينه‌وو په پرتله ښل درک او ځانګړې ظرفيتونه لري او نن د دې جوګه دي چې د خپل ځان استازيتوب وکړي.

**کډوال** چې تر ۵ ميليونه ډېر دي او له خپل هېواد او هېوادوالو سره ژور معنوي او ټولنيز تړاوونه لري، په خپلو مېشت‌ځايونو کې يې فرصتونه کارولي او د هېواد لپاره پر ښه مادي او معنوي شتمنۍ بدل شوي دي.

## ت ـ طبيعي او جغرافيايي سرچينې

«**د افغانستان جغرافيايي موقعيت** درې حقيقته لري؛ له افغانستان او منځنۍ آسيا څخه د اورو-آسيا ټولو لويو تمدنونو ته لاسرسی کېدای شي؛ افغانستان د منځنۍ آسيا لپاره د هند د نيم‌وچې پر لورې، د وچې دروازه ګڼل کېږي؛ او موږ د وصل د ټکي لپاره يو تمدن يو او د آسيا لپاره څلورلارې، چې په هغو کې مفکورې، اشخاص او اجناس په آزادانه ډول په جريان او تعامل کې دي.»[1]

**د افغانستان اوبه** د طبيعي ښکلا تر څنګ د پاکې انرژۍ ستره سرچينه ده او د کرنې د ودې او سلګونه زره هکتاره ځمکې د خړوبولو لامل به شي. همدا راز به اوبه د سيمې له هېوادونو سره په مناسباتو کې د افغانستان دريځ لوړ کړي.

**د افغانستان له کانونو** سره د نادرو فلزاتو او ډېرو د نجومي ارزښتونو شمېرې غوټه دي چې له هغو د راتلونکو نسلونو برخمنېدل دقيق پلان غواړي.

---

۱ د جمهوررئيس محمد اشرف غني وينا، د کابل دويمه پروسه، د ۱۳۹۶ د کب ۹مه.

**د افغانستان د انرژۍ سرچینې** د لومړنیو پلټنو له مخې، د ۳۱۶ زره مېګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري.[۱]

**کرنه او محصولات** د ملي اقتصاد او افغانانو د کورنیو بنسټ دی، د افغانستان یوازې ۵ یا ۸ ډوله کرنیز محصولات هم په کال کې تر څلور میلیارده ډالر صادرات کولای شي.[۲]

## د بدلون لپاره مو څه کړي؟

خلکو او نړیوالې ټولنې د ملي یووالي حکومت جوړېدل د بدلون راوستو لپاره د عطف ټکی باله؛ خو د دغه بدلون په اړه غالب تحلیل د پرمختګ د مخې د ډب کېدل او د افغانستان بربادي وه. له شته ننګونو څخه په اغېزمنه بې‌باوره داخلي او خارجي فضا کې د حکومت تحلیل دا نه و او پر ننګونو او اوضاع د برلاسي کېدو لپاره یې د شته فرصتونو او ظرفیتونو پر کارولو ټینګار کاوه.

له پخوانیو نړدې او لرې نظامونو څخه پاتې میراث د راتلونکي لیدلوري لپاره د یوه لارښود رول ولوباوه. داسې چې حکومت د نړیوالې ټولنې د مالي او تخنیکي مرستو پر اغېز د باور لرلو او د نړیوالې ټولنې د سخاوت د قدردانۍ ترڅنګ، پوهېده چې دغه مرستې دایمي نه دي او افغانستان باید پر ځان د متکي کېدو خوا ته حرکت وکړي؛ نو څکه حکومت لږ تر لږه په لاندې ۹ برخو کې د یوه غوړېدلي او ګټور بدلون د رامنځته کولو لپاره د افغانستان د تحرک په موخه ګامونه پورته کړي دي.

### الف ـ د بدلون په لسیزه کې د افغانستان په اړه نوی تعریف وړاندې کول

هغه تعریف، چې د ملي یووالي حکومت د افغانستان په اړه وړاندې کړ، د یوه داسې هېواد تعریف و چې حکومت یې سیاسي اراده او په عمل کې قاطعیت درلود. «افغانانو د نړیوال نظم رامنځته کولو لپاره ډېرې قربانۍ ورکړې او یوه نوې پاڼه نه، بلکې یو نوی څپرکی یې پرانیست چې هماغه همکارې، تفاهم او ونډه اخیستنه ده.[۳]» له انزوا څخه د وتلو په موخه په نړیوال نظام کې د یوه خپلواک هېواد په توګه فعاله ونډه واخیستل شوه چې د بهرني سیاست د پنځو کړیو په جوړولو او د بهرنیو څواکونو د حضور د دوام له منظمولو سره په عملي ډول ولیدل

۱ د جمهوررئیس محمد اشرفي غني وینا، د اقلیم بدلولو یوویشتم نړیوال کنفرانس، پاریس، د ۱۳۹۴ د لیندۍ ۹مه.
۲ د جمهوررئیس محمد اشرف غني وینا، د ښاروالانو درېیم ملي کنفرانس، د ۱۳۹۷ د تلې ۹مه.
۳ د جمهوررئیس محمد اشرف غني وینا، د مونیخ یو پنځوسم امنیتي کنفرانس، ۱۳۹۳ د سلواغې ۱۹مه.

شوه. د ګاونډیانو او نړۍ لپاره بې‌خطره کېدل، ښه ګاونډیتوب کول، د ګډو ګټو او اتصال پر سیمه بدلېدل او د سیالۍ پر ځای د فرصت په ډګر بدلېدل له نړیوالې ټولنې سره په مخ کېدو کې د ملي یووالي حکومت له ټینګارونو څخه وو او دا یې ښوده چې افغانستان په خپل نړیوال رول ادا کولو کې د خپلو ظرفیتونو او سرچینو د کارولو لپاره لیدلوری او اراده لري.

افغانستان په اقتصادي برخه کې د ځان‌بسیاینې د سیاست پر لوري حرکت کړی؛ ۹ سلنه اقتصادي وده، ۸ میلیارده ملي عواید او د سوداګرۍ د بیلانس مثبت بدلون د افغانستان لپاره له لویو موخو څخه دي[۱]. دغه موخې ترلاسه کېدونکې دي چې بېلګه یې په سختو شرایطو کې د افغانستان د عوایدو له ۳۳ سلنې ډېر لوړېدل دي[۲].

د نن ورځې افغانستان د بدلون لسیزې په نیمایي کې د ظهور په حال کې نمونې لري. د اساسي قانون ارزښتونه؛ د خلکو اراده؛ د نسل بې‌سارې بدلون؛ د شاوخوا ۴۰۰ تقنیني سندونو جوړول او نافذول؛ د خصوصي پانګونې لپاره مناسب چاپېریال؛ د قضا ښه‌والی؛ د امنیتي او دفاعي ځواکونو اصلاح؛ د هم‌پیمانو او شریکانو بیا باوري کول؛ د داخلي عوایدو لوړول؛ له فساد سره جدي مبارزه؛ د خدماتو وړاندې کولو ښه‌والی؛ د ملکي خدماتو اصلاح؛ د ښځو د حقونو او مشارکت ښه‌والی او د برېښنا رسونې پراختیا، ځینې دغه نمونې دي.

## ب ـ د بدلون له لسیزې وروسته د افغانستان لپاره لیدلوری رامنځته کول

د بدلون له لسیزې وروسته د افغانستان لپاره د لیدلوري رامنځته کول، د سیمه‌ییز پیوستون په ښه‌والي کې د رول په ادا کولو کې نغښتي دي؛ داسې چې افغانستان به د سیمې د انرژۍ، ټکنالوژۍ او ټرانزیټ دهلیز وي. افغانستان اوس‌مهال د داسې تولیدي، پیاوړي او پر صادراتو ولاړ اقتصاد پر لور ګامونه اخلي چې پایله به یې د خلکو هوساینه او د ملي اقتدار تحکیم وي. «د افغانستان د اقتصادي تګلارې لومړی رکن په کرنې، کانونو، زېربناوو، سیمه‌ییز پیوستون او په ځانګړې توګه په انساني سرمایې د پانګونې له لارې د ملي تولید د کچې لوړول دي. په دویم رکن کې افغانستان باید بازارونه جوړ او پراخ کړي ترڅو یې په پایله کې د شرکتونو ترمنځ د منصفانه سیالۍ او کار رامنځته کولو زمینه برابره او د ارزښت لړۍ

---

۱ د جمهوررئیس محمد اشرف غني وینا، ۱۳۹۷ د غوایي ۸مه.
۲ د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مالیې وزارت راپور.

په نوو بازارونو کې فرصتونو ته د رسېدو په موخه اړتیا وړ پانګې او پوهې ته بنه لاسرسی برابر کړي او بالاخره دریيم رکن بنيي چې په پراختیا د دولت تمرکز باید د دولت او خصوصي سکتور ترمنځ د مشارکت رامنځته کولو لامل شي ترڅو سولې، هوسایني او پرمختیا ته د رسېدو په موخه، د سیمه‌ییزو همکاریو د ډېرولو په برخه کې زموږ له لرې او نږدې ګاونډیانو سره د ودې او مشارکت زمینه برابره شي.»[1]

افغانانو په ملي یووالي حکومت کې پر خپلو پښو درېدو او ځان‌بسیاینې په ټینګار سره په ملي پروګرامونو کې ثابته کړه چې د خپلو ستونزو مسوول دي او د ستونزو د حل په موخه يې مشري منلې ده. په واقعیت کې «د قانون حاکمیت، د فساد له منځه وړل او د عوایدو ډېرول زموږ ننګونې دي نه د نړیوالو شریکانو».[2] جمهور رئیس په دې اړه وایي: «اصلاحات یوازې د دې لپاره نه دي چې د بهرنیانو مرستې بنې شي؛ پر خپل ځان تکیه زموږ د اقتصاد او حکومتولۍ د فلسفې اصل جوړوي.» له نېکه‌مرغه په دې برخه کې د ملي یووالي حکومت هڅې اغېزناکې دي؛ لکه څرنګه چې د جنېوا کنفرانس[3] ګډه اعلامیه بنيي «د ځان‌بسیاینې پر لور پام وړ ګامونه اخیستل شوي.»[4] د حکومت له پروګرام سره سم باید د هېواد عواید د بدلون لسیزې تر پای وړاندې ۸ میلیارده ډالرو ته ورسېږي. همدارنګه د اماني دورې نابشپړ فصل د بدلون دورې تر پایه بشپړ شي. افغانستان غواړي د احمدشاه بابا له‌خوا د اوسني افغانستان د جوړېدو ۳۰۰م کال (۱۴۲۶ هجري لمریز) په داسې حال کې ونمانځي چې د خپلو خلکو رښتینې «هوساینې» ته رسېدلی وي.

## پ ـ افغانستان ته د پاملرنې او د همکاریو د دوام په اړه د اجماع جوړول

دا چې افغانستان د نړیوالې ټولنې له دیارلس کاله همکاریو وروسته د منزوي کېدو په حال کې و، له دغه وضعیت څخه وتلو عملي او جدي اقداماتو ته اړتیا لرله. له نړیوالو همکارانو سره تعاملات او پر دې ټینګار چې افغانستان او نړیواله ټولنه د نړیوالې ترهګرۍ د ګواښ پر وړاندې په مبارزه کې «شریکان» دي، په لوړه کچه ډېر شو.

په لندن، وارسا، بروکسل او جنېوا نړیوالو کنفرانسونو کې د پیاوړي حضور او هر

۱ د د لوړ پوړي پلاوي (سام) په ناسته کې د جمهوررئیس محمد اشرف غني وینا، د ۱۳۹۴ د وږي ۱۵مه.
۲ په سام ناسته کې د جمهوررئیس له ویناوو څخه، ۱۳۹۶ د تلې ۱۳مه.
۳ د ۱۳۹۷ د لېندۍ ۷ مه.
۴ د جنېوا کنفرانس ګډه اعلامیه، ۳۶مه ماده.

اړخيزو پروګرامونو وړاندې کول؛ د ريکا او آسيا زړه پروسو له سيمه‌ييزو نوښتونو اغېزناکه استفاده او په همدې حال کې د کابل پروسې جوړول؛ بېلابېلو هېوادونو ته د جمهوررئيس له ۷۰ ډېر او د اجرائيه رئيس لسګونه سفرونه؛ په بريالۍ توګه د جګ‌پوړي پلاوي (SOM) او د څارنې او همغږۍ ګډ بورډ (JCMB) د ناستو جوړول؛ له هېواده بهر په ځانګړي ډول په ملګرو ملتونو کې د استازوليو اغېزناک فعاليت؛ په مهمو نړيوالو کنفرانسونو لکه مونيخ امنيتي کنفرانس، د اسلامي همکاريو او شانګهای همکاريو سازمان په کنفرانسونو کې د رايو شريکول؛ د سوېلي آسيا لپاره د امريکا متحده ايالاتو د تګلارې په جوړولو کې د اغېزناکو نظرونو او ليدلورو وړاندې کول؛ ټول د دې لامل شول چې افغانستان ته د پاملرنې او د همکاريو د دوام په اړه عمومي اجماع جوړه شي.

همدارنګه د افغانستان د لومړيتوب لرونکو ملي پروګرامونو د پلي کولو ملاتړ وشو[1] او د اقتصاد، سياست او امنيت په برخه کې د افغانستان په اړه سيمه‌ييزه همږالنه پياوړې شوه.

«ابتکاري تمويلي پروګرامونه لکه له اروپايي ټولنې سره «د دولت‌جوړونې تړون» له امريکا متحدو ايالتونو سره «نوی پراختيايي ګډون» او «د افغانستان د بيارغونې د وجهي صندوق پروګرام» يا ARTF وښوده چې په ملي بوديجه کې د ملاتړ پروګرامونه په مناسب ډول جوړ شوي او د اصلاحاتو راوستو او هغو پانګونو لامل کېدای شي چې په کلکه ورته اړتيا ده».[2]

حکومت په دې دوره کې نه يوازې افغانستان له انزوا بهر کړ؛ بلکې د ترهګرو ملاتړي يې هم له نړيوال ليده څنډې ته کړل.

## ت ـ د حکومتولۍ د فرهنګ بدلون

له جګړې او اداري ګډوډيو اغېزمن نظام، له يوې خوا د واکمنې حکومتولۍ له فرهنګ څخه د خلکو د ناخوښۍ او له بلې خوا کارکوونکو ته په اداري اجراآتو کې د ستونزو رامنځته کېدو لامل شوی. په وروستيو کلونو کې د حکومتولۍ د فرهنګ بدلون په دوو برخو وېشلای شو:

- دين‌محوري، ځوانانو ته پاملرنه، د حکومت خدمات‌محوره کېدل، خلک‌محوري، مشوره، د بيان آزادي، مشارکت، د قربانيانو او حساب‌ورکولو

---

۱ د بروکسل د ناستې د پای اعلاميه، ۱۳۹۵ د تلې ۱۳مه او ۱۴مه.
۲ په سام ناسته کې ولسمشر، ۱۳۹٦ د تلې ۱۳مه.

قدرداني، هغه **ګډ ارزښتونه** دي، چې حکومت په کلکه هڅه کړې د حکومتولۍ په فرهنګ کې يې پياوړي او پابندي ورته ډېره کړي.

- د شوراګانو جوړول، د لومړيتوب لرونکو پروګرامونو جوړول او پلي کول، په دولت کې د وزارتونو ترمنځ مشارکت، د هر اړخيزو پروګرامونو جوړول او پروګرام‌محوره فعاليت، انډوليزه وده، د وزارتونو او ولايتونو د اړيکو ټينګول، ښاروالیو ته تشويقي بوديجه، مکافات او مجازات، د خلکو پرمخ د ارګ د دروازې پرانيستل، ولايتونو ته د چارواکو پرله‌پسې سفرونه چې له جملې يې د جمهوررئيس شاوخوا ۷۰ سفرونه د يادولو وړ دي، د ملي کنفرانسونو جوړول، د حکومت څو اړخيز فعاليت (د امنيتي کړکېچ په شتون کې د پرمختيايي پروګرامونو پر مخ وړل)، په بېلابېلو برخو کې له نړيوالو تجربو ګټه اخيستل، لکه د آذربايجان او ترکيې د انکشافي بوديجې لګول او د سولې د ۱۰۰ هوکړه‌ليکونو مطالعه، د خلکو او ځوکې له سياسي برمتې سره مبارزه، لويې **مديريتي کړنلارې** دي چې د حکومت په کاري پلان کې دي.

## ث ـ دولت جوړونه

د ملي يووالي حکومت په دوره کې دولت جوړونه په اداري جوړولو، اصلاحاتو راوستلو، د پروګرامونو او اسنادو جوړولو او انساني ځواک څلورو برخو چورلېدله.

**اداري جوړول**، دغه لړۍ د جمهور رئيس له دفتره پيل شوه او د جمهور رئيس صلاحيتونه د شخص پرځای د جمهوري رياست په اداره کې تنظيم شول. همدارنګه د ادارو د جوړښت اصلاحات د ادارو په ادغام او تفکيک سره وشول؛ د بېلګې په توګه پوليسو ته اشاره کولی شو چې په قانون نافذولو برخه کې د هغوی پر اصلي دندې تمرکز شوی. له بل پلوه، د هرې قوې د فعاليت پر خپلواکۍ ټينګار شوی. په حکومتي چارو کې د پارلمان او د پارلمان په چارو کې د حکومت مداخله نه کول، د قضا خپلواکي او د هېواد د عدلي او قضايي سيستم باوري کول، د ولايتونو او ولسواليو د څارنوالانو ګومارل، د خلکو د استازولۍ او پر حکومت د څارنې او تقنين په موخه د ملي شورا پر دندو ټينګار، له دې جملې څخه دي.

له فساد سره د پراخې مبارزې له لارې اصلاحات، پر فساد د تورن په لوړه کچه محاکمه کې نه تحمل او د عدلي او قضايي مرکز جوړول، د ملي تدارکاتو ښه‌والی، عدلي او قضايي اصلاحات او د ځينو څارنوالانو او قاضيانو لرې کول، له اداري فساد سره د مبارزې د ملي تګلارې جوړول او پلي کول او بربښنايي

حکومتولي پراخول د اصلاحاتو بېلګې دي. په دولت‌جوړونه کې بله پام‌وړ برخه، مالي خپلواکي ده. په بودیجه جوړولو کې اصلاحات، له ملي لومړیتوبونو سره سم د بودیجې همغږي کول، د عایداتي سرچینو پراخوالی او د عوایدو راټولولو ښه‌والی له دغو اقداماتو څخه دي.

**تقنیني او کاري سندونه** د دولت‌جوړونې لویه برخه جوړوي. په دې دوره کې شاوخوا ۴۰۰ تقنیني سندونه نافذ شوي دي. دغه راز د لار نقشو، ستراتیژیو او لومړیتوب لرونکو ملي پروګرامونو په جوړولو سره، د ادارو کلیدي دندې روښانه شوې دي.

**د حکومت انساني ځواک** له درېیو لارو ډېر بدل شوی: هغه نسلي بدلون چې د ځوان‌پالنې سیاست په خپلولو او همدارنګه په دولتي ګومارنو کې د اصلاح او تحرک په پایله کې رامنځته شوی؛ د ښځو د سیاسي او اداري ونډې اسانول؛ او د غیر نظامي بستونو ملکي کول او د تقاعد او ترفېعاتو د اجرا سیاست. دغه کړنلارې د تخصص ګرایۍ او همدارنګه په ادارو کې د جوړښتي بېلابېل‌والي د زمینې برابرېدو لامل شوې دي.

په سیاسي، اداري او اقتصادي برخو کې **د ښځو مشارکت** د حکومت پام‌وړ کړنه ده. د حکومتولۍ لوړو کچو ته د ښځو د لار موندنې لپاره پراخې پالیسۍ جوړې شوې او په ګومارنو او د خوندي کاري فضا له ځانګړو امتیازونو برخمنې شوې دي. د ټولنې په اقتصادي وده کې د ښځو د رول پراخولو او د ښځو د پیاوړتیا لپاره د فرصتونو رامنځته کېدو ترڅنګ، د ټولنې د دغه قشر د متشبثینو بې‌سارې ملاتړ شوی. اوس‌مهال افغان مېرمنې د خپل ځان استازولي په خپله کوي.

## ج ـ ملت جوړونه

**اساسي قانون** د ټولو چارو په سر کې دی او د ملي اجماع او وګړو د برابرۍ ښکارندويي کوي. څکه نو، د ملت‌جوړونې په پروسه کې اساسي قانون ته درناوی، عمل پرې کول او له نورو تقنیني اسنادو سره د هغه د چوکاټ بشپړول مهم رول لري، چې د ملي یووالي حکومت په دې برخه کې ډېره هڅه کړې.

**د ملي هویت** او ملت جوړونې پر اساساتو بېلابېل بحثونه او سمینارونه شوي او په لوړه دولتي کچه فرهنګي نندارتونونه جوړ شوي دي.

د لږکیو[۱] **فرهنګي مصداقونه** د ټولنې د ټولو برخو د ګډو فرهنګي شتمنیو د برخې په توګه په پام کې نیول شوي. ازبکي ژبې ته تر بل هر وخت ډېر پام شوی او د افغانستان د تاریخي مشاهیرو او ویاړونو په اړه ډېر علمي سمینارونه جوړ شوي چې د خلکو د اسلامي او افغاني هویت ځرګندونه کوي.

په عزت سره ببرته هېواد ته د افغان کډوالو پر راتګ سره د افغانستان **د ملت بشپړول** د ملي یووالي حکومت له لویو سیاستونو څخه دي.

## چ - بازار جوړونه

«په داسې هېواد کې چې خپلې اقتصادي ګټې د آزاد بازار په رقابتي اقتصاد کې لټوي، ځینې مخکې شرطونه شته چې د بریالیتوب په موخه باید لومړی هغوی ته پام وشي. شرکتونه داسې ځرګندو او د وړاندوېینې وړ مقرراتو ته اړ دي چې له مخې یې د بازار لوبولو اصول ځرګندېږي. په همدې حال کې، دوی یوې منظمې او ځواکمنې کاري قوې، د پراختیا په موخه مالي سرچینو ته لاسرسی او همداراز داسې دولت ته اړتیا لري چې پر بشپړې بې‌طرفۍ سره د قراردادونو چارې ترسره کړي.»[۲] افغانستان دا ډول مارکېټ نه درلود او لازمه ده چې جوړ شي. د افغانستان د بازار جوړول او د افغانستان لپاره د بازار جوړول، د ملي یووالي حکومت له لویو هڅو څخه دي، چې له نېکه‌مرغه پایله یې د داخلي او بهرنیو پانګو راجلبول، د ارزښت د لړۍ جوړول، محصولاتو ته بازارموندنه، د تولیداتو او صادراتو د کچې وده، د لاسرسي وړ بازارونو بېلابېل‌والی، د ځمکني او هوایي ټرانزیټ اسانتیاوې، د سیمې بندرونو ته لاسرسی او په پای کې د سوداګرۍ او کار وده ده.

## ح - سوله

د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ له اسلامي حزب سره د سولې بریالۍ هوکړه‌لیک، له افغان طالبانو سره د درې‌ورځنۍ اوربند تطبیق او د سولې خبرو اترو ته د طالبانو حاضرېدل، سولې ته د رسېدو لپاره ظرفیت او سیاسي اراده ځرګندوي. حکومت د سولې په برخه کې له نړیوالو لوبغاړو سره د مشورې او همکارۍ د هرکلي له لارې د سولې لار نقشې د جوړېدو، له جګړې د اسلامي مشروعیت لرې کولو او د طالبانو پر ملاتړو په دیپلوماتیکو فشارونو سره د سولې له لارې د امنیت او آرامۍ د هیلو په رښتیني کولو کې بریالۍ عمل کړی.

---

۱ لږکي (قلیتونه)

۲ د لوړرتبه پلاوي (سام) په ناسته کې د جمهوررئیس غني وینا، د ۱۳۹۴ د وږي ۱۵مه.

د ټولنيز عدالت پر بنسټ د تل‌پاتې سولې د تحقق لپاره حکومت درې مهمې مؤلفې جوړې کړې چې په دې برخه کې يې هڅه کړې او د هغو تر تحقق پورې به دوام ولري: «له طالبانو سره سوله: پرېږدئ چې رايه د مرمۍ ځای ونيسي؛ له پاکستان سره سوله: نيت، اراده او ظرفيت ثابت شي او پاکستان راتلونکي ته متوجه شي، له دوه‌اړخيزو ګټو او دوه‌اړخيزې هوساينې ډک راتلونکی؛ له پولې هاخوا جرمي شبکې: د هغو هېوادونو مسووليت مشخص شي چې وګړي يې دربېيم هېواد ته ځي او جګړه کوي او د مشترکو مسووليتونو له مخې له موږ سره مرسته وکړي.»[1]

## خ ـ په بېلابېلو اړخونو کې د مشارکت پراخوالی

د مشارکت په اړه د حکومت پراخ ليدلوری داسې مثلث دی چې خصوصي سکتور، خلک او مدني ټولنه او دولت يې ضلعې دي. له دې مفکورې سره چې «واک له فعالې ونډې او د افغانستان د خلکو له مشارکته سرچينه اخلي»[2] حکومت د مشارکت د ټينګښت لپاره بېلابېل مېکانېزمونه او طريقې پيل کړې دي. د لسګونو سمپوزيمونو، کنفرانسونو او ملي سمينارونو جوړول؛ د عامه – خصوصي مشارکت د پاليسۍ پر مخ وړل؛ مشورتي ناستې او د عالي شوراګانو له لارې په پرېکړو کې د مشارکت زمينه برابرول هغه طريقه ده چې د خصوصي سکتور، وګړو، مدني ټولنې او د ټولنې د بېلابېلو اقشارو لکه علماوو، ښځو او ځوانانو مشارکت تضمينوي. د مشارکت د فرصتونو په رامنځته کېدو سره دا مهال جوماتونه د مدني ټولنې د اغېزناک بنسټ په توګه کار کوي؛ علما د بدلونونو له حاشيو څخه صحنې ته راوستل شوي؛ په ملي پرېکړو کې د ګوندونو او متنفذينو رول پياوړی شوی؛ عام وګړي د ملي پروګرامونو لکه «ولسي تړون» په پلي کولو کې ونډه لري؛ ښځې د خپل ځان استازولي کوي؛ د ځوانانو مشارکت د پخوا په پرتله ډېر پراخ شوی او د مدني ټولنې د بنسټونو راپورونو ته مسوولين پاملرنه کوي.

---

۱ د اسلامي همکاريو (OIC) سازمان د مشرانو په فوق‌العاده ناسته کې د جمهوررئيس وينا، ۱۳۹۶ د لېندۍ ۲۲مه.
۲ جمهوررئيس غني، د ۱۳۹۷ د وري لومړۍ.

*لومړی جدول:*

*د ملي یووالي حکومت په دوره کې په لوړه کچه ملي کنفرانسونه او علمي سمینارونه*

| شمېره | موضوع | سرلیک | د جوړېدو نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | امنیت | د ملي امنیت عمومي ریاست د موظفینو سراسري سمینار | ۱۳۹۵ د لړم له ۲۱م تر۲۳مه |
| ۲ | امنیت | د امنیتي او دفاعي ارګانونو د مشرۍ، د ملي اردو، ملي پولیسو، ملي امنیت او غوڅ ملاتړ قوماندانۍ د قوماندانانو ګډ کنفرانس | د ۱۳۹۵ د لړم ۱۱م |
| ۳ | امنیت | «د توریزم پر وړاندې د ترهګرۍ ګواښ» علمي- څېړنیز سمینار | ۱۳۹٦ د زمري لومړی |
| ۴ | امنیت | د آسیا د زړه په سیمه کې د تروریزم او بنسټپالنې د مبارزې په اړه سمینار | ۱۳۹۴ د لیندۍ ۱۱مه |
| ۵ | حکومتولي | د ولسوالانو لومړی ملي کنفرانس: د محلي ادارو لپاره د اداري اصلاحاتو د لارې نقشه | ۱۳۹۷ د تلې له ۱۸مې تر۲۱مه |
| ٦ | حکومتولي | د ولسوالانو دویم ملي کنفرانس: د محلي حکومتولۍ ملي خبرې اترې | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۰مې او ۲۱مه |
| ۷ | حکومتولي | د ښاروالانو دویم ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د وږي ۷ مه |
| ۸ | حکومتولي | د ښاروالانو درېیم ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د تلې له ۹مې تر ۱۲مه |
| ۹ | حکومتولي | د اطلاع رسونې د پیاوړي کولو ملي کنفرانس: د خلکو د باور جلبول؛ د اطلاع رسونې پیاوړي کول او د ښې حکومتولۍ د فرهنګ ترویج | ۱۳۹۵ د غویي له ۱۳مې تر ۱۵مه |
| ۱۰ | حکومتولي | په سیمه‌ییزه کچه د اطلاع رسونې د پیاوړي کولو کنفرانس | ۱۳۹٦ د تلې له ۱۵مې تر۱۷مه |
| ۱۱ | حکومتولي | د ارتقا لپاره د مشارکت ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د چنګاښ ۱۹مه |
| ۱۲ | حکومتولي | په سیمه‌ییزه حکومتولۍ کې د ښځو د ګډون ملي کنفرانس | ۱۳۹٦ د لیندۍ ۱۹مه |
| ۱۳ | حکومتولي | لومړی مناظره «وګړی او ارګ» | ۱۳۹٦ د چنګاښ لومړی |
| ۱۴ | حکومتولي | دویمه مناظره «وګړی او ارګ» | ۱۳۹٦ د زمري ۱۹م |
| ۱۵ | حکومتولي | درېیمه مناظره «وګړی او ارګ» | ۱۳۹۷ د چنګاښ ۱۴مه |

| شمېره | موضوع | سرليک | د جوړېدو نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱٦ | حکومتولي | د ځوانانو د ملي يووالي او د افغانستان د نوي مشارکت بهير د پياوړتيا ګډ پروګرام | ۱۳۹٦ د سلواغې ۹مه |
| ۱۷ | ښځې | له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د غويي له ۱۵مې تر۱۷مه |
| ۱۸ | ښځې | د افغانستان د ښځو دريېم سرتاسري سمپوزيم: په افغاني ټولنه کې د ښځو ونډه او پياوړتيا | ۱۳۹۵ د غويي له ۳۱ مې د غبرګولي تر ۲ مه |
| ۱۹ | ښځې | د افغانستان د ښځو څلورم سرتاسري سمپوزيم: افغان ښځې د سولې پيغام راوړونکې | ۱۳۹٦ د غويي له ۲۵مې تر ۲۷مه |
| ۲۰ | ښځې | د افغانستان د ښځو پنځم سرتاسري سيمپوزيم: مسوول ښاروند او ځواب ويونکی حکومت، سالمه ټولنه | ۱۳۹۷ د غويي له ۱۷مې تر ۱۹مه |
| ۲۱ | ښځې | د افغانستان د دوامداره پرمختيايي موخو په رڼا کې د ښځو د پياوړتيا ملي کنفرانس | ۱۳۹٦ د ليندۍ ۷مې او ۸ مه |
| ۲۲ | ښځې | د متشبثو ښځو ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د لړم ۲۸مې او ۲۹مه |
| ۲۳ | ښځې | په کرنه کې د ښځو د پياوړې کولو لومړی ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د ليندۍ له ۱۳مې تر ۱۵مه |
| ۲۴ | ښځې | په کرنه کې د ښځو د پياوړې کولو دويم ملي کنفرانس | ۱۳۹٦ د سلواغې ۲۱مې |
| ۲۵ | ښځې | د اسلام له ليده د افغان ښځو د ورتياوو د ودې پروګرام | ۱۳۹۴ د کب ۱۷مې |
| ۲٦ | ښځې | «د ښځو لپاره په لوړو دولتي مقامونو کې د متحولې رهبرۍ» پروګرام | ۱۳۹۵ د تلې ۲۹مې |
| ۲۷ | زېربنا | دويم ښاري ملي کنفرانس | ۱۳۹۴ د لړم ۱۷مه او ۱۸مه |
| ۲۸ | زېربنا | دريېم ښاري ملي کنفرانس: د خوندي او پايدارو ښارونو په لوري | ۱۳۹۵ د لړم ۱۷مه او ۱۸مه |
| ۲۹ | زېربنا | څلورم ملي ښاري کنفرانس: د پايدارو ښارونو په لور | ۱۳۹٦ د لړم ۲۷مه |
| ۳۰ | زېربنا | پنځم ملي ښاري کنفرانس: ښار، د پراختيا او بشپړتيا بستر | ۱۳۹۷ د مرغومي ۳مه |
| ۳۱ | زېربنا | د اوبو څلورم ملي کنفرانس: اوبه او تلپاتې پرمختيا | ۱۳۹۵ د کب له ۱۵مې تر ۱۷مه |

| شمېره | موضوع | سرليک | د جوړېدو نېټه |
|---|---|---|---|
| ۳۲ | زېربنا | د ځمکې ملي کنفرانس: د ځمکو د استملاک قانون د پشنهادي تعديلاتو په اړه بحث | ۱۳۹۴ د تلې ۲۳مه |
| ۳۳ | زېربنا | د افغانستان د پايدارې انرژۍ اونۍ کنفرانس: پايداره انرژي، د پايدارې پراختيا زېربنا | ۱۳۹۶ د غويي ۲۱مه |
| ۳۴ | زېربنا | د افغانستان د ځمک لاندې اوبو ملي کنفرانس | ۱۳۹۴ د غبرګولي ۱۷ او ۱۸ مه |
| ۳۵ | زېربنا | د ځمکنې ترانسپورت ملي کنفرانس | ۱۳۹۴ د زمرې ۲۴مه |
| ۳۶ | زېربنا | د تير (TIR) سيستم د پوهاوي ملي کنفرانس | ۱۳۹۶ د غويي ۲۰مه |
| ۳۷ | زېربنا | د افغانستان د اوبو ملي کنفرانس | ۱۳۹۶ د لړم ۲۴مه |
| ۳۸ | سوله | د سولې په اړه د مدني ټولنې، ځوانانو او ښځو ملي کنفرانس | ۱۳۹۶ د مرغومي ۲۷مه |
| ۳۹ | سوله | د قومي، جهادي مشرانو او ولايتي شوراګانو له استازو سره د سولې مشورتي ملي کنفرانس | ۱۳۹۶ د کب ۲يمه |
| ۴۰ | سوله | د سولې په اړه د مدني ټولنې، ځوانانو او ښځو مشورتي ملي کنفرانس | ۱۳۹۶ د مرغومي ۲۷مه |
| ۴۱ | سوله | د سولې ملي مشورتي ناسته | ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۲مه |
| ۴۲ | سوله | د سولې او ځوانانو ملي مشورتي کنفرانس | ۱۳۹۷ د سلواغې ۱۰مه |
| ۴۳ | سوله | د سولې په اړه د افغانستان د خلکو د خبرو اترو ملي کنفرانس | ۱۳۹۳ د مرغومي ۲۵مه |
| ۴۴ | سوله | د سولې ملي مشورتي ناسته | ۱۳۹۶ د مرغومي ۵مه |
| ۴۵ | سوله | د سولې ملي مشورتي کنفرانس | ۱۳۹۶ د مرغومي ۲۷مه |
| ۴۶ | عدالت | د افغانستان د اسلامي جمهوريت د سترې محکمې عالي قضايي سمينار: قضا، د قانون د حاکميت او د عدالت د ټينګښت نښه | ۱۳۹۵ د کب له ۲۲مې تر ۲۵مه |
| ۴۷ | عدالت | د بشري حقونو له مدافعانو څخه د ملاتړ ملي کنفرانس | ۱۳۹۵ د ليندۍ ۲۸مه او ۲۹مه |
| ۴۸ | عدالت | د افغانستان د څارنوالانو څلورم سرتاسري کنفرانس | ۱۳۹۵ د لړم ۱۰مه |

| شمېره | موضوع | سرلیک | د جوړېدو نېټه |
|---|---|---|---|
| ۴۹ | عدالت | د افغانستان د څارنوالانو پنځم سرتاسري کنفرانس | ۱۳۹٦ د لړم ۲۱مه |
| ۵۰ | فرهنګ | د نابغه خوشحال ختک څلور ورځنی نړیوال علمي- څېړنیز سمینار | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۹مه |
| ۵۱ | فرهنګ | د احمدعلي کهزاد د نمانځنې نړیوال علمي- څېړنیز سمینار | ۱۳۹۸ د لړم ۲۸مه |
| ۵۲ | فرهنګ | د شهید محمد موسی شفیق د شخصیت او کارنامو د نمانځنې په وياړ نړیوال سمینار | ۱۳۹۵ د مرغومي ۲۱مه |
| ۵۳ | فرهنګ | د پوهاند ډاکتر سید بهاءالدین مجروح سمینار | ۱۳۹٦ د غويي ۱۳مه |
| ۵۴ | فرهنګ | د ابوريحان البيروني د شخصيت او علمي کارکړنو د نمانځنې نړیوال سمینار | د وږي ۱۵مه۱۳۹۷ |
| ۵۵ | فرهنګ | د علامه فیض محمد کاتب د شپږاتیایم تلین د نمانځنې علمي سمینار | ۱۳۹۵ د سلواغې ۲۱مه |
| ۵٦ | فرهنګ | د امام اعظم ابوحنیفه سمینار | ۱۳۹۷ د غويي ۲۴مه |
| ۵۷ | فرهنګ | د امیر علي شېر نوایي نړیوال سمپوزیم | ۱۳۹۵ د وږي ۲۳مه |
| ۵۸ | فساد | «د اداري فساد پر وړاندې د منبر غږ» کنفرانس | ۱۳۹۷ د زمري ۷مه |
| ۵۹ | فساد | د افغانستان په دفاعي او امنیتي سکتور کې له اداري فساد سره د مبارزې ګډ کنفرانس | ۱۳۹٦ د زمري ۱۷مه |
| ٦۰ | فساد | د علماوو ملي کنفرانس: اسلام او له اداري فساد سره مبارزه | ۱۳۹۴ د وږي ۱۰مه |
| ٦۱ | فساد | د ځوانانو په ګډون له بدلون او اصلاحاتو د ملاتړ او عدالت غوښتنې جرګه | ۱۳۹۴ د لړم ۲۵ مه |
| ٦۲ | بېوزلي | د کار ملي کنفرانس | ۱۳۹۷ د غويي ۱۰مه او ۱۱مه |
| ٦۳ | بېوزلي | د غیر دولتي موسسو ملي کنفرانس: په انډولیز پرمختګ او د بېوزلۍ په کمښت کې د موسسو رول او ارزښت | ۱۳۹٦ د کب ۲۰مه او ۲۱مه |
| ٦۴ | بېوزلي | د کلیو د پراختیایي شوراګانو پنځم ملي مشورتي کنفرانس | ۱۳۹۴ د لړم ۱۰مه |

| شمېره | موضوع | سرلیک | د جوړېدو نېټه |
| --- | --- | --- | --- |
| ٦٥ | ببوزلي | د کرنې د رواجولو او پرمختیا درېیم ملي کنفرانس | ۱۳۹۳ د کب ۳مه |
| ٦٦ | ببوزلي | د کرنې د رواجولو او پرمختیا څلورم ملي کنفرانس | ۱۳۹۴ د کب لومړۍ |
| ٦٧ | ببوزلي | د افغانستان د کرنیزو کوپراتیفونو لومړنی ملي کنفرانس | ۱۳۹۵ د وږي له ۱۵مې تر ۱۷مه |
| ٦٨ | پوهنه | د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ لسم ملي کنفرانس | ۱۳۹۳ د لیندۍ ۲٦مه |
| ٦٩ | پوهنه | د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ یوولسم ملي کنفرانس: پرمختګونه او ننګونې | ۱۳۹۴ د لیندۍ ۲۴مه |
| ۷۰ | پوهنه | د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ دوولسم ملي کنفرانس: د معلوماتي ټکنالوژۍ سایبري امنیت | ۱۳۹۵ د لیندۍ ۲۹مه |
| ۷۱ | پوهنه | د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ دیارلسم ملي کنفرانس: د معلوماتي ټکنالوژۍ په خدمتونو سره د مدیریتي سیستمونو نوي کول او یو ځای کول | ۱۳۹٦ د لیندۍ ۲۷مه |
| ۷۲ | پوهنه | د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ څوارلسم ملي کنفرانس: د افغانستان لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ ستراتیژیک پلان | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲٦مه |
| ۷۳ | پوهنه | د پوهنې لومړنی ملي سمپوزیم | ۱۳۹۷ د مرغومي ۵مه او ٦مه |
| ۷۴ | کډوالي | د کډوالیو د مدیریت تخصصي سمپوزیم: د نړۍ د هېوادونو د غوره تجربو درسونه | ۱۳۹۷ د سلواغي ۸مه |

خومره لاره مو وهلې؟

# ۱ بهرنۍ سیاست

۲ اقتصادي انکشاف

۳ سوله

۴ امنیت

۵ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا

۶ ټولنیز انکشاف

*د ملي یووالي حکومت په دوره کې د افغانستان د بهرني سیاست پروګرامونه هدفمند، نتیجه ورکوونکي او د افغانستان د اساسي قانون د اصولو پر بنسټ جوړ او تطبیق شوي دي. د افغانستان په بهرني سیاست کې د سیمه‌ییزې همپالنې، اقتصاد محوری او د پایلو پر بنسټ کړنلارې په ملي یووالي حکومت کې له ګاونډیانو، سیمې او نړۍ سره د اړیکو د نښه‌والي لامل شوي دي او په سیمه کې یې د افغانستان ځای تثبیت او پیاوړی کړی دی. افغانستان په نړیوالو او سیمه‌ییزو غونډو کې په فعال او پلان شوي حضور سره وکولای شول د هغو موخو ترلاسه کولو لپاره د هېوادونو ملاتړ جلب کړي چې په بهرني سیاست کې یې لټوي. همدارنګه د افغانستان امنیت، ثبات او هوساینې ته یې نړیوال پام را واړاوه، پر دغه موضوع یې سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع جوړه کړه او په دې برخه کې یې د نړیوالو همکارانو لا ډېر خوځښت رامنځته کړ.*

د بهرني سیاست د بنسټونو جوړول

په نړیواله ټولنه کې افغانستان ته باور ورکول

د سیمې د نښلوونکي لویې لارې په توګه د افغانستان د مقام تثبیت

د ترانزېټي ـ سوداګریز محدودیت ماتول

د افغانستان په اړه له لاسته‌راوړنو د ډکو سیمه‌ییزو کنفرانسونو جوړول

«د کابل پروسې، سولې او امنیتي همکاریو» طرحه کول او عملي کول

نړۍ ته د ترهګرۍ د ځالو وربېژندل او د هغوی پر وړاندې د نړیوالې اجماع جوړول

د افغانستان د سولې او امنیت لپاره د نړیوال ملاتړ راجلبول

له اسلامي هېوادونو سره د دوستانه او ژورو اړیکو جوړول

د افغانستان نړیوال سیاسي او مالي ملاتړ

سید ضیا دانش او سید حسن عالمي

## الف ـ د بهرني سیاست د بنسټونو جوړول

په ملي یووالي حکومت کې د افغانستان بهرنی سیاست د افغانستان په اساسي قانون کې د شرحه شوو اصولو پر بنسټ جوړ شو. حکومت په بهرني سیاست کې پنځه کاري کړۍ رامنځته کړې او له هېوادونو سره د همکارۍ چوکاټ یې منظم کړ، تر څو په عملي ډول د بهرني سیاست خپلواکي پیاوړې کړي.

**د بهرني سیاست د پنځو کړیو جوړول:** جمهوررئیس محمد اشرف غني بهرنی سیاست په پنځو کړیو کې تنظیم کړی. لومړۍ کړۍ، شپږ ګاونډي هېوادونه؛ دویمه کړۍ، اسلامي نړۍ؛ دریېمه کړۍ، شمالي امریکا، اروپا، جاپان، استرالیا او د ناټو او آیساف غړي هېوادونه؛ څلورمه کړۍ، آسیا او پنځمه کړۍ نړیوال پرمختیایي سازمانونه، د ملګرو ملتونو سازمان، څو ملیتي شرکتونه، نړیواله مدني ټولنه او نور غیر حکومتي سازمانونه دي. د دغو کړیو جوړول د دې لامل شوي چې د ډیپلوماسۍ دستګاه خپل کارونه د دغو کړیو له مخې جوړ او وثاري، منسجم کار وکړي او لومړیتوبونو ته په کتو سره په پنځو واړو کړیو کې اړیکې پراخې شي.

**د بهرني سیاست خپلواکي:** حکومت په بهرني سیاست کې د خپلواکۍ پر اصل ځانګړې ټینګار کړی. له همدې امله یې د خپل کار پر لومړۍ ورځ له نړیوالو قدرتونو سره د دوه‌اړخیزو همکاریو ځرنګوالي ته عملي بڼه ورکړه او له ستراتیژیکو شریکانو سره یې امنیتي هوکړه‌لیکونه لاس‌لیک کړل. حکومت په همدې برخه کې او همدارنګه پر بهرنیو مرستو د تکیې راکمولو په موخه د ملي عوایدو ډېرولو ته بې‌مخینې پاملرنه وکړه چې پایله یې په کلنۍ ملي بودیجه کې د ملي عوایدو د ونډې ډېروالی و.[1] له بل پلوه افغانستان په نړیوالو پېښو لکه د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان[2] (OIC) د مشرانو په فوق العاده ناسته کې د فلسطین او همدارنګه په چابهار بندر کې د ایران پر وړاندې د اقتصادي بندیزونو د نرمښت په برخه کې رول ولوباوه[3] او د افغانانو پر وړاندې یې د سي.آی. اې ځواکونو د ناوړه چلند د راپور په اړه دریځ[4] ونیو. د افغانستان په بهرني سیاست کې د عمل خپلواکي د دې لامل شوه چې د افغانستان پلاوی په نړیوالو ناستو کې د یوه خپلواک هېواد د مقام په توګه ګډون وکړي.

---

١ دلته دې مراجعه وشي: دویمه برخه، اقتصادي انکشاف
٢ د ١٣٩٦ د لېندۍ ٢٢ مه، استانبول، ترکیه
٣ د ١٣٩٧ د لړم ١٥مه
٤ د سي.آی.اې له لوري د بندیانو د ربړونو په اړه د جمهور رئیس غني مطبوعاتي کنفرانس، د ١٣٩٣ کال د لېندۍ ١٩مه

**د سیمې او نړۍ په کچه د اړیکو او همکاریو پراختیا:** د ۳۰۴ نړیوالو سندونو لاس‌لیکول چې ۸۲ یې په «رسمي جریده» کې هم خپاره شوي، له لرې او نږدې هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا لپاره د افغانستان هڅې ښیي. همدارنګه د دوه‌اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو او له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د ښو اړیکو د پراختیا له امله حکومت د سیاست، امنیت، اقتصاد، ټولنې او قانون د حاکمیت په برخه کې پیاوړې شوی دی.

له بل لوري جمهور رئیس په دغه موده کې په نړیوال نظام کې د یوه خپلواک هېواد په توګه د افغانستان د مقام تثبیتولو لپاره ۷۱ بهرني سفرونه کړي.

*دویم جدول:*

*د تصویب شوو او په رسمي جریده کې د خپرو شوو نړیوالو اسنادو لېست ۱۳۹۳ تله ـ ۱۳۹۷ سلواغه*

| شمېره | نوم |
|---|---|
| ۱ | د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د تأسیس په هکله د مراکش د هوکړه‌لیک د تعدیل پروتوکول منلو سند |
| ۲ | د سارک د پرمختیایي صندوق د منشور د پنځمې مادې تعدیل |
| ۳ | د ربړونې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلندونو او مجازاتو د منع کنوانسیون |
| ۴ | د مرکزي آسیا د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو انستیټیوټ د تأسیس هوکړه‌لیک |
| ۵ | د اقتصادي همکاریو سازمان د پارلماني ټولنې (PAECO) منشور |
| ٦ | د بین‌المللي جزایي محکمې اساسنامه (د روم اساسنامه) د بین‌المللي جزایي محکمې د تأسیس په اړوند د ملګرو ملتونو سازمان د تام‌الاختیارو استازو ډیپلوماتیک کنفرانس |
| ۷ | د ملکي هوايي چلند د اسلامي شورا اساسنامه |
| ۸ | د افغانستان اسلامي جمهوریت او د هند جمهوریت ترمنځ د ابلاغ، احضاریې، قضایي سندونو کمېسیونونو، د احکامو او د حکمیت د تصمیمونو ترسره کولو په اړه په مدني او سوداګریزو مسئلو کې د عدلي او قضایي همکاریو هوکړه‌لیک |
| ۹ | د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت او متحده عربي اماراتو د دولت ترمنځ د نشه‌یي توکو، نشه راوړونکو توکو او د هغو کاربدونکو توکو له ناقانونه سوداګرۍ سره د مبارزې په برخه کې هوکړه‌لیک |
| ۱۰ | د آسیا زیربنایي پانګونې بانک اساسنامه |
| ۱۱ | د افغانستان اسلامي جمهوریت او د ایټالیا جمهوري حکومت ترمنځ له هراته تر چشت‌شریف د ختیځ، غرب دهلېز د بیاروغاونې لپاره د آسانو پورونو د ورکړې، د پورونو هوکړه‌لیک |
| ۱۲ | د ا.ا.ج اړوند د افغانستان برېښنا شرکت او د ترکمنستان انرژۍ وزارت اړوند انرګوا ترکمن ملي شرکت ترمنځ د برېښنا د پېر و پلور قرارداد |
| ۱۳ | د ایکو وترنرۍ کمېسیون اساسنامه |
| ۱۴ | د اسلامي همکاریو سازمان لپاره د مصئونیتونو او امتیازاتو په اړه هوکړه‌لیک |
| ۱۵ | د سوداګرۍ د آسانتیا تړون |

| نوم | شمېره |
|---|---|
| د سیمابو په هکله د میناماتا کنوانسیون | ۱٦ |
| د مهاجرت په برخه کې د همکاریو په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت او سویډن حکومت تر منځ د تفاهم یادښت | ۱۷ |
| چاپي آثارو او سرچینو ته د ړندو، د نظر کمزورو او نورو معلولیت لرونکو وګړو د لاسرسي د آسانولو په اړه د مراکش تړون | ۱۸ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت د کورنیو چارو وزارت د سرحدي پولیسو د عمومي قومانداني او د چین د ولسي جمهوریت د عامه امنیت وزارت د کنټرول ریاست ترمنځ د سرحدي درې اړخیزه اړیکو سیستم د رامنځته کولو پروتوکول | ۱۹ |
| د انرژۍ (برېښنا) په برخه کې د همکاریو لپاره د سارک قرارداد | ۲۰ |
| له صنعتي ملکیتونو د ملاتړ په هکله د پاریس کنوانسیون | ۲۱ |
| د اقلیمي بدلونونو په هکله د ملګرو ملتونو د اډانې د کنوانسیون د پاریس غړیو د یوویشتم کنفرانس هوکړه‌لیک | ۲۲ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت او کروشیا جمهوریت ترمنځ د اوږدمهاله هر اړخیزو همکاریو هوکړه‌لیک | ۲۳ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت او تاجکستان جمهوریت د بهرنیو کارونو وزارت ترمنځ د همکارۍ اړوند پروتوکول | ۲۴ |
| د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د یونان جمهوري دولت ترمنځ د سیاسي استازولۍ رامنځته کېدو په هکله هوکړه‌لیک | ۲۵ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت او د هند جمهوریت ترمنځ د مجرمینو د استرداد هوکړه‌لیک | ۲٦ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت او ازبکستان جمهوریت ترمنځ د مجرمینو د استرداد هوکړه‌لیک | ۲۷ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت او تاجکستان جمهوریت ترمنځ د تورنو د استرداد هوکړه‌لیک | ۲۸ |
| د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت او ترکیې جمهوري حکومت ترمنځ د امنیتي همکاریو هوکړه‌لیک | ۲۹ |
| د اسلامي هېوادونو د مخابراتي اتحادیې اساسنامه | ۳۰ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت، هند جمهوریت او ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ بین‌المللی لېږدونې او ترانزیټ دهلېز جوړولو هوکړه‌لیک (چابهار هوکړه‌لیک) | ۳۱ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت، پاکستان اسلامي جمهوریت او ترکمنستان ترمنځ د تفاهم یادښت مسوده | ۳۲ |
| د سوداګریزو نښو د قانون په هکله د سنګاپور تړون | ۳۳ |
| د علایمو د بین‌المللي ثبت په اړه د مادرید د هوکړه‌لیک اړوند پروتوکول | ۳۴ |
| د اسلامي همکاریو سازمان غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، تخنیکي او سوداګریزو همکاریو په هکله عمومي هوکړه‌لیک | ۳۵ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت د مالیې وزارت او د ترکمنستان جمهوریت د مالیې وزارت ترمنځ د پیسو سپینولو او د تروریزم د تمویل په اړوند د مالي استخباراتو راکړې ورکړې (تبادلې) په اړه د همکاریو د تفاهم یادښت | ۳٦ |
| د افغانستان اسلامي جمهوریت او د چین ولسي جمهوریت ترمنځ د مجرمینو د استرداد معاهده | ۳۷ |

| شمېره | نوم |
|---|---|
| ۳۸ | د ترورېزم، ېېلتون غوښتنې او بنسټپالنې پر وړاندې د همکارۍ په برخه کې د شانگهاي همکاريو سازمان د تروريستي ضد سيمه‌ييز جوړښت او د افغانستان اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو وزارت ترمنځ پروتوکول |
| ۳۹ | د محکومينو د لېږد د استراسبوگ کنوانسيون |
| ۴۰ | G۷+ منشور |
| ۴۱ | د پاريس سند د ادبي او هنري آثارو د ملاتړ په اړه برن کنوانسيون |
| ۴۲ | د ژوند بنيو له کنوانسيون سره ناگويا الحاقي پروتوکول |
| ۴۳ | د افغانستان اسلامي جمهوريت او د روسيې فدراسيون حکومت ترمنځ له افغانستان اسلامي جمهوريت سره د تخنيکي نظامي مرستو په اړه هوکړه‌ليک |
| ۴۴ | له بين‌المللي ترهگرۍ سره د مبارزې لپاره د سلوک د ډول د قواعدو د تولگې د اجراء په هکله (پي ۲٦/۵۹) کنه پرېکړه‌ليک |
| ۴۵ | د سرې مياشتې د بين‌المللي اسلامي کمېسيون رامنځته کېدو هوکړه‌ليک |
| ۴٦ | په جنايي موضوعاتو کې د متقابله مرستو په اړه د سارک کنوانسيون |
| ۴۷ | د طبيعي آفتونو پر وړاندې د بېړني اقدام په هکله د سارک هوکړه‌ليک |
| ۴۸ | د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت او د ترکيې جمهوري حکومت ترمنځ د نغدي بلا عوضه مرستې پلې کېدونکې پروتوکول |
| ۴۹ | د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت او ترکيې جمهوري حکومت ترمنځ د مالي نظامي همکاريو هوکړه‌ليک |
| ۵۰ | له ځينو متعارفو وسلو څخه د گټې اخيستنې د ممنوعيت يا محدوديت کنوانسيون |
| ۵۱ | د وچې، اوبو او هوا له لارې د کډوالو د قاچاق پر ضد پروتوکول |
| ۵۲ | د حکومتونو ترمنځ په وچه کې د احاطه شويو بندرونو هوکړه‌ليک |
| ۵۳ | د غذايي امنيت په چارو کې د اسلامي سازمان اساسنامه |
| ۵۴ | د افغانستان اسلامي دولت او عربي متحده اماراتو د دولت ترمنځ د اوږدمهاله مشارکت او همکاريو سند |
| ۵۵ | په افغانستان کې د يونسکو ملي کمېسيون اساسنامه |
| ۵٦ | د افغانستان اسلامي جمهوريت او د ترکيې جمهوريت ترمنځ د ستراتيژيکې همکارۍ او دوستۍ هوکړه‌ليک |
| ۵۷ | د افغانستان اسلامي جمهوريت او د متحده عربي اماراتو دولت ترمنځ د محکومينو د لېږد په اړه معاهده |
| ۵۸ | افغانستان ته د چين د وړيا نظامي مرستو برابرولو په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د ملي دفاع وزارت او د چين ولسي جمهوريت د ملي دفاع وزارت ترمنځ هوکړه‌ليک |
| ۵۹ | د وسله‌والو شخړو په ترڅ کې له فرهنگي مالونو د ملاتړ لپاره لاهه کنوانسيون ۱۹۵۴ |
| ٦۰ | د وحشي مهاجرو حيواناتو د ډولونو د ساتنې کنوانسيون |
| ٦۱ | د اسلامي همکاريو سازمان منشور |
| ٦۲ | د اقتصادي همکاريو سازمان د تعليمي بنسټ يا (ECO) منشور |
| ٦۳ | د وريښمو چينجيو د روزنې نړيوال کمېسيون جوړولو کنوانسيون |
| ٦۴ | د دريو هېوادونو ترمنځ د سرحدي وصل ټکي په اړه د افغانستان اسلامي جمهوريت، د چين ولسي جمهوريت او تاجکستان جمهوريت ترمنځ هوکړه‌ليک |

| نوم | شمیره |
| --- | --- |
| د ۲۰۱۲ مې په ۱٦ ترسره شوې غونډې کې د افغانستان اسلامي جمهوريت او د المان فدرالي جمهوريت ترمنځ د دوه اړخيزې همکارۍ د هوکړه‌ليک سريزې په وروستي پاراګراف کې تعديل | ٦٥ |
| د انرژۍ نړيوالې همکارۍ لپاره په يوه قانوني چوکاټ کې د انرژۍ تړون او اړوندو اسنادو معاهده | ٦٦ |
| د پايښدونکو عضوي ککړوونکو توکو په اړه د ستاکهولم کنوانسيون | ٦٧ |
| په بين‌المللي سوداګرۍ کې د ځينو خطرناکو کيمياوي توکو او آفت وژونکو توکو لپاره د مخکيني رضايت د اعلان په اړه روټردام کنوانسيون | ٦٨ |
| د افغانستان اسلامي جمهوريت دولت او ډنمارک شاهي دولت تر منځ د ستراتيژيکو همکاريو هوکړه‌ليک | ٦٩ |
| د افغانستان اسلامي جمهوريت او فېنلنډ جمهوريت ترمنځ د همکارۍ هوکړه‌ليک | ۷۰ |
| د افغانستان اسلامي جمهوريت او ناروې شاهي دولت ترمنځ د ستراتيژيکو همکاريو پر سر هوکړه‌ليک | ۷۱ |
| د انسان او په خاصه د ماشومانو او ښځو د قاچاق مخنيوي، کمولو او تعزير په اړه له هېواده بهر د سازمان شويو جرمونو پر خلاف د ملګرو ملتونو سازمان الحاقي کنوانسيون پروتوکول، ۲۰۰۰ | ۷۲ |
| د ژوند ساتنې پروتوکول (کارتاجينا) نايروبي ۲۰۰۰ / ۱۳۷۹ کال | ۷۳ |
| افغانستان اسلامي جمهوريت او د اندونيزيا جمهوريت د حکومتونو ترمنځ د همکارۍ او دوستۍ هوکړه‌ليک | ۷۴ |
| د افغانستان اسلامي جمهوريت او سعودي عربستان شاهي حکومت ترمنځ د هر اړخيزو همکاريو هوکړه‌ليک | ۷۵ |
| د افغانستان اسلامي جمهوريت او شمالي (اتلانتيک) ناټو سازمان ترمنځ د ناټو تر لاربښوونې لاندې د موافقه شويو فعاليتونو پر مخ وړو کې د ناټو ځواکونو او پرسونل د حضور د ډول په اړه قرارداد | ۷٦ |
| د افغانستان اسلامي جمهوريت او امريکا متحده ايالتونو ترمنځ د امنيتي او دفاعي همکاريو قرارداد | ۷۷ |
| د اقليمي بدلونونو کنوانسيون په اړه د کيوټو پروتوکول ۱۹۹۸ ـ ۱۳۷٦ لمريز | ۷۸ |
| د پراختيا په حال کې په وچې پورې د تړلو هېوادونو لپاره د يوه نړيوال څېړنيز بنسټ جوړولو په موخه څو اړخيزه هوکړه‌ليک | ۷۹ |
| د نشه‌يي توکو د يوازينۍ معاهدې له اصلاحي پروتوکول سره د افغانستان اسلامي جمهوريت يو ځای کېدل ـ ۱۹٦۱ / ۱۳۴۰ | ۸۰ |
| د نوي کېدو وړ انرژۍ نړيوال آژانس اساسنامه (ايرينا) | ۸۱ |
| د افغانستان ملي اردو د افسرانو اکاډمۍ ته د بريتانيا شاهي هېواد د وسله والو ځواکونو پرسونل د استنياوو برابرولو په اړه د افغانستان اسلامي جمهوريت، بريتانيا شاهي دودلت او شمالي ايرلنډ ترمنځ د تفاهم يادښت | ۸۲ |

**دریيم جدول:**

*د جمهور رئیس د بهرنيو سفرونو لېست*

| ګڼه | هېواد | هجري نېټه | زېږديزه نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | سعودي عربستان | ۱۳۹۳ لړم | ۲۰۱۴ اکتوبر |
| ۲ | چين | ۱۳۹۳ لړم | ۲۰۱۴ اکتوبر |
| ۳ | پاکستان | ۱۳۹۳ لړم | ۲۰۱۴ نوامبر |
| ۴ | نیپال | ۱۳۹۳ لیندی | ۲۰۱۴ نوامبر |
| ۵ | بلجيم | ۱۳۹۳ لیندی | ۲۰۱۴ ډيسمبر |
| ٦ | آذربايجان | ۱۳۹۳ لیندی | ۲۰۱۴ ډيسمبر |
| ۷ | بريتانيا | ۱۳۹۳ لیندی | ۲۰۱۴ ډيسمبر |
| ۸ | آلمان | ۱۳۹۳ لیندی | ۲۰۱۴ ډيسمبر |
| ۹ | متحده عربي امارات | ۱۳۹۳ مرغومی | ۲۰۱۵ جنوري |
| ۱۰ | ترکمنستان | ۱۳۹۳ سلواغه | ۲۰۱۵ جنوري |
| ۱۱ | سعودي عربستان | ۱۳۹۳ سلواغه | ۲۰۱۵ جنوري |
| ۱۲ | آلمان | ۱۳۹۳ سلواغه | ۲۰۱۵ فبروري |
| ۱۳ | سعودي عربستان | ۱۳۹۳ کب | ۲۰۱۵ مارچ |
| ۱۴ | د امریکا متحده ایالات | ۱۳۹۴ وری | ۲۰۱۵ مارچ |
| ۱۵ | ايران | ۱۳۹۴ وری | ۲۰۱۵ اپرېل |
| ۱٦ | هند | ۱۳۹۴ غويی | ۲۰۱۵ اپرېل |
| ۱۷ | روسيه | ۱۳۹۴ چنګاښ | ۲۰۱۵ جون |
| ۱۸ | قزاقستان | ۱۳۹۴ لړم | ۲۰۱۵ نوامبر |
| ۱۹ | فرانسه | ۱۳۹۴ لیندی | ۲۰۱۵ نوامبر |
| ۲۰ | ايټاليا | ۱۳۹۴ لیندی | ۲۰۱۵ نوامبر |
| ۲۱ | آلمان | ۱۳۹۴ لیندی | ۲۰۱۵ ډيسمبر |
| ۲۲ | سویډن | ۱۳۹۴ لیندی | ۲۰۱۵ ډيسمبر |
| ۲۳ | پاکستان | ۱۳۹۴ لیندی | ۲۰۱۵ ډيسمبر |
| ۲۴ | ترکمنستان | ۱۳۹۴ لیندی | ۲۰۱۵ ډيسمبر |
| ۲۵ | آذربايجان | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱۵ ډيسمبر |
| ۲٦ | ترکيه | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱۵ ډيسمبر |
| ۲۷ | سويس | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱٦ جنوري |
| ۲۸ | آلمان | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱٦ فبروري |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۹ | تاجکستان | ۱۳۹۵ غويی | ۲۰۱٦ مې |
| ۳۰ | بريتانيا | ۱۳۹۵ غويی | ۲۰۱٦ مې |
| ۳۱ | قطر | ۱۳۹۵ غبرگولی | ۲۰۱٦ مې |
| ۳۲ | ايران | ۱۳۹۵ غبرگولی | ۲۰۱٦ مې |
| ۳۳ | متحده عربي امارات | ۱۳۹۵ غبرگولی | ۲۰۱٦ جون |
| ۳۴ | ازبکستان | ۱۳۹۵ چنگاښ | ۲۰۱٦ جون |
| ۳۵ | سعودي عربستان | ۱۳۹۵ چنگاښ | ۲۰۱٦ جولای |
| ۳٦ | پولنډ | ۱۳۹۵ چنگاښ | ۲۰۱٦ جولای |
| ۳۷ | ازبکستان | ۱۳۹۵ وږی | ۲۰۱٦ سپتمبر |
| ۳۸ | هند | ۱۳۹۵ وږی | ۲۰۱٦ سپتمبر |
| ۳۹ | بلجيم | ۱۳۹۵ تله | ۲۰۱٦ اکتوبر |
| ۴۰ | قطر | ۱۳۹۵ لړم | ۲۰۱٦ اکتوبر |
| ۴۱ | تاجکستان | ۱۳۹۵ لړم | ۲۰۱٦ نوامبر |
| ۴۲ | ترکمنستان | ۱۳۹۵ ليندی | ۲۰۱٦ نوامبر |
| ۴۳ | متحده عربي امارات | ۱۳۹۵ ليندی | ۲۰۱٦ ډيسمبر |
| ۴۴ | هند | ۱۳۹۵ ليندی | ۲۰۱٦ ډيسمبر |
| ۴۵ | متحده عربي امارات | ۱۳۹۵ سلواغه | ۲۰۱۷ فبروري |
| ۴٦ | آلمان | ۱۳۹۵ سلواغه | ۲۰۱۷ فبروري |
| ۴۷ | استراليا | ۱۳۹٦ وری | ۲۰۱۷ اپريل |
| ۴۸ | اندونيزيا | ۱۳۹٦ وری | ۲۰۱۷ اپريل |
| ۴۹ | سينگاپور | ۱۳۹٦ وری | ۲۰۱۷ اپريل |
| ۵۰ | سعودي عربستان | ۱۳۹٦ غويی | ۲۰۱۷ مې |
| ۵۱ | قزاقستان | ۱۳۹٦ غبرگولی | ۲۰۱۷ جون |
| ۵۲ | ترکمنستان | ۱۳۹٦ چنگاښ | ۲۰۱۷ جولای |
| ۵۳ | تاجکستان | ۱۳۹٦ چنگاښ | ۲۰۱۷ جولای |
| ۵۴ | ايران | ۱۳۹٦ زمری | ۲۰۱۷ اگيست |
| ۵۵ | قزاقستان | ۱۳۹٦ وږی | ۲۰۱۷ سپتمبر |
| ۵٦ | ترکمنستان | ۱۳۹٦ وږی | ۲۰۱۷ سپتمبر |
| ۵۷ | د امريکا متحده ايالات | ۱۳۹٦ وږی | ۲۰۱۷ سپتمبر |
| ۵۸ | هند | ۱۳۹٦ لړم | ۲۰۱۷ اکتوبر |
| ۵۹ | متحده عربي امارات | ۱۳۹٦ لړم | ۲۰۱۷ نوامبر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٠ | آذربايجان | ۱۳۹٦ ليندۍ | ۲۰۱۷ ډېسمبر |
| ٦١ | ازبکستان | ۱۳۹٦ ليندۍ | ۲۰۱۷ ډېسمبر |
| ٦٢ | ترکيه | ۱۳۹٦ ليندۍ | ۲۰۱۷ ډېسمبر |
| ٦٣ | ترکمنستان | ۱۳۹٦ کب | ۲۰۱۸ فبروري |
| ٦۴ | ازبکستان | ۱۳۹۷ وری | ۲۰۱۸ مارچ |
| ٦۵ | ترکيه | ۱۳۹۷ غويی | ۲۰۱۸ مې |
| ٦٦ | چين | ۱۳۹۷ غبرگولی | ۲۰۱۸ جون |
| ٦۷ | بلجيم | ۱۳۹۷ چنگاښ | ۲۰۱۸ جولای |
| ٦٨ | هند | ۱۳۹۷ وږی | ۲۰۱۸ سېپتمبر |
| ٦۹ | سويس | ۱۳۹۷ ليندۍ | ۲۰۱۸ نوامبر |
| ۷۰ | سويس | ۱۳۹۷ سلواغه | ۲۰۱۹ جنوري |
| ۷۱ | آلمان | ۱۳۹۷ سلواغه | ۲۰۱۹ فبروي |

د نړيوالو ادارو غړيتوب ترلاسه کول: په نړيواله کچه د افغانستان د مقام تثبيتولو له موخې سره سم حکومت په بهرني سياست کې د نورو ټاکل شوو موخو د يو ځای کولو لپاره فعالانه ونډه واخيسته. په دغه برخه کې افغانستان وکولای شول د نړيوالې سوداګرۍ د سازمان (WTO)، د آسيا زېربنايي پانګونې بانک (AIIB)، د ګمرکونو د نړيوال سازمان (WCO)، د لويو بندونو د نړيوال کميسيون (ICOLD)، د نوي کېدو وړ انرژۍ د نړيوال مرکز (IRENA)، د اوبو د نړيوالې ټولنې (IWA)، د نړۍ د ښاري حکومتولۍ (GC)، د مخابراتو د مشترک‌المنافع هېوادونو د ټولنې (RCC)، د پرانيستې دولتدارۍ ګډون (OGP) او د برېښنايي حکومتولۍ د نړيوال سازمان (WeGO) غړيتوب ترلاسه کړي او همدارنګه د لومړي ځل لپاره يې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا (UNHRC) دريې کلن غړيتوب او تر ۳۸ کالو وروسته يې د دريېم ځل لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د اقتصادي او ټولنيزې شورا (ECOSOC) دريې کلن غړيتوب ترلاسه کړ.

## ب ـ په نړيواله ټولنه کې افغانستان ته باور ورکول

د افغانستان لپاره د تمويلوونکو هېوادونو له‌خوا تر څو کاله پلان‌جوړولو وروسته د ملي يووالي حکومت دغه نوښت په لاس کې واخيست او د منظمو پروګرامونه په جوړولو سره يې نړيوالو همکارانو هرکلی وکړ. حکومت په نړيوالو ناستو کې په ډک لاس ګډون کړی او د منل شوو سندونو په چوکاټ کې يې فعاليت کړی چې په پايله کې يې وکولای شول تر ۳۰ ميليونو ډالرو د ډېرو مالي ژمنو له جلب

او جذب سره د هېواد د پرمختيايي پاليسيو له هغې ډلې د افغانستان د سولې او انکشاف ملي چوکاټ (ANPDF) او نړيوالو همکارانو د مالي ژمنو تر منځ همغږي رامنځته کړي.

**د دوه‌اړخيز حساب‌ورکولو د چوکاټ له لارې پر ځان‌بسياينه:** حکومت د بدلون لسيزې له ننګونو سره د مبارزې لپاره د افغانستان د دولت او نړيوالې ټولنې تر منځ د دوه‌اړخيز ځواب‌ويلو پياوړتيا په خپله کاري اجنډا کې شامله کړه. په دې توګه يې په لندن کنفرانس کې د افغانستان په اړه[١] د «ځان‌بسياينه: د اصلاحاتو او نوو همکاريو لپاره ژمنې»[٢] په نامه اصلاحي اجنډا وړاندې کړه. د دغې اجنډا او د توکيو د دوه‌اړخيز حساب‌ورکولو چوکاټ[٣] په‌پام کې نيولو سره «د دوه‌اړخيز حساب‌ورکولو د چوکاټ له لارې د ځان‌بسياينې»[۴] نوی سند وليکل شو. دغه سند د امنيت او سياسي ثبات د ښه‌والي؛ له فساد سره د مبارزې، حکومتولۍ، د قانون حاکميت او بشري حقونو؛ د مالي ثبات راګرځولو او د دولتي مالي چارو او سوداګريزې بانکدارۍ د همغږۍ؛ د ښاري حقونو او د پرمختيا مديريت او پلان‌جوړونې په برخه کې د اصلاحاتو؛ د خصوصي سکتور د پرمختيا او هر اړخيزې ودې او پرمختيا؛ او د پرمختيايي او د مرستو د موثريت په برخو کې له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې د همکاريو بنسټ شو. دغه سند د ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ کلونو لپاره افغانستان او نړيوالې ټولنې ته ۳۹ ژمنې متوجه کړې. وروسته په (۲۰۱٦) کې په بروکسل کنفرانس کې د دوه‌اړخيز حساب‌ورکولو له لارې د بسياينې سند ته په کتو سره ۲۴ نوې شاخصونه جوړ شول چې افغانستان بايد د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو په لړ کې هغوی ته د رسېدو لپاره هڅې کړې وای.[۵]

**د افغانستان د سولې او پراختيا ملي چوکاټ:** په بروکسل[٦] ناسته کې د ملي يووالي حکومت له لوري «د افغانستان د سولې او پراختيا ملي چوکاټ»[٧] (۱۳۹۵ ـ ۱۴۰۰) وړاندې شو. د دغه سند بنسټ د خلکو د هوساينې وده او د متحرک او ټول‌شموله اقتصاد د بنسټ اېښودو له لارې د هېواد ځان‌بسياينه ده. دغه سند د افغانستان ملي او لومړيتوب لرونکي پروګرامونه له نړيوالې ټولنې سره شريک کړل چې هرکلی او ملاتړ يې وشو.

---

١ ۱۳ لېندۍ ۱۳۹۳
٢ Realizing Self-Reliance: Commitments to Reforms and Renewed Partnerships
٣ Tokyo Mutual Accountability Framework (TMAF)
۴ Self-Reliance through Mutual Accountability Framework (SMAF)
۵ Self-Reliance Through Mutual Accountability Framework – SMART Deliverables / 2017- 2018
٦ د ۱۳۹۵ د تلې ۱۳ ـ ۱۴
٧ The Afghanistan National Peace and Development Framework (ANPDF)

**د سولې لار نقشه:** د کابل پروسې په دويمه غونډه[1] کې د حکومت د سولې وړانديز او د افغانانو پر مالکيت د خبرو اترو چوکاټ وړاندې شو. په هېواد کې د سولې راوستو لپاره د ملي يووالي حکومت کلکه اراده د «سولې لار نقشې»[2] د جوړېدو لامل شوه چې د پايدارې سولې لپاره د حکومت تېنګار ښيي. د سولې لار نقشه په جنيوا غونډه کې د جمهوررئيس غني له لوري نړيوالې ټولنې ته وړاندې شوه.[3] د دغې ناستې ګډونوالو له طالبانو وغوښتل چې له شته فرصت او په ځانګړې ډول له وړاندې‌شرط پرته د خبرو اترو لپاره د دولت له وړانديزه ګټه واخلي. همدارنګه د سولې د مشورتي بورډ د جوړېدو هرکلی وشو.

**د جنيوا د دوه‌اړخيز ځواب‌ويلو چوکاټ:** د افغانستان په اړه په جنيوا[4] ناسته کې «د جنيوا د دوه‌اړخيز ځواب‌ويلو چوکاټ»[5] له اصلاحي او اندازې وړ موخو سره د ۲۰۱۹ – ۲۰۲۰ کلونو لپاره د حکومت او نړيوالې ټولنې ژمنې تصويب شوې. د جنيوا د دوه‌اړخيز ځواب‌ويلو چوکاټ د افغانستان د سولې او پراختيا له ملي چوکاټ سره په مطابقت کې اقدامات تنظيموي. د ناستې ګډون‌والو د لومړيتوب‌لرونکو ملي پروګرامونو پر تطبيق د لا ډېر ټينګار د اړتيا او ټولو خلکو، په ځانګړې ډول ښوزلو ته يې له ګټې رسېدو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره نظر ورکړ.[6]

## پ ـ د سيمې د نښلوونکې لويې لارې په توګه د افغانستان د ځای تثبيت

د مرکزي او سوېلي آسيا هېوادونه د افغانستان له نښلوونکي رول پرته د يو بل له ظرفيتونو ګټه نه‌شي اخيستی. افغانستان توانېدلی ځان بياځرګند کړي او ځان د جدايي د ټکي پر ځای د اتصال د ټکي پر ځای بدل کړي. دا مهال د سيمې ټول هېوادونه پر دغه حقيقت اعتراف کوي چې د افغانستان له ګډون پرته په سيمه کې هېڅ پراختيايي پروګرام نه دی شونی. اوسنی افغانستان د مرکزي او سوېلي آسيا نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې.

**په مرکزي آسيا کې د افغانستان د مقام او اړيکو بنه‌والی:** په داسې حال کې چې په تېرو پنځو کلونو کې د مرکزي آسيا له هېوادونو سره د افغانستان اړيکې

---

۱ ۹ کب ۱۳۹٦
۲ https://ocs.gov.af/uploads/documents_pa/25.PDF
۳ ٦ـ۷ لېندی ۱۳۹۷
۴ د ۱۳۹۷ د لېندی ٦ ـ ۷
۵ Geneva Mutual Accountability Framework (GMAF)
٦ «د افغانستان د راتلونکي خونديتوب: سوله، ځان بساينه او ترېښت»، د افغانستان په اړه د جنيوا کنفرانس ګډه اعلاميه

محدودې او په ځینو مواردو کې سړې وې او د رغولو، پیاوړي کولو او پراخولو لپاره یې تمایل نه و موجود؛ خو د جمهوررئیس غني په کاري دوره کې د افغانستان او دغو هېوادونو مقامات څو ځله د یو بل کوربانه شول او په بېلابېلو برخو کې یې لسګونه هوکړه‌لیکونه لاس‌لیک کړل. له ازبکستان سره د څو اړخیزو اړیکو پراختیا، «د ملګرتیا او سولې د پولې»[1] په نامه له ترکمنستان سره د افغانستان د پولې اعلان او همدارنګه د افغانستان، تاجکستان او چین تر منځ د سرحدي نقطې تثبیت یې[2] څرګندې بېلګې دي.

***څلورم جدول:***

*له ترکمنستان سره لاس‌لیک شوي دوه‌اړخیز سندونه*

|  له ترکمنستان سره لاس‌لیک شوي دوه‌اړخیز سندونه  | |
|---|---|
| د دواړو هېوادونو د بین‌الحکومتي ګډ کمیسیون د سوداګریزو او اقتصادي همکاریو پرېکړه‌لیک | د ۱۳۹۴ د وري ۵مه |
| د سپورت په برخه کې د همکارۍ د هوکړه‌لیک یادښت | |
| د علمي او تکنالوژي همکارۍ هوکړه‌لیک | |
| د انرژۍ په برخه کې د لا ډېرو همکاریو د پراختیا لپاره د هوکړه‌لیک یادښت | |
| د ناقانونه سوداګرۍ او ترهګرۍ د تمویل د عوایدو له پیسو مینځلو سره د مبارزې په برخه کې د هوکړه‌لیک یادښت | |
| د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو او اقتصادي همکاریو هوکړه‌لیک | د ۱۳۹۴ د لړم ۱٦مه |
| د اوبو او انرژۍ په برخه کې هوکړه‌لیک | |
| د ترانسپورت په برخه کې هوکړه‌لیک | |
| د مخابراتو په برخه کې هوکړه‌لیک | |
| د کرنې په برخه کې هوکړه‌لیک | |
| د علم او فرهنګ په برخه کې هوکړه‌لیک | |
| بادغیس او جوزجان ولایتونو ته د ترکمنستان د برېښنا د لېږد په موخه د دواړو هېوادونو د انرژۍ وزارتونو همکاري | د ۱۳۹٦ د چنګاښ ۱۲مه |
| د لویو لارو د ترانسپورت د نړیوال سیستم هوکړه‌لیک | |
| د غالیو په صنعت کې د همکارۍ هوکړه‌لیک | |
| د دواړو هېوادونو په پولو کې د آقینې – امام‌نظر تم‌ځایونو تر منځ د اوسپنې پټلۍ د نښلولو د تنظیم مقررات | |
| د دواړو هېوادونو په پوله کې د اوسپنې پټلۍ د سرحدي پوستو هوکړه‌لیک | |
| د جوزجان او مختوم‌قلي پوهنتونونو تر منځ د علمي – ښوونیزې همکارۍ هوکړه‌لیک | |
| د ۲۰۱۸ ـ ۲۰۱۹ کال لپاره د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو د همکارۍ پروګرام | |

۱ ترکمنستان ته د جمهوررئیس غني سفر، ۲۱ لړندی ۱۳۹۴

۲ ۱۴ لړم ۱۳۹۳

**پنځم جدول:**

*له ازبکستان سره لاس‌لیک شوي دوه‌اړخیز سندونه*

| له ازبکستان سره لاس‌لیک شوي دوه‌اړخیز سندونه | |
|---|---|
| د مجرمينو سپارلو هوکړه‌ليک | د ۱۳۹۵ د تلې ۲٦مه |
| د نشه‌يي توکو له قاچاق سره د مبارزې هوکړه‌ليک | د ۱۳۹۵ د سلواغې ٦مه |
| د دواړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو تر منځ د همکاريو هوکړه‌ليک | |
| د ترانسپورتي زېربناوو او نورو پراختيايي پروژو په برخه کې د همکاريو پراخولو هوکړه‌ليک | |
| د ګډ امنيتي کميسيون د جوړولو هوکړه‌ليک | |
| د دواړو هېوادونو د همکارۍ لپاره د لار نقشې د جوړولو د عمل لپاره پلان | |
| د حيرتان ـ ترمذ پله د امنيت ټينګولو هوکړه‌ليک | د ۱۳۹٦ لیندۍ ۱۴مه |
| د دولتي سرحد په امتداد کې د چېک کولو د ځايونو هوکړه‌ليک | |
| د مالونو د ترانزيټ هوکړه‌ليک | |
| د سوداګريزو او اقتصادي همکاريو هوکړه‌ليک | |
| په ګمرکي مسايلو کې د همکارۍ او دوه‌اړخيزې مرستې هوکړه‌ليک | |
| د لوړو زده‌کړو په برخه کې د همکارۍ هوکړه‌ليک | |
| د مزار شريف ـ هرات د اوسپنې پټلۍ د مالي خونديتابه، طرحه کولو او جوړولو هوکړه‌ليک | |
| د سرخان ـ پلخمري د برېښنا د لېږد د ۵۰۰ کيلو ولټ لين د پروژې هوکړه‌ليک | |
| د سټنډرډ جوړولو په برخه کې د همکارۍ هوکړه‌ليک | |
| په مدني، کورني او جنايي برخو کې د حقوقي مرستو معاهده | |
| د ګډ امنيتي کميسيون د جوړولو پروتوکول | |
| د انرژۍ په برخه کې د همکارۍ هوکړه‌ليک | |
| د کرنې په برخه کې د همکارۍ هوکړه‌ليک | |
| د روغتياپالنې په برخه کې د همکارۍ هوکړه‌ليک | |
| د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ او صنايعو خونو تر منځ د همکارۍ هوکړه‌ليک | |

**د درول شوو پروژو بیا پیلول:** ملي یووالي حکومت د څلورو کلونو په لړ کې د افغانستان او سیمې د خلکو د ډېرو مودو هیلې له شعار څخه پر عمل بدلې کړې، تر څو هغو پروژو ته ورسېږي چې د سیمې هېوادونو برخلیک، هوساینه او امنیت یې له افغانستان سره تړلي. د «تاپي»[۱] د ګاز د لېږد نل‌لیکه تر ۲۵ کالو وروسته په ترکمنستان او ورپسې په هرات (۱۳۹٦) کې پیل شوه. همدارنګه د «کاسا۱۰۰۰»[۲] پروژې کاري چارې تر ۱۰ کالو وروسته پیل شوې.[۳] دغه پروژې د ذي‌نفع هېوادونو د اړیکو په نږدې کولو کې د ګډو اقتصادي ګټو پر بنسټ اغېزناکې دي او د افغانستان د سیمه‌ییزې اقتصادي همپالنې له سیاست پیاوړي کولو سره به په سیمه کې سیاسي، فرهنګي او انساني اړیکې متحول کړي. د یادونې وړ ده چې د دغو دوو پروژو په کار پیلېدو سره چین[۴] هم د ښکېلېدو لپاره تمایل ښودلی.

**د تاپي څو موخیزه کول:** تاپي پروژه په لومړیو کې د ګازو د لېږد په نل‌لیکه کې خلاصه کېده، خو د ملي یووالي حکومت په ابتکار او د هېوادونو په پام را اړولو سره پر یوه پرمختیایي پروژه بدله شوه. پاکستان ته د برېښنا لېږد (TAP۵۰۰)، د نوري فایبر تمدید او د هغې اوسپنې پټلۍ جوړولو چې ترکمنستان له پاکستان سره نښلوي، د امتداد په مسیر کې تاپي پر یوه څو موخیزه پروژه بدله کړه.

**افغانستان د سیمې پر دیجیتل دهلېز بدلول:** د واخان دهلېز له لارې د نوري فایبر د پروژې تمدید چې تدارکاتي قرارداد یې هم شوی، د ورېښمو د دیجیتل لارې په جوړولو کې د افغانستان اساسي رول څرګندوي. همدارنګه د مرکزي او سوېلي آسیا د انټرنېټ نښلولو لپاره له تاپي سره پر یوه وخت د نوري فایبر پروژه هم په دغه مسیر کې تمدیدېږي. له بل پلوه د افغانستان له لارې هانګ کانګ ته د اروپا د انټرنېټي نښلولو هوکړه‌لیک د آذربایجان، ترکمنستان او افغانستان تر منځ نهایي شوی او د لاس‌لیکېدو په درشل کې دی.

**په «یو کمربند یوه لاره» پروژه کې شاملېدل:** «یو کمربند یوه لاره»[۵] مهمه او لویه پروژه چې چین پیل کړې، تر ٦۰ ډېر هېوادونه پکې شامل دي او پانګونه یې ۹۰۰ میلیارده ډالرو ته رسېږي. د «یو کمربند یوې لار» پروژې هوکړه‌لیک له افغانستان سره د ۱۳۹۵ کال د غویي پر ۲٦مه په چین کې لاس‌لیک شو او د

---

۱ د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګاز د لېږد پروژه (TAPI)
۲ د افغانستان له لارې پاکستان ته د قرغزستان او تاجکستان د برېښنا لېږد (CASA-1000)
۳ ۲۳ غویي ۱۳۹۵
۴ له آریانا نیوز سره په کابل کې د چین د سفیر ښاغلي یو جینګ مرکه، د ۱۳۹٦ د غویي ۲۹مه
۵ One Belt One Road (OBOR)

۱۳۹۶ کال د وري پر ۵مه افغانستان د آسيا د زېربنايي پانګونې بانک[۱] غړی شو چې د دغې پروژې تمويلوونکی دی. وروسته د ۱۳۹۶ کال د مرغومي پر ۵مه له «چين – پاکستان اقتصادي دهليز» سره چې د ورېښمو د نوې لارې يوه برخه ده، د يوځای کېدو لپاره د افغانستان هوکړه اعلان شوه. د دغې ۵۷ ميليون ډالري پروژې په بشپړېدو سره د افغانستان له لارې د تاجکستان، ترکمنستان او د ايران له ختيځو برخو سره د پاکستان نښلون عملي کېږي. له لنډې کوټله تر جلال آباده او له چمنه تر سپين بولدکه د اوسپنې د دوو پټليو جوړول، له پېښوره تر کابله او له کندوزه تر مرکزي آسيا د دوو لويو لارو جوړول او همدارنګه د کونړ د سيند پر سر د اوبو د يوه ستر بند جوړول هغه پروژې دي چې تمه کېږي په دغه چوکاټ کې به پلې شي.

**د سيمې د اوسپنې له پټليو سره نښلېدل:** حکومت په تېرو څلورو کلونو کې د ازبکستان، ترکمنستان او ايران له لارې د سيمې هېوادونو د اوسپنې له پټليو سره د نښلېدو او همدارنګه په هېواد دننه د اوسپنې پټليو د تمديد لپاره د همکاريو ترلاسه کولو لپاره فعاله ډيپلوماسي لرلې ده. دغه هڅې د اتامراد – آقينې اوسپنې پټلۍ چې «د آسيا نړيواله اوسپنه پټلۍ»[۲] نومېږي او د قزاقستان او ازبکستان له مسيره د نانتونګ – حيرتان ربل پټلۍ چې «د مرکزي آسيا ربل پټلۍ»[۳] نومېږي، د پرانيستو لامل شوې دي. د (چين، قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او ايران) د پنځه‌اړخيزې اوسپنې پټلۍ جوړولو د تخنيکي – اقتصادي څېړنو پروتوکول د ۱۳۹۳ د لېندۍ پر ۱۸مه تاجکستان کې لاس‌ليک شوی چې د آسيا پرمختيايي بانک، نړيوال بانک او چين مالي ملاتړ يې جلب کړی دی. د اوسپنې دغه پټلۍ به له سيمه‌ييزې او سياسي همپالنې سره ډېره مرسته وکړي. همدارنګه د ۱۳۹۶ د لېندۍ پر ۴مه له ترکمنستان سره د سرحدآباد ـ تورغونډۍ د اوسپنې پټلۍ د جوړېدو او بيارغاونې هوکړه‌ليک لاس‌ليک شوی. له بل پلوه د خواف ـ هرات اوسپنې پټلۍ د پروژې پلي کولو لپاره د ايران همکاري د دواړو هېوادونو تر پولو پورې په غوريان برخه کې موجوده ده. د شېرخان بندر ـ هرات د اوسپنې پټلۍ د امکان سنجۍ او طرحې د تطبيق په برخه کې له چين سره د همکارۍ هوکړه‌ليک هم د ۱۳۹۶ د غبرګولي پر ۱۸مه لاس‌ليک شوی دی.

---

۱ AIIB
۲ ۸ لېندۍ ۱۳۹۵
۳ ۱۷ وری ۱۳۹۵

## ت ـ د ټرانزيټي ـ سوداګريز محدوديت ماتول

د افغانستان واردات او صادرات د څو لسيزو لپاره د پاکستان په بندرونو پورې منحصر او محدود وو. دغه محدوديت له سياسي شرايطو څخه د هېواد اقتصادي اغېزمنتيا ډېره کړې او اقتصادي تکيه يې لا ژوره کړې وه. ډېرى پر دې باور وو چې له دغه محدوديته خلاصون ناشونى دى؛ لکه څرنګه چې د افغانستان او پاکستان د ټرانزيټ او سوداګرۍ هوکړه‌ليک (APTTA) اغېزناک ثابت نه‌شو چې بايد کراچۍ، قاسم او ګوادر بندرونو ته يې د افغانستان د لاس‌رسي زمينه برابره کړې واى؛ د ملي يووالي حکومت بې‌دريغه او هدفمندو هڅو دغه معادلات بدل کړل او دا مهال نه يوازې دا چې له دغو بندرونو سره د افغانستان مطلق پيوستون له منځه تللى، بلکې برعکس له مرکزي آسيا سره د پاکستان په نښلېدو کې رول لوبوي. دا مهال د افغانستان مسيرونه، شريکان، بازار او وارداتي سرچينې په بشپړ ډول بدلې شوې دي او د مرکزي آسيا هېوادونه، هندوستان، چين، ترکيه، اروپا، ايران او د خليج حوزې هېوادونه د افغانستان مهم سوداګريز شريکان دي؛ د بېلګې په توګه له ازبکستان سره زموږ د اقتصادي راکړې ورکړې کچه په ۱۳۹۷ کال کې تر شاوخوا اووه سوو ميليونو ډالرو رسېدلې ده.

**د چابهار بندر د هوکړه‌ليک لاس‌ليکول:** د چابهار بندر کارونه پخوا په ټکني او بې اغېزې ډول مخ ته تلل، خو د ملي يووالي حکومت په واک ته رسېدو سره د هوکړه‌ليک د وروستي کولو او لاس‌ليک او د ګټې اخيستنې لپاره د دغه بندر د چمتو کولو لپاره ډيپلوماتيکې هڅې ګړندۍ شوې. د ۱۳۹۵ د غبرګولي پر ۳مه د هوکړه‌ليک تر لاس‌ليکېدو وروسته چابهار بندر د دريو هېوادونو د مشرانو له لوري په رسمي توګه پرانيستل شو. د ۱۳۹۷ په لړم مياشت کې له افغانستان سره د هند د غنمو مرستې لومړى لېږد له دغه مسيره تېر شو او همدارنګه هند ته د افغانستان لومړى صادراتي لېږد د همدغه کال په مرغومي مياشت کې وشو.

**د لاجوردو لارې د هوکړه‌ليک لاس‌ليکول:** د ريکا د اوومې سيمه‌ييزې ناستې په څنډه کې د ۱۳۹۶ د لړم پر ۲۴مه د لاجوردو لارې هوکړه‌ليک د افغانستان، ترکيې، ترکمنستان، آذربايجان او ګرجستان تر منځ د ترکمنستان په پلازمېنه عشق آباد کې لاس‌ليک شو. دغه هوکړه‌ليک د افغانستان، ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيې د استازو تر څلورو تخنيکي ناستو وروسته د (۱۳۹۵ په لړم مياشت) کې په باکو کې بشپړ شو. د لاجوردو لارې لومړنى ازمايښتي لېږد د ۱۳۹۷ په لينډۍ مياشت کې له هراته ترکيې ته ولاړ او بېرته را وګرځېد.

**له هوايي دهلېزونو سره د سوداګرۍ وده:** حکومت له وچې سره د افغانستان د محدوديت د ستونزو او په ځمکنيو پولو د تکيې ماتولو د اړتيا په درک سره د هوايي دهلېزونو د جوړولو او ګټې اخيستنې د همکاريو د جلب اقدام وکړ. دغه دهلېزونه چې دا مهال د افغانستان له څو ښارونو څخه له هند، متحدو عربي اماراتو، قزاقستان، ترکيې، سعودي عربستان او اروپايي ټولنې سره پرانيستل شوي، له لرې او نږدې هېوادونو سره يې د افغانستان د ارزښت‌لرونکو محصولاتو د صدور زمينه برابره کړې ده.

**دوه‌اړخيز اقتصادي کميسيونونه:** د سيمه‌ييز پيوستون بهير د پراختيا او د آسيا او نورو هېوادونو تر منځ افغانستان د سوداګريزو مالونو د ټرانزيټ پر مرکز د بدلولو په موخه له ۱۱ هېوادونو ايران، پاکستان، چين، ازبکستان، قزاقستان، ترکمنستان، آذربايجان، متحدو عربي اماراتو، سعودي عربستان، ګرجستان او روسيې سره دوه‌اړخيز اقتصادي کميسيونونه جوړ شوي. دغو کميسيونونو د هېوادونو د پرمختيايي مرستو د اغېزناکو کاريدو تر څنګ د سيمه‌ييزې انرژۍ، اوسپنې پټلۍ، سيمه‌ييزو سړکونو، د وچو بندرونو جوړولو، د سوداګريزو مالونو د لېږد او معدني توکو پر پروژو د پانګونې په برخه کې فعاليت کړی.

## ث ـ د افغانستان په اړه له لاسته‌راوړنو د ډکو سيمه‌ييزو کنفرانسونو جوړول

د استانبول پروسې (آسيا زړه)[۱] او د افغانستان لپاره سيمه‌ييزې اقتصادي همکارۍ (ريکا)[۲] دوه سيمه‌ييز نوښتونه، چې له وړاندې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له لوري د سيمې په کچه د سياسي او اقتصادي همپالنې په موخه جوړ شوي وو، د ملي يووالي حکومت په دوره کې په جديت سره تعقيب شول. دغې هرې يوې پروسې پام وړ لاسته‌راوړنې لرلې دي چې د سيمې په کچه د افغانستان فعاله ډيپلوماسي ښيي.

**د آسيا زړه کنفرانسونو برياليتوب:** د آسيا زړه (استانبول پروسې) شلورمه، پنځمه، شپږمه او اوومه ناسته د ملي يووالي حکومت په دوره کې په ترتيب سره په چين، پاکستان، هند او آذربايجان کې وشوې. د آسيا زړه هېوادونو تر منځ د باور جوړونې لپاره د يوه مېکانېزم په توګه، همداراز د افغانستان، پاکستان، متحدو ايالتونو او چين په ګډون سره «د سولې همغږۍ د څلور اړخيزې ډلې»

۱ The Heart of Asia- Istanbul Process (HoA)
۲ Regional Economic Cooperation Conference for Afghanistan (RECCA)

د جوړېدو؛ له ترهګرۍ سره د سیمه‌ییزې مبارزې ستراتیژۍ د خاکې برابرول؛ د غړو هېوادونو له لوري د افغانستان په محوریت د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو د ملاتړ؛ د سیمه‌ییزو ټرانزیتي او اقتصادي پروژو د چټکولو او د سولې په اړه د افغانانو په مالکیت سره د اجماع جوړولو لامل شوي دي. همداراز د شته زېربناوو جوړول، چې دوه یا څو هېوادونه سره نښلوي؛ د امکاناتو ارزولو د مطالعاتو کول؛ او د لاجورد لارې، پنځه اړخیزې رېل پټلۍ او تاپي په څېر د نوو زېربناوو جوړول، د استانبول پروسې اړوند «د سیمه‌ییزو زېربناوو باور جوړولو» په چوکاټ کې تعقیب شوي دي.

**د افغانستان لپاره د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو د کنفرانس (ریکا) هوکړه‌لیکونه:** په ریکا کنفرانس کې د سیمه‌ییزې همپالنې سافټ او هارډ اړخونه په تېره بیا د اقتصادي همکاریو له نظره کتل کېږي. د بېلګې په توګه «د افغانستان له مسیره د ورېښمو لار»[1] د ریکا د شپږمې ناستې اصلي موضوع وه. د ریکا شپږمه غونډه په ۱۳۹۴ کال د وري په ۱۱ ـ ۱۲ نېټه او ریکا اوومه غونډه د ۱۳۹٦ کال د لړم په ۲۳ ـ ۲۴مه نېټه، د ملي یووالي حکومت په دوره کې جوړه شوه. له چابهار بندر څخه ګټه اخیستنه، د لاجوردو لارې پرانیستل، د تاپي د تمدید عملي پیل، د کاسا۱۰۰۰ عملي کېدل، افغانستان او پاکستان ته د ترکمنستان د اوسپنې پټلۍ د وصل طرحې او د اوسپنې پنځه‌اړخیزه لار د ریکا ناستو پایله ده. د ریکا د سوداګرۍ او صنایعو خونه جوړول، د ریکا د څېړنیز مرکز جوړول او د ریکا په اجنډا کې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا بحث شاملول د افغانستان نوې تګلارې دي.[2]

## ج ـ «د کابل پروسې، سولې او امنیتي همکاریو» طرحه کول او عملي کول

د حکومت رهبرۍ «د کابل پروسه؛ سوله او امنیتي همکارۍ» نوی نوښت وکړ تر څو د سولې هڅې تر یوه واحد چتر لاندې تنظیم کړي.

**د کابل پروسې په لومړۍ غونډه کې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره اجماع:** د افغانستان د سولې او امنیت د دښمنانو له پراخو هڅو سره د کابل پروسې لومړۍ ناسته د ۱۳۹٦ د غبرګولي پر ۱٦مه نېټه د ۲۳ هېوادونو لکه ایران، پاکستان، امریکا، بریتانیا او همدارنګه د ملګرو ملتونو سازمان، اروپایي ټولنې

---

۱ Silk Road Through Afghanistan

۲ په کابل کې د ریکا د سفیرانو ناسته، د ۱۳۹۷ د وري ۲۷مه

او د ناټو استازو په ګډون وشوه. د دغې ناستې موخه له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره د اجماع جوړول او د ترهګرۍ د ملاتړو منزوي کول وو. حکومت وکولای شول له ترهګرۍ سره د کلکې مبارزې لپاره نړیواله اجماع جوړه او د ثبات او امنیت د ټینګښت او له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره د سیمې د هېوادونو، د امریکا د متحدو ایالتونو او اروپایي ټولنې ملاتړ نوی کړي. همدارنګه ګډون کوونکو هېوادونو او سازمانونو د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره د ښې حکومتولۍ او له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د هڅو ژمنه وکړه.

**د کابل پروسې په دویمه غونډه کې د سولې وړاندیز:** په دغه ناسته کې چې د ۱۳۹٦ د کب پر ۹مه تر ۲۵ د ډېرو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو په ګډون جوړه شوه، حکومت د «سولې وړاندیز» او له وسله‌والو مخالفینو سره د خبرو اترو چوکاټ وړاندې کړ چې ګډونوالو یې ملاتړ وکړ. د کابل پروسې په دویمه ناسته کې د یوه هر اړخیز سیاسي بهیر له لارې په داسې ډول د روانو تاوتریخوالو د پای ته رسولو غوښتنه وشوه چې د اړتیا پر مهال که هر ځای وي، د ترهګرو پر خلاف باید زور هم وکارېږي. ګډونوالو د افغانانو په مشرۍ د سولې او پخلاینې د بهیر ملاتړ وکړ او له هر ډول وړاندې‌شرط او د تاوتریخوالي له ګواښ پرته یې د افغانستان د دولت او طالبانو تر منځ د مخامخ خبرو اترو په اړه هوکړه څرګنده کړه. همدارنګه دوی د ترهګرو د ځارنې، پلټنې، د هغوی د ملاتړو د څېلو او د هغوی د مالي سرچینو د بندولو او د سیمې د امنیت او له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره له افغانستان سره د چټکو همکاریو په برخه کې د عملي ګامونو پورته کولو ژمنه وکړه.

## چ ـ نړۍ ته د ترهګرۍ د ځالو ورپېژندل او د هغوی پر وړاندې د نړیوالې اجماع جوړول

وړاندې ډېرو کمو هېوادونو باور کاوه، چې تر ۲۰۰۱ کال وروسته به لا هم ځینې هېوادونه د افغانستان د جګړې تر شا لاس ولري، ترهګرې ډلې پر ښو او بدو وېشي او په خپله خاوره کې د ترهګرو له امن پټنځایونو سره به د هغوی پر وړاندې اقدام نه کوي. په دې لړ کې نړیواله ټولنه هم د پاکستان په خاوره کې د ترهګرو د شتون په اړه د افغانستان له چارواکو سره همغږې نه وه. د ملي یووالي حکومت په لومړیو میاشتو کې له پاکستان سره د شته ستونزو د حل او دوستۍ لپاره د دوستانه خبرو اترو جوړولو لپاره پراخې هڅې وکړې، هڅه یې وکړه د دواړو هېوادونو اړیکې بدلې کړي، د دوو وروڼو او ملګرو هېوادونو په توګه خپلې پخوانۍ ستونزې حل کړي او پاکستان په خپله خاوره کې له ترهګرو سره د کلکې مبارزې لپاره وهڅوي؛ خو له بدمرغه په دې برخه کې د افغانستان پرله‌پسې غوښتنې

بې‌ځوابه پاتې شوې. له دې امله حکومت هڅه وکړه د افغانستان په داخلي چارو کې د لاسوهنې او ترهګرۍ د ملاتړ اسناد او مدارک نړۍ ته وړاندې کړي چې په پایله کې د افغانستان دریځ د ملګرو ملتونو سازمان او نورو سیمه‌ییزو سازمانونو له لوري ومنل شو.

د امریکا د متحدو ایالتونو د سویلي آسیا د ستراتیژۍ اعلان، پر پاکستان د امریکا د پوځي او غیر پوځي مرستو بندېدل، د ترهګرۍ د ځالو په اړه د استانبول ـ آسیا زړه پروسې د شپږمې او اوومې ناستې د توندو بیانیو خپرېدل او له پاکستانه یې د له منځه وړلو غوښتنه، په پاکستان کې د ترهګرۍ د ځالو له منځه وړلو په اړه د بریکس[1] غړو هېوادونو د مشرانو د بیانیې خپرېدل،[2] کابل ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پلاوي سفر او د امنیت شورا په مقر کې د افغانستان د امنیت په اړه د ناستې جوړېدل په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د ترهګرۍ د ځالو د تثبیت او پېژندلو لپاره د حکومت د فعالې ډیپلوماسۍ پایلې دي.

## ح ـ د افغانستان د سولې او امنیت لپاره د نړیوال ملاتړ راجلبول

د افغانستان د جګړې ټولې ریښې داخلي نه دي؛ له دې امله په افغانستان کې د پایدارې سولې او امنیت ټینګښت د بهرنۍ سیاست د پروګرامونو یوه مهمه برخه جوړه کړې او تل د افغانستان په اړه د بهرنیو ناستو د اجنډا برخه ده. حکومت په نړیوالو ناستو کې په دوامدارو ډیپلوماتیکو هڅو او پررنګه حضور سره د افغانانو په مالکیت د سولې د خبرو او پایدارې سولې په اړه سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع رامنځته کړې او امنیتي او دفاعي ځواکونو ته یې لوی ملاتړ موندلی.

**د افغانستان وضعیت ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پام اړول:** د افغانستان وضعیت ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پام اړولو لپاره حکومت هڅې د دې لامل شوې چې دغه شورا څو ځله د افغانستان پر وضعیت غور وکړي او د افغانستان د موضوع په اړه ځانګړې ناستې وکړي. په دغو ناستو کې د خبرو له لارې د افغانستان د ستونزې حلولو او پر سیمه د افغانستان د سولې پر امنیتي او اقتصادي اغېزو او همدارنګه د امنیت شورا په پرېکړه‌لیک کې د افغانستان پر سیمه‌ییز ملاتړ ټینګار شوی. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا جګپوړي ۱۵ کسیز پلاوي د ۱۳۹۶ کال د مرغومي پر ۲۵مه د افغانستان د سیاسي او امنیتي وضعیت

---

۱ BRICS

۲ اوفا، روسیه، ۱۸ چنګاښ ۱۳۹۴

د څېړنې او د ملګرو ملتونو سازمان په امنیت شورا کې د هېواد په اړه درج شوو شکایتونو ته د رسېدو په موخه کابل ته سفر وکړ. تر دغه سفر څلور ورځې وروسته د ملګرو ملتونو سازمان په ودانۍ کې د دغه سازمان د امنیت شورا ځانګړې ناسته وشوه او د افغانانو په مشرۍ یې د سولې د بهیر ملاتړ وکړ. همدارنګه په دغه ناسته که وویل شول چې پاکستان باید په افغانستان کې د سولې او ثبات په راتلو کې برخه واخلي.

**د جنېوا په ناسته کې د سولې د لار نقشې هرکلی:** د افغانستان په اړه د جنېوا ناستې پر دویمه ورځ،[1] جمهور رئیس غني د افغانستان د سولې لار نقشه نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړه چې په هغې کې د پایدارې سولې شرایط او چوکاټ په مدون او څرګند ډول طرحه شوی دی. د دغې ناستې ۳۹ ماده‌ییزې اعلامیې د حکومت د اصلاحي پروګرامونو د تأیید ترڅنګ، د ناامنیو، بېوزلۍ او فساد د عواملو په له منځه وړو ټینګار کړی. د افغانستان نړیوالو ملګرو د افغانانو په مشرۍ د سولې پر بهیر، بشري حقونو په ځانګړې توګه د ښځو حقونو ته پر درناوي، د افغانستان اساسي قانون ته پر درناوي، د افغانستان د وروستیو کلونو لاسته‌راوړنو د ساتنې او د لږکیو د حقونو خوندیتوب یې د اصولو په توګه له طالبانو سره د سولې په مذاکراتو کې اړین بللي او د هغو پر ساتنه یې هوکړه وکړه.

**د شانګهای د همکاریو سازمان له لارې سیمه‌ییزه اجماع[2]:** د دغه سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو شورا په وروستیو څلورو ناستو کې جمهور رئیس او په پنځو کلنیو ناستو کې یې اجرائیه رئیس ګډون کړی. د ۱۳۹۴ کال د غویي پر ۲۹مه د ترهګرۍ، تجزیه‌غوښتنې او افراطپالنې پر ضد د همکارۍ پروتوکول د شانګهای سازمان د ترهګرۍ ضد سیمه‌ییز جوړښت او افغانستان د بهرنیو چارو وزارت تر منځ په کابل کې لاس‌لیک شو. همدارنګه له افغانستان سره د شانګهای د ځانګړي تماس د ډلې جوړولو هوکړه‌لیک د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال په کچه د سازمان د اتلسمې کلنۍ ناستې[3] په څنډه کې لاس‌لیک شو. دغه ډله په ابتدایي ډول په ۲۰۰۵ کال کې جوړه شوې وه، خو فعالیت یې په ۲۰۰۹ کال کې ودرېد. دا مهال د دغې ډلې فعالیت په پراخه کچه له سره پیل شوی. د حکومت هڅې د دې لامل شوې چې دغه سازمان د افغانستان سوله او ثبات په سیمه کې د امنیت ساتلو او پیاوړي کولو مهم عامل وبولي او د افغانانو په مشرۍ د شخړو

---

۱ د ۱۳۹۷ د لېندۍ ۶مه او ۷مه، سویس
۲ Shanghai Cooperation Organization (SCO)
۳ د ۱۳۹۷ د غبرګولي ۱۹مه او ۲۰مه، چین

حلولو لپاره د هڅو ملاتړ وکړي.[1] همدارنګه د شانګهای غړو هېوادونو مشرانو په یوه خوله د افغانستان د سولې بهیر او اوربند ملاتړ وکړ، د افغانستان سوله یې د سیمې د ننبلېدو او پرمختګ لپاره مهمه وبلله او ژمنه یې وکړه چې د افغانستان په سوله او ثبات کې به همکاري کوي.[2]

**په وارسا کنفرانس کې د امنیتي همکاریو هوکړهلیک:** د پولنډ په پلازمېنه وارسا کې د ناټو د ۲۸ غړو او همکارو هېوادونو د مشرانو ناسته د ۱۳۹۵ کال د چنګاښ پر ۱۸مه او ۱۹مه وشوه. جمهور رئیس د روانو مسایلو په ځانګړې توګه له ترهګرۍ سره د مبارزې په اړه د افغانستان لیدلوری بیان کړ. افغانستان په دغه ناسته کې د ۴۲ شوو ژمنو د پرمختګ په اړه معلومات وړاندې کړل چې ۳۰ سلنه یې عملي شوې او په ۷۰ سلنه نورو کې قناعتوړ پرمختګونه شوي. په اوسني ډول تر ۲۰۱۷ کال پورې په افغانستان کې د ځینو ناټو ځواکونو ساتل؛ تر ۲۰۲۰ کال پورې له افغان ځواکونو سره د شاوخوا ۵ میلیاردو ډالرو کلنۍ مرسته؛ له ۲۰۱٦ تر ۲۰۲۴ کال وروسته هم د غوڅ ملاتړ د ماموریت غځېدل؛ په شمېر کې د هر ډول کمې له راتلو پرته د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ۳۵۲ زره کسیز تشکیل دوام؛ او د سولې په بهیر کې د افغانانو د مشرۍ ملاتړ د افغانستان لپاره د دغې ناستې مهمې هوکړې وې. د دغو همکاریو تر څنګ ناټو له افغانستانه په امنیتي او دفاعي ادارو کې د اصلاحاتو، د فساد له منځه وړلو؛ د روڼتیا او حساب‌ورکولو؛ د اقتصادي پرمختیا پیاوړې کولو؛ د ماشومانو، بشري حقونو او ښځو د حقونو ساتلو غوښتنه وکړه.

**له متحدو ایالتونو او ناټو سره د دوامدارو ستراتیژیکو اړیکو تضمین:** له متحدو ایالتونو سره دوه‌اړخیز امنیتي هوکړهلیک[3] او له ناټو سره د ځواکونو د وضعیت هوکړهلیک[4] چې په مخکېني حکومت کې نه وو لاسلیک شوي، د ۱۳۹۳ د تلې پر ۸مه لاس‌لیک شول. د ملي یووالي حکومت دغه هوکړهلیکونه له همکارو هېوادونو سره په اړیکو کې د مساواتو رامنځته کولو په موخه د یوه «خپلواک دولت» په توګه لاس‌لیک کړل، تر څو د بهرنیو همکارانو له لوري د ځواک کارول د ملګرو ملتونو د پرېکړهلیک له چوکاټه بهر شي او د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د یوه دوه‌اړخیز تړون په ډول شي. د دغو هوکړهلیکونو لاس‌لیکول له نړۍ سره د افغانستان د اړیکو په بدلون کې اساسي

۱ د شانګهای د همکاریو سازمان د پنځلسمې کلنۍ ناستې د پای اعلامیه، تاشکند، ازبکستان، د ۱۳۹۵ د چنګاښ ۴مه
۲ د شانګهای د همکاریو سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو شورا د اتلسمې ناستې د پای اعلامیه، کینګداو، چین، د ۱۳۹۷ د غبرګولي ۲۰مه
۳ Bilateral Security Agreement (BSA)
۴ Status of Forces Agreement (SOFA)

ټکی شمېرل کېږي.

**د تاشکند کنفرانس؛ د کابل پروسې د پرېکړو بیاځلي بهرنی ملاتړ:** له ازبکستان سره د اړیکو د نوي فصل په پرانیستو سره د دواړو هېوادونو چارواکو د مناسباتو او همکاریو په موخه سفرونه وکړل. د سولې، امنیتي همکاریو او سیمه‌ییز اتصال لپاره د تاشکند نړیوال کنفرانس د ازبکستان یوه همکاري ده چې له دغه هېواد سره د اړیکو د نوي فصل په پرانیستو سره د کابل پروسې[1] په امتداد د ۱۳۹۷ د وري پر ٦مه ـ ۷مه جوړ شو. په دغه کنفرانس کې نړیوالې ټولنې او د سیمې هېوادونو یو ځل بیا د کابل پروسې او د هغې د پرېکړو ملاتړ وکړ. د دغې ناستې د پای اعلامیې پر درېیو برخو، سولې او پخلاینې؛ له ترهګرۍ او نشه‌يي توکو سره پر مبارزې او سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو ټینګار کړی او له طالبانو یې غوښتي چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا او عمومي غونډې له پرېکړه‌لیک سره سم د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې وړاندیز ومني.

**د افغانستان د شرایطو له مخې سوېلي آسیا ته د امریکا د ستراتیژۍ اعلان:** د امریکا د متحدو ایالتونو جمهور رئیس ۱۳۹٦ کال د زمري پر ۳۱مه د سوېلي آسیا لپاره د خپل هېواد ستراتیژي اعلان کړه. د سوېلي آسیا لپاره د متحدو ایالتونو ستراتیژي د ډېرو مشورو او افغانستان ته د امریکا د امنیتي او استخباراتي چارواکو د سفرونو او له افغان چارواکو سره په خبرو اترو کې د مطرح شوو مهمو پوښتنو په پایله کې جوړه شوې ده. دغه ستراتیژي د وضعیت د تحلیل، د تېرو درسونو د محاسبې او د بریالیتوب د عناصرو د تشخیص لپاره د یوې هر اړخیزې پروسې محصول دی.[2] د بېلګې په توګه ویلای شو چې جمهور رئیس غني په بروکسل کې د ناټو د دفاع وزیرانو په ناسته کې (۲۰۱٦) په خپله وینا کې له شرایطو سره د سمې کړنلارې غوره کول د ناستې له غړو سره شریک کړ او له امریکایي چارواکو څخه یې د ملاتړ لپاره مننه وکړه. د دغې ستراتیژۍ مهم ټکي د وخت پر ځای د افغانستان له شرایطو سره برابروالی؛ په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د حضور لپاره د وخت نه ټاکل؛ د ترهګرۍ د ځالو له منځه وړلو لپاره پر پاکستان فشار ډېرول او په افغانستان کې د هند د رول پر ډېرولو ټینګار کول دي.

**د افغانستان لپاره واحد ملګري ملتونه:** افغانستان په ۱۳۹۴ کال کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د استازولیو د اصلاحاتو او فعالیت په موخه تر یوه واحد جوړښت لاندې د دغه سازمان د واحد او منسجم رول غوښتنه وکړه.

---

۱ د ۱۳۹٦ د کب ۹مه، کابل

۲ له خبریالانو سره د جمهور رئیس محمد اشرف غني خبرې، د ۱۳۹٦ د وري لومړۍ

دغه کړنلاره د نظم په راوستلو او ګډوډیو کمولو سره سرچینې زیږي او اغېزناکې کولی او د افغان حکومت د پروګرامونو د پیاوړي کولو لامل کېدای شي. په دې تړاو خبرې د ۲۰۱۸ ـ ۲۰۲۱ کلونو لپاره « په افغانستان کې واحد ملګري ملتونه»[۱] د پالیسۍ جوړېدو لامل شوې. د دغې پالیسۍ له مخې د نورماتیف، ښوونې او روزنې، خوراکي امنیت او د ژوند، روغتیا، بیا راستنېدنې او ځای پر ځای کولو او د قانون د واکمنۍ په برخو کې واحده بودیجه برابرېږي.

## خ ـ له اسلامي هېوادونو سره د دوستانه او ژورو اړیکو جوړول

اسلامي نړۍ او اسلامي هېوادونه د حکومت په بهرني سیاست کې ځانګړې ځای لري او په دویمه کړۍ کې راځي. له همدې امله حکومت له دغو هېوادونو سره د اړیکو ښه کولو، پیاوړي کولو او پراخولو لپاره پراخ، هدفمند او جدي فعالیتونه پیل کړل چې پام‌وړ پایلې یې لرلې دي. په تېرو څلورو کلونو کې د ملي یووالي حکومت مشرانو دغو هېوادونو ته پرله‌پسې سفرونه کړي چې د ملي ګټو په ځانګړې توګه د سولې او امنیت په برخه کې د تړینګښت لامل شوي.

**د سعودي عربستان له لوري د افغانانو په مشرۍ د سولې د بهیر ملاتړ:** د افغانانو په مشرۍ د سولې بهیر لپاره د عربستان د پادشاه ملاتړ ترلاسه کول؛ د مکې مکرمې او مدینې منورې د امامانو له لوري د افغانستان د دولت او خلکو پر وړاندې د رواني جګړې ناروا بلل؛ په افغانستان کې د ځانمرګو بریدونو د غندلو لپاره د رسمي اعلامیو خپرېدل؛ په جده کې د اسلامي نړۍ د عالمانو کنفرانس جوړېدل؛ په سعودي عربستان کې د مېشتو افغانانو د کاري او اقامتي ستونزو حلول او هغوی ته پاسپورتونه ورکول؛ له دغه هېواد سره د هوایي دهلیز جوړول او د افغانستان د محصولاتو ور لېږل هغه بریالیتوبونه دي چې افغانستان له سعودي عربستان سره د اړیکو په پراخولو کې ترلاسه کړي دي.

**د افغانستان د سولې او ثبات لپاره د اسلامي همکاریو د سازمان ملاتړ ترلاسه کول:** د ملي یووالي حکومت په دوره او سیاسي پلویو کې د اسلامي همکارۍ سازمان[۲] د افغانستان د سولې په قضیه کې فعال رول لوبولی او ژمنه یې کړې چې په افغانستان کې به د سولې په راوستو کې همکاري کوي. د افغانستان د سولې او امنیت پر موضوع په جده کې د اسلامي نړۍ د عالمانو دوه ورځنی

---

۱ One UN in Afghanistan

۲ Organization of Islamic Cooperation (OIC)

کنفرانس، د افغانستان د سولې او ثبات په اړه د اسلامي نړۍ د عالمانو د فتوا عملي کېدو لپاره د رسمي اعلامیې خپرېدل[1] او په کابل کې د دغه سازمان دایمي نماینده‌ګۍ پرانیستل[2] د دغه ملاتړ برخې دي.

**له متحدو عربي اماراتو سره د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا:** د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریز هوایي دهلېز جوړېدل؛ افغانستان ته د دغه هېواد د پانګونو او مرستو جلب؛ په سیاسي، امنیتي، اقتصادي، فرهنګي، حکومتولۍ او قانون حاکمیت برخو کې د اوږدمهالي ملګرتیا او مشارکت په برخه کې د دواړو هېوادونو تر منځ د اوږدمهالي ستراتیژیک هوکړه‌لیک لاس‌لیکول؛ د سیمې د امنیت او ثبات لپاره د افغانستان، متحدو عربي اماراتو، سعودي عربستان او امریکا د دوو ځلور اړخیزو ناستو کوربه‌توب؛ د طالبانو، امریکا، سعودي عربستان، پاکستان او متحدو عربي اماراتو د استازو تر منځ د ناستې کوربه‌توب؛ له ناټو سره د افغانستان د امنیتي ترون په چوکاټ کې د متحدو عربي اماراتو د ځانګړو ځواکونو پر لېږلو هوکړه؛ اماراتو ته د ۲۵۰۰ کاریګرو لېږلو د هوکړه‌لیک لاس‌لیکول او په اماراتو کې د افغان سوداګرو د کار اجازې د ستونزو حلول له متحدو عربي اماراتو سره د اړیکو په حوزه کې د بهرني سیاست لاسته‌راوړنې دي.

**د سولې بهیر لپاره د اندونیزیا د دیني عالمانو او دولت ملاتړ ترلاسه کول:** له اندونیزیا سره اړیکې دومره ژورې وې چې جوکو ویدودو[3] د اندونیزیا لومړنی جمهور رئیس دی چې په وروستیو شپېتو کلونو کې یې افغانستان ته سفر وکړ. ده د کابل تر سفر درې ورځې وړاندې په اسلام آباد کې د پاکستان له جمهور رئیس سره ولیدل، د افغانستان په سوله کې یې د مثبت رول لوبولو په اړه د خپل هېواد چمتووالي یادونه وکړه او په دې برخه کې یې د اندونیزیا، افغانستان او پاکستان د دیني عالمانو فعالیت اغېزناک وباله. په دغه سفر پسې د ۱۳۹٦ د کب پر ۲۵مه جاکارتا د افغانستان د جګړې پر موضوع د دریېو هېوادونو د دیني عالمانو کوربتوب وکړ او تر هغه وروسته د اندونیزیا په بوګور ښار کې (د ۱۳۹۷ د کب پر ۲۵مه) د افغانستان، پاکستان او اندونیزیا د عالمانو درې اړخیزې ناستې د افغانستان روانه جګړه ناروا او ظالمانه وبلله. هغوی ځانمرګي بریدونه د اسلام د اصولو خلاف وبلل.

**د فلسطین د ملاتړ لپاره له اسلامي نړۍ سره سم بهرنی سیاست:** د

---

۱ د افغانستان د سولې په اړه د مکې د اعلامیې عملي کېدو په ملاتړ د اسلامي همکارۍ سازمان د سرمنشي اعلامیه، د ۱۳۹۷ د زمري ۱۵مه

۲ حسین اوني بتساني د افغانستان اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر ته د باور لیک په سپارلو سره، په ۲٦ سلواغه ۱۳۹٦ نېټه، کابل کې خپل کار پیل کړ

۳ Joko Widodo

افغانستان جمهور رئیس په استانبول کې د اسلامي همکاریو سازمان د مشرانو په فوق‌العاده ناسته[1] کې په ګډون سره د فلسطین او اسرائیلو تر منځ د شخړو حلولو لپاره د مشرح او مدوني طرحې وړاندې کولو تر څنګ بیت‌المقدس د فلسطین او اسلامي نړۍ نه‌بېلېدونکې خاوره وبلله او هلته یې د امریکا متحدو ایالتونو د سفارت وړلو پر وړاندې خپل دریځ څرګند کړ.

## د ـ د افغانستان نړیوال سیاسي او مالي ملاتړ

که څه هم له لوېدیځو او اروپایي ملګرو سره د افغانستان په اړیکو کې جدي ستونزې رامنځته شوې وې او تر ۲۰۱۴ کال وړاندې مهال پورې د بهرنیو مرستو د کمېدو او یا بېخي پرې کېدو شونتیا وه، خو واک ته د ملي یووالي حکومت په رسېدو او نړیوالې ټولنې ته د افغانستان د حکومت او خلکو له لوري د پراخو او مشارکتي پروګرامونو په وړاندې کېدو سره د افغانستان په اړه د نړۍ کړنلاره مثبت لوري ته بدله شوه او د ملي پراختیایي لومړیتوبونو د هیله‌بښونکو پروګرامونو په وړاندې کولو سره نړیوالې ټولنې یو ځل بیا د لندن، بروکسل او وارسا په کنفرانسونو کې خپل پراخ او بې‌مخینې ملاتړ اعلان کړ چې په ټولیز ډول د څلورو کلونو (۲۰۱٦ـ ۲۰۲۰) لپاره له افغانستان سره د څه باندې دېرش میلیارده ډالرو پوځي او غیر پوځي مرستې ژمنه وشوه. همدارنګه ژمنه وشوه چې دغه مرستې به تر ۲۰۲۴ کاله پورې دوام وکړي.

**په لندن کنفرانس کې، ځان‌بسیاینې ته د رسېدو په برخه کې د مرستندویه هېوادونو د ژمنې نوې کول:** د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس د ۱۳۹۳ د لیندۍ پر ۱۲مه ـ ۱۳مه په بریتانیا کې جوړ شو. په دغه کنفرانس کې د اصلاحاتو ستراتیژي «ځان‌بسیاینې ته رسېدل؛ اصلاحاتو ته ژمنتیا او د مشارکت نوي کول»[2] نړیوالې ټولنې ته وړاندې شول، چې د امنیت د ښه‌والي او سیمه‌ییزې ډیپلوماسۍ د ملاتړ لپاره د زېربناوو جوړولو زیرۍ راکوي. تمویلوونکو په لندن کنفرانس کې د دغې ستراتیژۍ ملاتړ وکړ. دغه ستراتیژي «د متقابل حساب ورکولو چوکاټ له مخې پر ځان بساینه»[3] (SMAF) سند د جوړېدو او لیکل کېدو لامل شوه.

**په بروکسل کې د افغانستان د سولې او رغولو لپاره مشارکت:** د لندن تر کنفرانس دوه کاله وروسته د توکیو په ناسته کې له مخکېنۍ هوکړې سره سم «د افغانستان د سولې او رغولو لپاره مشارکت» کنفرانس د بلجیم په پلازمېنه

---

۱ د ۱۳۹٦ د لیندۍ ۲۲مه

۲ Realizing Self-Reliance: Commitments to Reforms and Renewed Partnerships

۳ Self-Reliance through Mutual Accountability Framework (SMAF)

بروکسل کې د ۱۳۹۵ د تلې پر ۱۳مه او ۱۴مه جوړ شو. افغانستان د دغه کنفرانس په درېیو حاشیوي ناستو (اقتصادي پرمختیا؛ ځواکمنې ښځې، هوسا افغانستان؛ او سیمه‌ییزه هم‌پالنه او هوساینه) کې وکولای شول یو ځل بیا نړیوال پام ځان ته را واړوي. د کنفرانس په اصلي ناسته کې «د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ» او د افغانستان پنځه لومړیتوب لرونکي ملي پروګرامونه ګډونوالو ته وړاندې شول چې هرکلی یې وشو. همدارنګه حکومت د ۲۰۱۵ـ۲۰۱٦ کلونو لپاره د دوه‌اړخیزو ژمنو د پوره کېدو په اړه راپور وړاندې کړ چې له ۳۹ ژمنو څخه ۲۰ پلې شوې وې او له ټاکلو ترونونو سره سم نورې تر کار لاندې وې. حکومت وکولای شول په دغه کنفرانس کې له ۲۰۱۷ تر ۲۰۲۰ کال پورې د خپلو پروګرامونو د تمویل لپاره د ۱۵,۲٦۴ میلیاردو امریکایي ډالرو ژمنه واخلي.

**د جنېوا ناسته:** د افغانستان په اړه د جنېوا ناسته د ۱۳۹۷ د لیندۍ پر ٦مه او ۷مه په سویس کې د افغانستان او ملګرو ملتونو سازمان په ګډ ریاست سره د ملګرو ملتونو په اروپایي ودانۍ کې وشوه. افغانستان په بروکسل ناسته کې د شوو ژمنو د عملي کېدو په اړه راپور وړاندې کړ. د دغې ناستې د کېدو تر وخته ۴۰ سلنه ژمنې عملي شوې وې او پاتې نورې به یې په راتلونکو دوو کلونو کې عملي شي. نړیوالې ټولنې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د حکومت پراختیایي او اصلاحي پروګرامونه وستایل او د سولې لار نقشې هرکلی یې وکړ چې د جمهور رئیس له لوري وړاندې شوه. د ملي یووالي حکومت اساسي پیغام په وچه کې د راګیر هېواد په توګه د افغانستان رول د نړیوالې ټولنې تر څنګ پر یوه «اغېزناک شریک» بدلول وو. همدارنګه «د جنېوا د دوه‌اړخیزې ځواب‌ویني چوکاټ» له مخې نوي تدابیر له دوو مهمو موخو یعني د نړیوالو مرستو د لا ډېرې همغږۍ او موثریت او د افغانستان د سولې او پرمختیا د ملي چوکاټ په پلي کېدو کې د پرمختګونو له ښه‌والي سره جوړ شول. اروپایي ټولنې له افغانستان سره د ۴۷۴ میلیون ډالرو مرستې تړون لاس‌لیک کړ او د آلمان حکومت هم ۵,۴ میلیارده افغانۍ د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړه. د آسیا پرمختیایي بانک مرستیال هم د دوو میلیارد ډالرو پانګونې ژمنه وکړه چې د لویو سیمه‌ییزو طرحو، بندونو جوړولو، اوسپنې پټلۍ او منځنیو او کوچنیو سوداګریو لپاره د پور چمتو کولو لپاره به وکارول شي.

**د جګپوړي پلاوي په ناستو کې د پرمختګونو مثبت ارزول:** «جګپوړی پلاوی»[1] د افغانستان د حکومت او تمویلوونکو هېوادونو تر منځ د همغږۍ تر ټولو لوړ مېکانېزم دی چې په هغه کې د بدلون په لسیزه کې له افغانستان سره د

---

۱ Senior Officials Meeting

نړیوالو مرستو پر اغېزناک دوام هوکړه وشوه. د جګپوړي پلاوي دويمه او درېيمه غونډه د افغانستان او یوناما په ګډ ریاست سره د ملي یووالي حکومت پر مهال جوړې شوې دي.  افغانستان په دويمه ناسته کې (د ۱۳۹۴ د وږي ۱۴مه) بریالی و او د ژمنو په ارزولو کې يې د نړیوالې ټولنې قناعت ترلاسه کړ. په دې غونډه کې د حکومت مهمه لاسته‌راوړنه دا وه، چې نړیواله ټولنه به د خپلو مرستو ۵۰ سلنه د دولت د بودیجې له لارې او د پاتې بوديجې ۸۰ سلنه به يې د دولت د پروګرامونو او د حکومت نورو لومړیتوبونو ته په پام مصرفېږي. همدارنګه په درېيمه ناسته کې (د ۱۳۹٦ د تلې پر ۱۲مه) هم افغانستان بریالی را څرګند شو او ګډونوالو بیاځلي ټینګار وکړ چې د بودیجې له لارې د مرستو ځانګړي کول به حکومت ملي لومړیتوبونو ته د رسېدو او په اړوندو برخو کې د اصلاحاتو راوستو جوګه کړي.

**د جي۷+ ناستې کوربتوب:** د جي۷+ هېوادونو دوه ورځنۍ څلورمه غونډه د افغانستان په کوربه‌توب او د دغه سازمان د غړیتوب لرونکو ۲۰ هېوادونو د لوړپوړو چارواکو او وزیرانو او نړیوالو ادارو د استازو په ګډون د ۱۳۹۵ د وږي پر ۴مه ـ ۵مه د بهرنيو چارو وزارت په ودانۍ کې وشوه. په دې غونډه کې د پایداره پرمختیا په موخه پر یوه مېکانېزم هوکړه وشوه، چې د ملګرو ملتونو سازمان عمومي اسمبلۍ تصویب کړی او په هغه کې له ناورین سره د مخ هېوادونو د پرمختګ کچې د تشخیص لپاره ۱۹ شاخصونه طرحه شوي.

**د نظارت او انسجام د ګډ بورډ بریالۍ ناستې جوړول:** د نړیوالې ټولنې د قناعت او افغانستان د خلکو د ډاډ لپاره د افغانستان د حکومت او تمویلوونکو هېوادونو تر منځ د همغږۍ تر ټولو اساسي میکانېزم د نظارت او انسجام[1] ګډ بورډ دی. د نظارت او انسجام د ګډ بورډ دوې ناستې (د ۱۳۹۵ د وږي ۱۴مه، د ۱۳۹۵ د وري ۱٦مه) د وارسا (۲۰۱٦) او بروکسل (۲۰۱٦) کنفرانسونو ته د چمتووالي لپاره جوړې شوې. همدارنګه د ګډ بورډ شلمه ناسته (د ۱۳۹٦ د چنګاښ ۱۸مه) تر بروکسل کنفرانس (۲۰۱٦) وروسته پرمختګونه او د کنفرانس ژمنې عملي کېدل وارزول. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په دغه ناسته کې وویل چې افغانستان توانېدلی مهم، پېچلي او له ننګونو ډک اصلاحات راولي. د ګډ بورډ یوویشتمه ناسته (د ۱۳۹۷ د چنګاښ ۲۷مه) «د جنېوا کنفرانس پر لور» په نوم جوړه شوه.

**د ملګرو ملتونو په ادارو کې د افغانستان د اغېزناک رول لوبول:** په ملګرو

---

۱ Joint Coordination and Monitoring Board (JCMB)

ملتونو کې د افغانستان نمایندهګۍ وکولای شول په یوه رقابت کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا درې کلن غړیتوب ترلاسه کړي. د یوناما د ماموریت د تمدید پریکړه‌لیکونه او په افغانستان کې روان وضعیت چې هر کال نوی نظر پرې کېږي، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د نمایندهګۍ له فعالیت سره لا ډېر اغېزناک شوي او نور په هېواد کې د ناورین لاملونه یوه داخلي ستونزه نه بولي. همدارنګه افغانستان د لومړي ځل لپاره «د چمتو شوو چاودېدونکو توکو له ګواښ سره د مقابلې» او «د ترهګرۍ د قربانیانو د درناوي او نمانځنې ورځې» (د اګېسټ ۲۱مه) پرېکړه‌لیکونه په خپلواکه توګه طرحه کړي او د عمومي اسمبلۍ تر تصویبه یې رسولي دي. افغانستان د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ریفورم په اړه خپله پالیسي هم جوړه کړه او په بین‌حکومتي خبرو اترو کې یې په دې تړاو فعاله ونډه اخیستې ده.

**له فساد سره د مبارزې په اړه د اروپايي ټولنې کلنۍ ناسته:** له فساد سره د مبارزې په اړه د اروپايي ټولنې کلنۍ دوې ناستې «په افغانستان کې له فساد سره د کلکې مبارزې» او «د فساد کمولی، د سولې پرمختګ» په عنوانونو د ملي یووالي حکومت په دوره کې په ارګ کې وشوې. په دغو ناستو کې د حکومت چارواکو له فساد سره د مبارزې په برخه کې د خپلو هڅو په اړه خبرې وکړې او په دې برخه کې یې د اروپايي ټولنې له وړاندیزونو او نظرونو څخه کار اخیستی. اروپايي ټولنې له فساد سره د مبارزې لپاره د ملي یووالي حکومت د ارادې یادونه وکړه او له فساد سره یې د مبارزې لپاره له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې ژمنه بیا یاده کړه.[1]

---

۱ په کابل کې د اروپايي ټولنې د استازي مایکل میلبن وینا، له فساد سره د مبارزې په برخه کې د اروپايي ټولنې درېیمه ناسته، د ۱۳۹۶ د غویي ۱۸مه

خومره لاره مو وهلې؟
١ بهرنی سیاست


# ٢ اقتصادي انکشاف

٣ سوله
۴ امنیت
۵ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا
٦ تولنیز انکشاف

*ملي یووالي حکومت پەداسې شرایطو کې کار پیل کړ چې افغانستان له درېیو؛ امنیتي، سیاسي او اقتصادي انتقالونو سره مخ و، د هېواد خزانه له مالي سرچینو خالي او اقتصادي ځوړ پر هېواد سیوری غوړولی و. د اقتصادي ودې ځوړ چې په ۱۳۹۲کال کې پیل شوی و، په ۱۳۹۴ کال کې ۰.۸ سلنې ته ورسېد. د جګړې له سختوالي او د یادو درېیو انتقالونو له امله له رامنځته شوو ننګونو سره سره، د ملي یووالي حکومت د لوړ خو عملي لیدلوري په رامنځته کولو او همدارنګه د اغېزناکو ستراتیژیو په وړاندې کولو سره وکولای شوای هېواد ته اقتصادي تحرک را وګرځوي او د حکومتولۍ د اجنډا په لومړیتوب کې اقتصادي او د هوساینې پروګرامونه ځای پر ځای کړي.*

د نسبي اقتصادي ثبات ساتل

د بانکوالۍ پیاوړي کول

د کلیوالي اقتصاد پیاوړتیا او هوساینه

د هېواد په اقتصادي نظام کې د ځمکې د اهمیت ډېرول

د انرژۍ د تولید پراخول او برېښنا رسول

د اوبو کنترول او مدیریت

د کرنې او مالدارۍ وده

د ښاري زېربناوو پرمختیا

د تولیدي صنایعو پیاوړي کول

د سوداګرۍ او ټرانزیټ وده

د زېربناوو پرمختیا او ترانزیتي آسانتیاوې

د کانونو په سکتور کې اصلاحات

د مخابراتي زېربناوو پرمختیا

عبدالعزیز حیدري

## الف ـ د نسبي اقتصادي ثبات ساتل

له ننګونو سره سره، د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۷ کلونو ترمنځ اقتصادي وده له ۰.۸سلنې څخه ۲,۵ سلنې ته لوړه شوه. همدارنګه د اقتصادي پړسوب کچه له پنځه سلنې ټیټه وساتل شوه او هېواد د ۱۳۹۴ کال له سخ ډیفلاسیون (۱,۵- سلنې) څخه وایستل شو. د ملي بودیجې لګښت په ۱۳۹۷ کال کې ریکارډ جوړ کړ او د لګښت کچه یې ۹۱ سلنې ته ورسېده. پر دې سربېره، د ملي یووالي حکومت په دوره کې د عوایدو کچه مخ په لوړه روانه وه او ۹۰ سلنه زیاتوالی یې درلود، د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۷ کال کې شاوخوا ۲,۵ میلیارده ډالر ملي عواید راټول شول. افغانستان د کسب او کار په برخه کې د اصلاحاتو په راوړلو او له خصوصي سکتور څخه په پراخ ملاتړ سره وکولای شول په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د نړیوال بانک «د کاروبار کولو» په راپور[۱] کې د ۱۹۰ هېوادونو ترمنځ د کسب او کار د ترټولو ښه اصلاح راوړونکي[۲] لقب خپل کړي. د ملي یووالي حکومت همداراز وکولای شوی د اسعارو الزامي ذخایر د ۷ میلیارده ډالرو په کچه (چې د هېواد د لسو میاشتو وارداتو برابر کېږي او یوه معیاري کچه ده) وساتي.

**د جامع اقتصادي لیدلوري تثبیت:** حکومت له یوه غیر حقیقي او په بهرنیو مرستو تړلي اقتصاد څخه یوه حقیقي او پر ځان بسیا اقتصاد ته د ستنېدو لپاره د افغانستان د اقتصادي راتلونکي لپاره څو اړخیز لیدلوري تثبیت او پیاوړي کړي دي. د هېواد په ځان بسیا کول، د عامه هوساینې ټینګښت او د نړیوال اقتصاد لپاره د حساب وړ شریک په توګه د هېواد د اقتصاد بدلول، ټولیز اقتصادي لیدلوري دي. د دغه لیدلوري په اساسي محورونو کې لاندې موارد راځي: ۱) د اسیا پر څلورلارې د افغانستان بدلول، ۲) د تولیدي او متحرک اقتصاد رامنځته کول، ۳) د طبیعي سرچینو اغېزناک مدیریت او ګټه اخیستنه،۴) د خدماتو د سکتور پراختیا.

**د اقتصادي ودې راګرځول:** حکومت د قانون جوړونې، کسب او کار د فضا په ښه والي، د سوداګرۍ د ودې، د سیمې له اقتصاد سره د هېواد د اقتصادي اتصال، د کروندګرو او سوداګرو لپاره د نوو بازارانو پرانیستلو او د لویو سیمه‌ییزو پروژو د عملیاتي کولو په برخه کې د یو لړ اقداماتو په کولو سره د هېواد په اقتصاد کې بنسټیز تحرک رامنځته او اقتصادي وده یې ښېرته په لوړېدو کړه.

۱ Doing Business Report
۲ Best Performer in Doing Business 2019 Report

**لومړی شکل:**

*په تېرو ځلورو کلونو کې د افغانستان کلنۍ اقتصادي وده په سلنې سره*




**د پړسوب (تورم) کنترول:** د پولي سیاستونو او مالي اصلاحاتو او د اسعارو متحول مدیریت شوي رژیم په چوکاټ کې او په اقتصاد کې له تحرک رامنځته کېدو سره، ملي یووالي حکومت په لومړیو کې د ۱۳۹۴ کال ډیفلاسیون قابو کړ او وروسته یې د پړسوب (تورم) کچه په یوه‌رقمي عدد تر ۵ سلنې ټیټه وساتله.

**دویم شکل:**

*په وروستیو ځلورو کلونو کې د افغانستان د پړسوب (تورم) کچه په سلنې*




**د بودیجې په جوړولو کې اصلاحات:** حکومت د ۱۳۹۷ کال لپاره یوه ملي یو لاس او منسجمه[۱] بودیجه چمتو کړه. د ۱۳۹۷ کال ملي بودیجه په لومړي ځل د حکومت د مالي احصایې له نړیوالو معیارونو[۲] او د بودیجې وېش د دولت د دندو پر اساس[۳] جوړ کړ؛ همدارنګه ټوله بودیجه د افغاني پولي واحد پر اساس جوړه شوه. د ۱۳۹۶ مالي کال بودیجه د پرانیستې بودیجې په نړیوال شاخص[۴] کې له ۱۰۰

۱ Consolidated National Budget
۲ GFS
۳ COFOG
۴ Open Budget Indicators

ځخه ۴۹ نمرې واخیستې او د نړیوال اوسط له کچې چې ۴۲ نمرې دي، پورته مقام خپل کړ. د یادولو وړ ده چې په همدغه کال کې، ملي بودیجې په سیمه کې د ټر ټولو شفافې بودیجې دویمه رتبه هم ترلاسه کړه.[۱]

**د ملي بودیجې لګښت:** په وروستیو ځلورو کلونو کې د پراختیایي بودیجې په لګولو کې هر کال ډېروالی راغلی او په ۱۳۹۷ کال کې ۹۱ سلنې ته ورسېده چې په تېرو ۱۷ کلونو کې تر ټولو لوړه کچه ده.

*درېیم شکل:*

*د وروستیو پنځو کلونو په جریان کې د پراختیایي بودیجې د لګښت سلنه*




**د ملي عوایدو لوړېدل:** یوه له هغو برخو چې حکومت په مهمو لاسته راوړنو کې یې شمېرلی شو، د عوایدو په راټولولو کې اصلاحات دي؛ په دغه دوره کې ملي عوایدو شاوخوا ۹۰ سلنه وده کړې او په ۱۳۹۷ کال کې ۱۸۹ میلیارده افغانۍ چې ۲,۵ میلیارده ډالره کېږي راټولې شوې دي.

*ځلورم شکل:*

*له ۱۳۹۰ تر ۱۳۹۷ کال پورې راټول شوي دولتي عواید (میلیارد افغانۍ)*




۱ Open Budget Survey (2017)

**د ژمنه شوو مالي اصلاحاتو تحقق:** د اصلاحاتو لپاره د پیسو د نړیوال صندوق[۱] له‌خوا ټاکل شوي ټول بنچمارکونه او موخې، د افغانستان د حکومت له‌خوا پلي شوي دي. د پیسو نړیوال صندوق په ځلورو څېړنو کې (وروستۍ د ۲۰۱۸ په ډسمبر کې) د ټاکل شوو اصلاحاتو پلي کول منلي چې له دې امله یې د افغانستان دولت ته د هڅونې په موخه پیسې هم ورکړې دي. د پیسو نړیوال صندوق هوکړه کړې چې دغه بهیر د تمدید شوو بسپنو د اسانتیا پروګرام[۲] په نامه د یوه بل کال لپاره (د ۲۰۱۹ تر ډسمبر پورې) وغځوي.

**د کسب او کار د فضا ښه‌والی:** د کسب او کار د فضا د شاخصونو[۳] په ښه‌والي کې اصلاحات او له خصوصي سکتور څخه پراخ ملاتړ د دې لامل شوی، چې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې افغانستان د نړیوال بانک د کاروبار کولو په راپور[۴] کې، ۱۶۷م مقام خپل کړي او د کسب او کار په برخو کې د غوره اصلاح راوړونکي[۵] لقب وګټي. په کابل او ۱۶ نورو ولایتونو کې تر یوه چتر لاندې د سوداګرۍ او پانګونې د جوازونو د ثبت او ورکړې د مرکز رامنځته کول، له ۴۴۰ ډالرو څخه یوازې یوه ډالر ته د جواز اخیستلو د لګښت راټیټول، خصوصي سکتور ته د ځمکې برابرول، سوداګرو ته د نوو ټرانزیټي لارو پرانیستل، په ملي تدارکاتو کې کورنیو محصولاتو ته ترجېح ورکول، د پانګې د ترلاسه کولو او دېوالي کېدو (ورشکستګۍ) په پروسیجرونو کې د لا ډېرې اسانتیا په موخه د دېوالي کېدو (ورشکستګۍ) د نوي قانون نافذول او د پانګوالو د حقونو د ساتنې په موخه د شرکتونو د قانون نافذول، هغه اصلاحي موارد دي، چې د ملي یووالي حکومت له‌خوا د خصوصي سکتور د ملاتړ او د کسب او کار د فضا ښه‌والي لپاره شوي دي.

**د عامه - خصوصي مشارکت پیاوړي کول:** حکومت په زیربنایي پروژو کې د داخلي او خارجي پانګې د جلب لپاره له عامه – خصوصي موډل څخه د اغېزناکې استفادې لپاره نړدې ټول قانوني او اداري بنسټونه په پام کې ونیول. اوسمهال څو لویې زیربنایي پروژې لکه د کجکي بند دویم فاز، له ګازي سرچینو د برېښنا د تولید دوې پروژې (د بیات پاور او مزارشریف غضنفر ګروپ پروژې) او په کندهار کې د ۳۰ مېګاواټه لمریزې برېښنا بټۍ او دې ته ورته نورې پروژې د پلي کېدو په حال کې دي.

۱ IMF
۲ Extended Credit Facility Program
۳ Doing Business Indicators
۴ Doing Business 2019 Report
۵ Best Performer

**د نړیوالو مرستو جلب او جذب:** د اغېزناکو پالیسیو جوړول، د پراخو اصلاحاتو پلي کول، د ګډو ګټو او ګواښونو د تعریف په برخه کې فعاله ډیپلوماسي د دې لامل شوه، چې حکومت د نړیوالې ټولنې پراخ مالي ملاتړ ترلاسه کړي. د وارسا (۲۰۱٦) او بروکسل (۲۰۱٦) په دوو کنفرانسونو کې د ملي یووالي حکومت په پروګرام ګډون د افغانستان د دولت په پوځي او ملکي برخو کې د نړیوالې ټولنې د شاوخوا ۳۱ میلیارده ډالرو د ژمنې لامل شو.

## ب - د بانکوالۍ پیاوړې کول

حکومت په دې درک سره چې یوازې خپلواک مرکزي بانک د بانکوالۍ سیستم د استقرار او د پیسو د رسمي نظام له لارې، د لوی اقتصاد نظم ساتلی شي، هڅه وکړه د مرکزي بانک خپلواکي وساتي. همدارنګه حکومت د اداراتي پیاوړتیا له لارې د بانکوالۍ په نظام کې د اصلاحاتو او د بانکوالۍ پر سیستم د خلکو د بیا باوري کولو د لړۍ ملاتړ هم کړی دی.

**د بانکوالۍ پر نظام د خلکو بیا باوري کول:** د کمزورو بانکونو د وضعیت ښه‌والي په موخه د مشخصو او تدوین شوو پروګرامونو او ستراتیژیو جوړول؛ د بانکونو له کړنو تعقیبي او پرله‌پسې څارنه او د څارنې په طریقه کې اصلاحات او بدلون؛ د مرکزي بانک د ظرفیت لوړول او د جوړښت اصلاح؛ د قانوني او مقرراتي چوکاټ تعدیل / جوړول؛ او بانکونو ته د خلکو د ۹۵ سلنه سپارل شوو پیسو بیمه د بانکوالۍ پر نظام د خلکو د بیا باوري کېدو لامل شول. همدارنګه له پنځو کلونو وروسته د مرکزي بانک د څارنې په سیستم کې د اجرا شوو اصلاحاتو په پایله کې افغانستان د مالي کړنو د ډلې[1] له خړ لیست څخه ووت.

**پور ورکولو ته د خصوصي بانکونو هڅول:** د پورونو د تضمین طرحه چې د مرکزي بانک او نړیوال بانک له‌خوا جوړه شوې ده د خطر د کنټرول د یوې وسیلې په توګه کارول کېږي؛ ترڅو یې پر اساس بانکونه د خصوصي سکتور تمویل ته وهڅول شي.

**د افغان ملي بانک د پور ورکولو ډېرېدل:** د ۱۳۹۳ او ۱۳۹۷ کلونو ترمنځ غوښتونکو ته د افغان ملي بانک له‌خوا د پورونو ورکړه ۱۲۲ سلنه لوړه شوې ده.

---
۱ Financial Action Task Force (FATF)

**پنځم شکل:**

*له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۸ میلادي کال پورې د افغان ملي بانک له‌خوا د افغانیو په میلیارد ورکړل شوي پورونه*




**د بریښنایي بانکوالۍ پیاوړي کول او پراخول:** اوسمهال د پیسو د ورکړې له ۳۳۲ ډېر اتومات ماشینونه (ATM) او ۱۶۷ کارت لوستونکي ماشینونه (POS) په مارکېټ کې فعال دي، چې د هېوادوالو او د بانکي سیستم د پېرودونکو له‌خوا کارول کېږي. همدارنګه د افغانستان د تادیاتو د سیستم له‌خوا مارکېټ ته له ۱۰ زرو ډېر د پیسو د ورکړې کارتونه (AfpayCards) وارد شوي دي.

**د اسلامي بانکوالۍ پیاوړي کول:** اسلامي بانکوالي په تېرو څلورو کلونو کې د پام وړ وده لري. د بېلګې په توګه د اسلامي بانکوالۍ د سیستم سپارل شوې پیسې د ۱۳۹۷ کال په وروستیو کې ۲۰،۹۵ میلیارده افغانۍ وې؛ چې همدې وخت ته په پام د ۱۳۹۳ کال په پرتله یې ۱۷۵ سلنه وده کړې. حکومت د بانکوالۍ د قانون په تعدیل سره، د اسلامي بانکوالۍ قانوني او مقرراتي چوکاټ رامنځته کړ. پر دې سربېره ۴۵ مقررې، لارښودونه او د اسلامي بانکوالۍ د محصولاتو طرحه هم جوړه او پلې شوه.

## پ ـ د کلیوالي اقتصاد پیاوړتیا او هوساینه

په وروستیو څلورو کلونو کې د هېواد د ۳۴ ولایتونو د ۳۸۶ ولسوالیو په کچه په ۱۹۴۱۹ کلیو کې ۳۰۵۳۴ پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي، چې د اقتصاد پر پیاوړي کولو او د کلیوالي هوساینې پر رامنځته کولو مستقیم اغېز لري. دغو پروژو د څه باندې یو میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت، شاوخوا ۱۷ میلیونه کلیوال مېشتي تر خپل پوښښ لاندې نیولي دي.

**د کلیوالي صنایعو پرمختیا:** د کلیوالي صنایعو د پرمختیا ملي پروګرام د سپما د

۵ زرو ډلو رامنځته کول او د هغوی دوامدار پیاوړي کول؛ د کلیو د پور او سپما د ۵۰۸ اتحادیو جوړول او د هغوی ملاتړ؛ د ۱۳۰۰ تولیدي ډلو جوړول او د هغوی دوامدار ملاتړ؛ د ۶۰۰ په شاوخوا کې کوچنیو کلیوالي تشبثاتو د ظرفیت لوړول او پیاوړي کول؛ د کلیوالي صنایعو د وړاندې کولو لپاره د نندارتونونو جوړول؛ د مالي او تخنیکي خدماتو د وړاندې کولو له لارې یې پایدار کاري فرصتونه او په کلیو کې د کار او بار پراختیا رامنځته کړې. د دغه ملي پروګرام له ۵۰ سلنه ډېرې ګټه اخیستونکې ښځې دي.

**د ولسي تړون د پروګرام طرحه او پلي کول[1]:** د ولسي تړون ملي پروګرام د حکومت او خلکو ترمنځ تړون دی، چې د اساسي خدماتو په وړاندې کولو سره له خلکو سره د دولت رول په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې ډېر پیاوړی کوي. دغه پروګرام به په لسو کلونو کې په دریو پړاوونو کې پلی شي. افغانستان د دغه پروګرام طرحه د بروکسل په (۲۰۱۶) کنفرانس کې نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړه. د دغه پروګرام لومړی پړاو (څلور کلونه) په ۶۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو بودیجې تر اجرا لاندې دی، چې د کلیو ۱۳ زره انکشافي شوراګانې یې تر پوښښ لاندې نیولې دي.

**د کلیوالي نښلېدو په برخه کې ښه‌والی:** په وروستیو څلورو کلونو کې، د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لارو جوړولو ملي پروګرام، چې شاوخوا ۶,۵ میلیونه کلیوال مېشتو وګړو ته یې ښار او نورو کلیو ته د ۷۳۴ ډېرو سړک جوړولو او ترانسپورتي پروژو (۲۵۰۰ کیلومتره سړک او ۴۴۷۰ متره پل) له‌لارې د نښلېدو زمینه برابره کړې ده. همدارنګه د ټولګټو وزارت په کلیو کې ۴۸۰ کیلومېتره اسفالټي سړک، ۵۳۰ کیلومېتره جغلي سړک، ۲۸۸۱ مېتره کانکریټي پل او ۱۴۵ زره مېتره پولچکونه جوړ کړي دي.

**په کلیوالي سیمو کې د انرژۍ برابرول:** په وروستیو څلورو کلونو کې د کلیو لپاره د انرژۍ برابرولو شپږ پروژې د ۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي چې د ۴۰۰ زرو په شاوخوا کې ګټه اخیستونکي لري.

---

۱ Citizens’ Charter National Priority Program (CCNPP)

## ت ـ د هېواد په اقتصادي نظام کې د ځمکې د اهمیت ډېرول

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته د هېواد په اقتصادي نظام کې د ځمکې اهمیت بیا تعریف شو، د ځمکوالۍ په نظام کې اصلاحات د لومړیتوبونو په سر کې دي، پنځوس کلنه لار نقشه طرحه شوه او د ځمکې ملي پالیسي جوړه شوه. همدارنګه د ملي یووالي حکومت په دوره کې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون او د استملاکو قانون نافذ شو؛ ترڅو د ځمکوالۍ په نظام کې د پراخو اصلاحاتو د راوستو په برخه کې قانوني تشه ډکه شي.

**د پانګونې د ودې په موخه د دولتي ځمکو د بانک جوړول:** په ۱۳۹۷ کال کې حکومت، په ۲۸ ولایتونو کې د دولتي ځمکو د معلوماتي بانک د پراختیا عملي کارونه پیل کړل. شاوخوا ۲ میلیونه جریبه دولتي ځمکه به د ٦٥ ځانګړنو په پام کې نیولو سره په بریښنایي توګه د ۱۳۹۸مالي کال تر پایه سروې او ثبتېږي. د دولتي ځمکو بانک به د دولتي ځمکو او عامه ملکیتونو د دقیقو شمېرو په وړاندې کولو سره، د پانګونو، بنسټیزو او ټولګټو پروژو د پلي کولو لپاره د ځمکې د ځانګړې کولو په چارو کې ډېره اسانتیا رامنځته کړي.

**د دولتي ځمکو اجاره او ورکړه:** د افغانستان د ځمکو ادارې (اراضي) په تېرو څلورو کلونو کې ۱٦۴ زره جریبه دولتي ځمکه خصوصي سکتور ته په اجاره ورکړې ده چې د شاوخوا ۷۳۰ میلیونو ډالرو پانګونه پرې شوې ده. همدارنګه د دولتي پروژو د پلي کولو او د عامه – خصوصي مشارکت د ملاتړ په موخه شاوخوا ۲۴۳ زره جریبه دولتي ځمکه په ټول هېواد کې غوښتونکو ادارو ته ورکړل شوې ده.

**د ملکیت په بازار کې د ثبات راوستلو په موخه د ځمکو د بیې ټاکلو د سیستم رامنځته کول:** د ځمکې او ملکیتونو د بیې ټاکلو پروګرام طرحه او پلي کول یې پیل شوي چې له دې لارې د معاصرې ټکنالوژۍ په کارولو سره د ښاري او کلیوالي ځمکو او ملکیتونو د پېر، پلور، کرایې او اجارې ریښتینې بیې ټاکل کېږي.

## ث ـ د انرژۍ د تولید پراخول او بریښنا رسول

حکومت په هېواد کې له اوبو، باد، لمریزو او ګازي سرچینو څخه د انرژۍ د تولید د پراخ ظرفیت په درک سره هڅه کړې له دغه پوټېنشل څخه د ګټې اخیستنې لپاره حقوقي، اداراتي او ظرفیتي زمینه مساعده کړي. د بریښنا د تولید لپاره د بند جوړولو په برخه کې لوی تحرک رامنځته شوی او دغه راز له بیا نوي کېدونکو

سرچینو د انرژۍ د تولید د بنسټیز کولو لپاره له لمریزو او اوبي سرچینو د انرژۍ د تولید لومړنۍ پروژې پیل شوې دي.

**له داخلي سرچینو د انرژۍ تولید:** د سلما بند د ساختماني کار له بشپړېدو او ګټې ته له سپارل کېدو او د څو نورو بندونو د توربینونو ترمیم او بیا جوړولو او د بامیانو د لمریزې برېښنا او د هرات د لمریزې او بادي برېښنا د بټۍ پرانیستلو سره د هېواد د تولید ظرفیت ۱۶۵ مېګاواټه زیات شوی دی. د اوبو د ۲۵ بندونو د مطالعې او جوړولو، د برېښنا د ۱۳ لمریزو بټیو او له ګازي سرچینو څخه د تولید د ۲ بټیو پر پروژو کار روان دی چې په ټول کې به ۸۵۵ مېګاواټه نوره برېښنا راپیدا شي.

**د وارداتي برېښنا او د برېښنا د شبکې د ګټه اخیستونکو زیاتول:** د اقتصادي فعالیتونو او د ټولنې د هوساینې د کچې د لوړولو په موخه شبکو ته د برېښنا د وېش د ډېرولو لپاره، د برېښنا واردات د ۱۳۹۳ کال په پرتله، په ۱۳۹۶ کال کې ۲۵ سلنه ډېروالی درلود. د وارداتي برېښنا د کچې له شته پلان سره سم، د وارداتي برېښنا کچه به د ۱۳۹۳ کال پرتله په ۴۲ سلنه ډېروالي سره د ۱۳۹۷ کال تر پایه په کال کې ۵ میلیونه او ۲۳۲ کیلوواټه ساعت ته ورسیږي. د برېښنا شرکت د معلوماتو پر بنسټ د برېښنا شبکې پېرودونکي د ۱۳۹۳ کال په پرتله په ۱۳۹۷ کال کې، شاوخوا ۲۶ سلنه ډېر شوي دي.

*شپږم شکل:*
*د وارداتي برېښنا د کچې ډېروالی*




**د برېښنا د وېش شبکو پراختیا:** د برېښنا رسولو پروژې په ۱۵ولایتونو کې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې او په ټول هېواد کې ۲۵۰۷ ترانسفرمر لګول شوي دي. په ولایتونو کې ۱۲ نوې سبسټېشنونه جوړ شوي دي چې ټول ظرفیت یې ۷۹۳,۵ مېګاولټ امپیره دی. سربېره پر دې، ۷ سب سټېشنونه پیاوړي شوي

چې ټول ظرفیت یې ۳۹۵ مېګاولټ امپیره دی. همدارنګه په ۲۰ ولایتونو کې د سب‌ستېشنونو او د لینونو د تمدید کار جریان لري. په تېرو څلورو کلونو کې، ۶ ولایتونه (کاپیسا، میدان وردګ، غزني، لوګر، پکتیا او بادغیس) د برېښنا له ملي شبکې سره تړل شوي او دایکندي او نورستان ولایتونه د لومړي ځل لپاره د برېښنا له نعمت برخمن شوي دي.

**د صنعتي پارکونو لپاره د برېښنا چمتو کول:** په وروستیو څلورو کلونو کې د شوراندام، امیر علي‌شېر نوایي او شېخ مصري درې صنعتي پارکونه د عمومي برېښنا رسونې له سیستم سره تړل شوي دي، چې په پایله کې د ۱۱۵ میلیونه ډالرو په ارزښت د پانګونې د جلب لامل شوي دي. په دغو پارکونو کې له ۹۰ ډوله ډېر توکي تولیدېږي. په تولیز ډول، د هغو فابریکو شمېر ۵۲ سلنه لوړ شوی چې برېښنا د توزیع په دولتي شبکه کې شاملې دي.

## ج ـ د اوبو کنترول او مدیریت

ملي یووالي حکومت د واک له پیله د اوبو د کنترول او مدیریت موضوع په خپلو لومړیتوبونو کې راوستې ده. د سلما بند د رغېدو په چټکوالي او د دغه بند په تل کې د ۶۴۰ میلیونه مېتره مکعب اوبو زېرمه کولو سره، د ملي یووالي حکومت وښوده چې له نړیوالو قوانینو سره سم د هېواد د اوبو د کنترول په برخه کې قاطع او جدي دی.

**د بندونو جوړولو د کار بنه کېدل:** په وروستیو څلورو کلونو کې، د اوبو د ۱۲ بندونو د رغېدو او کار پراو پیل شوی دی. همداراز د اوبو ۵ بندونه د ډیزاین او ۹ نور بندونه د اقتصادي، چاپېریالي، تفصیلي ډیزاین او امکان سنجۍ د مطالعاتو په پړاو کې دي. د دغو بندونو په جوړولو سره اټکل کېږي چې د ۶ میلیارد مېتر مکعب په شاوخوا کې اوبه زېرمه شي او همدارنګه له ۷۳۵ زره هکتاره ډېره شاړه ځمکه خړوبه شي.

**د ابو لګولو د شبکو پراختیا:** د اوبو د تاسیساتو (سربندونو او کانالونو) د اصلاح او بیا جوړولو ملي پروګرام ګټې اخیستنې ته د ۶۵۲ پروژو په سپارلو له ۱۰۰ زر هکتاره ډېره ځمکه چې پخوا له اوبو لګولو پاتې وه، بیا ځلي خړوبولو ته چمتو کړه. د کرنې وزارت له‌خوا د اوبو لګولو ۵۴۹ نوې شبکې هم بشپړې شوې دي. پر دې سربېره، په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروګرام، په ۲۳ ولایتونو کې د اوبو لګولو ۱۳۷ شبکې بیاجوړې کړې چې له ۴۳ زره هکتاره ډېره ځمکه خړوبوي.

**تر ځمکې لاندې اوبو د مصنوعي تغذيې پروګرام:**[۱] په کابل ښار کې په ازمايښتي توګه پيل شوی دی. دغه پروژه د آسيا پرمختيايي بانک (ADB) او د امريکا د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) په مالي او تخنيکي مرسته طرحه شوې چې په درېيو کلونو کې يې ازمايښتي پړاو پلی کېږي.

**د سېلابونو د ويجاړېدو کمول:** په پنځو سيندېزو حوزو کې ۳۰۴ تحکيماتي پروژې بشپړې شوې دي، چې په پايله کې يې د سيندونو د ٦۹ زره مېتر مربع ساحلي برخو او ۲۴ زره هکتاره ځمکې او د دولتي او ټولګټو تاسيساتو د ويجاړېدو او د ۲۲ زره کورنيو د بې‌ځايه کېدو مخنيوی شوی.

## چ ـ د کرنې او مالدارۍ وده

د نړيوال بانک اقتصادي سنجونې ښيي چې په ۱۳۹۵ کال کې د کرنې ونډه د همدغه کال د اقتصادي ودې د کچې نيمايي وه؛ کرنيز محصولات له ۱۲,۴ سلنې ودې سره د تېر کال په پرتله، په ۱۳۹۵ کال کې د لويې اقتصادي ودې تر ټولو لوی عامل پېژندل شوی دی. په دغه کال کې د مېوې توليد ۳۰ سلنه وده کړې. په ۱۳۹٦ او ۱۳۹۷ کلونو کې هم د کرنې په سکتور کې ناخالص داخلي محصول، ۳،۸ او ۲ سلنه وده کړې. پر دې سربېره، د کرنې په سکتور کې د يو ميليارد ډالري پانګونې لپاره د خصوصي سکتور ژمنه تثبيت شوې ده.

**د ميکانيزه او عصري کرنې رامنځته کول:** د ماشين‌آلاتو او د کرنې ميکانيزه کولو ته د کروندګرو د لاسرسي په موخه، د لومړي ځل لپاره د هوارولو ۳٦ لايزر ماشينونه[۲] اخيستل شوي او کروندګرو ته ورکړل شوي دي. نور کرنيز ماشين‌آلات لکه ټراکتورونه هم د کرنې وزارت له‌خوا کروندګرو ته ورکړل شوي دي؛ د بېلګې په توګه، يوازې په ۱۳۹۴ کال کې، ۳۰۰ ټراکتورونه او د شولو د کرلو ۱۰۰ ماشينونه مستحقو کروندګرو ته ورکړل شول. همدارنګه په ۱۷ ولايتونو کې په پسرلي کې د للمي غنمو د کرلو د ټراکټوري خدماتو وړيا کمپاين جوړ شوی دی. له بل پلوه، د کروندګرو د روزنې او عصري ټکنالوژۍ د را لېږدولو لپاره په ۳۴ ولايتونو کې، د کروندګرو د کرنې ۱۲۲۳۰ ښوونځي[۳] (په کرونده کې عملي روزنه) جوړ شوي او په ٦ ولايتونو کې ۷ کرنيز څېړنيز فارمونه هم بيا رغېدلي او له مالي او تخنيکي پلوه سمبال شوي دي.

---

۱ Recharging Groundwater
۲ Laser land leveler
۳ Former's Field School (FFS)

**د بڼوالۍ محصولاتو بنه‌والی:** په ۱۳۹٦ کال کې پر ۲۱۱ زره هکتاره ځمکه د بڼوالۍ محصولات کرل شوي دي؛ په داسې حال کې چې دغه شمېره په ۱۳۹۵ کال کې ۱۸۱ زره هکتاره وه. له بله پلوه، د کرنې وزارت شمېرې ښيي، چې په تېرو درېيو کلونو کې د بڼوالۍ توليداتو او صادراتو شاوخوا ۷ سلنه وده کړې ده.

**د ارزښت لرونکو کرنيزو محصولاتو وده:** له کروندګرو او سوداګرو څخه د دولت ملاتړ او د زعفرانو د پايدارې پرمختيا پر پنځه کلنې ستراتيژۍ سره، د زعفرانو توليد شاوخوا ۲،۵ او د کروندې ځمکه يې شاوخوا ۵ برابره ډېره شوې ده. له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۵ کال پورې د سويابينو محصولات هم د ۲۴۰۰ هکتاره ځمکې په ور ډېرولو سره له ۳ زره ٦ زره ټنو ته رسېدلې. همدارنګه د طبي بوټو د صادراتو حجم د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۷ کلونو ترمنځ له ۳۵ زرو ۷۳ زرو ټنو ته لوړ شوی دی او د هغو صادراتي ارزښت په ۳۳ سلنې ودې سره، ۱٦۴ ميليونه ډالره و. د يادولو وړه ده چې په تېرو څلورو کلونو کې په کندهار ولايت کې له اته زره هکتاره پر ډېره ځمکه د انارو باغونه کېنول شوي چې په ۱۳۹۷ کال کې يې محصول ۱۵۰ زره ټنو (د تېر کال په پرتله ۲۰ سلنه ډېروالي) ته رسېدلی دی.

*اووم شکل:*
*په افغانستان کې د زعفرانو د کرکيلې او حاصل کچه (۱۳۸۴-۱۳۹۷)*




**د حيواني محصولاتو د بازار ښه‌والی:** د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې ادارې[1] په مرسته د لبنياتو د هر اړخيز پروګرام په پلي کولو سره د لبني محصولاتو بازارموندنې او ډېروالي وده کړې؛ په داسې ډول چې د شيدو توليد ۵۰ سلنه لوړ شوی. همدارنګه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت شمېرې ښيي، له داخلي

۱ Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO)

تولیداتو څخه د چرګانو او کبانو د ۲۲۶ زره ټنه غوښې بازار رامنځته شوی دی، د حکومت ملاتړ لامل شوی چې ۸۰ سلنه د چرګ د غوښې داخلي لګښت (۲۱۹ زره ټنه) پوره کړي. د ملي یووالي حکومت د شاتو د تولید او سوداګرۍ لپاره یوه طلایي دوره وه، د تولید کچه یې په ۱۳۹۳ کال کې له ۱۵۰۰ ټنو څخه په ۱۳۹۶ کال کې (۴۳ سلنه وده) ۲۱۴۴ ټنو ته رسېدلې ده.

***اتم شکل:***

*په وروستیو کلونو کې د افغانستان د لبنیاتو د اتحادیې د شیدو د تولید پرتله*




**د سړو خونو او خوراکي توکو د زېرمو پراختیا:** له ۱۳۹۳ کال څخه د ۱۳۹۶ کال تر پایه له ۲۳۰۰ ډېر انفرادي او کوپراتیفي زېرمتونونه چې ټول ظرفیت یې ۴۰ زره ټنو ته رسېږي جوړ شوي دي. همدارنګه په بامیانو، کابل او پروان ولایتونو کې د کچالیو او پیازو ۳۰۸۴ انفرادي او لوی زېرمتونونه او په بلخ، پروان، سمنګان، کابل، لوګر او میدان وردګو کې د صفري انرژۍ ۸ سړې خونې جوړې شوې دي.

**د ستراتیژیکو ذخیرو پراختیا:** په پکتیکا، نورستان او سرپل ولایتونو کې د ۱۲ زره متریک ټنه غنمو د ستراتیژیکي زېرمې څلورو ګدامونو د جوړونې او سمبالولو کار په څه باندې ۸۰ سلنه پر مختګ سره دوام لري.

## ح ـ د ښاري زېربناوو پرمختیا

د ملي یووالي حکومت هڅه کړې داسې اړتیا وړ بنسټونه ورغوي چې د غوړېدلو، امن او کارنده ښاري مرکزونو جوړول وړپورې تړلي وي.

**ښاري پروګرام جوړول:** ساساکي بنسټ[1] د حکومت په همکارۍ، په افغانستان کې د متحرکو ښارونو د رامنځته کولو لپاره کُلي چوکاټ جوړ کړی او د هېواد د ۹ سترو ښارونو د وضعیت د ښه‌والي تفصیلي ډیزاین جوړوي. د ملي یووالي

۱ Sasaki Consulting Firm

حکومت په دوره کې، د خوست، پل علم او بامیانو ښارونو ماسټر پلان تصویب شوی او د هرات او کابل ښار ماسټر پلان په وروستیو پړاوونو کې دی. همدارنګه د کندهار، جلال‌آباد، ګردېز، کندوز او مزارشریف ښارونو د ماسټر پلان کار ۸۵ سلنه مخته تللی.

**د له مخکې جوړ شوي صنعت پلانول:** د ۱۳۹۷ کال د وري په شپږمه حکومت ودانیو جوړولو ته د لوړې اړتیا په درک سره د کورونو د جوړولو د تصدۍ د له مخکې جوړو شوو قطعاتو د تولید فابریکه پرانیستله. دغه فابریکه په لوړ کیفیت، چټکۍ او مناسبه بیه په یوه کال کې څه باندې یو میلیون مېتره مربع له مخکې جوړ شوي ودانیز قطعات تولیدوي.

## خ ـ د تولیدي صنایعو پیاوړي کول

حکومت د ملاتړ او د پانګوالو د تحرک په پایله کې او له ټولو امنیتي او اقتصادي ننګونو سره سره په ۱۳۹٦ کال کې د صنعت د سکتور ارزښت، د ۱۳۹۳ کال په پرتله شاوخوا ۲۲ سلنه وده کړې ده او ۳۰۷,۵ میلیارده افغانیو ته رسېدلی دی. همدارنګه په ناخالصو داخلي تولیداتو کې د دغه سکتور ونډه په ۱۳۹۳ کال کې له ۲,۴ سلنې څخه په ۱۳۹۵ کال کې ۴,۵ سلنې ته لوړه شوې ده.

**د صنعتي پارکونو پیاوړي کول:** د ملي یووالي حکومت په دوره کې له خصوصي سکتور سره په مشارکت او نږدې همکارۍ د صنعتي پارکونو ملي پالیسي تدوین او د پرمختیا، مدیریت او د صنعتي پارکونو د فعالیت د ښه‌والي لپاره اغېزناکې طریقې تعریف شوې. همدارنګه په صنعتي پارکونو کې د ځمکې د توزیع طرزالعمل پخوانیو تجربو ته په پام تعدیل او وروستی شو او پانګوالو ته ۲۲۰ نمرې ځمکه ووېشل شوه. ۷ نوي صنعتي پارکونه جوړ شوي او له صنعت‌کارانو څخه د ملاتړ لپاره، په ټولو صنعتي پارکونو کې د هر مېترمربع ځمکې قېمت ۵۰ افغانیو ته را ټیټ شوی.

**له تولیدي صنایعو څخه د ملاتړ لپاره د قانوني بنسټونو پیاوړي کول:** په تېرلیز دوو کلونو کې له پانګونو د ملاتړ او په ځانګړې توګه د تولیدي صنایعو په برخه کې د ملاتړ لپاره، تقنیني اسناد لکه د صنعتي طرحو د ملاتړ قانون، د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون، د کورنیو صنایعو د حفاظت (ساتنې) قانون، د محدودالمسؤولیت شرکتونو قانون، د افلاس قانون، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون او نور تقنیني اسناد جوړ او نافذ شوي دي.

**له صنعتکارانو څخه د حکومت پراخ ملاتړ:** په ملي تدارکاتو کې کورنیو تولیداتو ته د ۲۵ سلنې ترجیح ورکول؛ د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه د زعفرانو د وارداتو منع کول او د افغانستان د زعفرانو د محصول باکیفیته ساتل؛ د متشبیثینو لپاره د ۹۵ سلنه مالیاتي جریمو معافیت؛ د دربیو کلونو لپاره د نوو پانګونو مالیاتي معافیت؛ د انعطاف منونکي مالیاتي رژیم جوړول، د صنعتي ماشین‌آلاتو پر واردولو د مالیاتو صفر کول، د خامو او نورو موادو پر وارداتو د مالیې ۱ سلنه کول؛ د خصوصي سکتور په وړاندیز پر ۸۰۰ ډوله هغو توکو د وارداتي تعرفو لوړول چې د صنایعو د داخلي سکتور له‌خوا تولیدیږي؛ دا د صنایعو د ملاتړ په موخه هغه اقدامات دي، چې صنعتکاران ترې برخمن شوي دي.

## د ـ د سوداګرۍ او ټرانزیټ وده

د ملي یووالي حکومت په دوره کې، سوداګري او ټرانزیټ یوه له لاسته‌راوړنو ډکه برخه ده. د نوو ټرانزیټي دهلیزونو په جوړولو او په هېواد کې د ننه د کرنیزو محصولاتو لپاره د ارزښت د ځنځیر په پراختیا سره د افغانستان صادرات په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۱۳۹۳ کال په پرتله شاوخوا ۴۰ سلنه وده کړې ده.

**د مطلقې سوداګریزې تکیې رفع کول:** له یوه یا دوو هېوادونو سره د مطلقې سوداګریزې تکیې په برخه کې حکومت د هېواد د کمزوري اقتصاد په درک سره، د هېواد د سوداګریزو شریکانو پر بېلابېل‌والي تمرکز وکړ. په همدې برخه کې، د منځنۍ آسیا او د سیمې له ډېرى هېوادونو سره سوداګریز تړونونه وشول چې له دغو هېوادونو سره یې د افغانستان د سوداګرۍ کچه زیاته کړه.

**د مطلقې ترانزیتي تکیې له‌منځه وړل:** افغانستان تر وړاندې څو کلونو پورې د خپلو مصرفي توکو د وارداتو لپاره د پاکستان په کراچۍ بندر ډېره تکیه درلوده، چې ځینې وخت به د افغانستان پر دولت او خلکو د سیاسي فشار د وسیلې په توګه کارول کېده او په کورني بازار کې به یې بیې متزلزلې کولې. له همدې امله، حکومت د افغانستان پر محوریت د سیمه‌ییز اتصال پالیسي غوره کړه. اوسمهال «لاجورد تاریخي لار» افغانستان د ځمکې او اوبو له‌لارې له اروپا سره نښلوي، همدا راز له سیمې او اروپایي هېوادونو سره «هوایي دهلیزونه» پرانیستل شوي چې د افغانستان صادراتي او وارداتي محمولې د «چابهار بندر» له لارې هند ته لېږدول کېږي.

**د سوداګرۍ د نسبي بیلانس ښه‌والی:** له خصوصي سکتور څخه د حکومت

پراخ ملاتړ، د نوو ټرانزيټي دهلېزونو جوړول او د افغانستان د سوداګريزو شريکانو د لېست پراخول د دې لامل شوي چې د هېواد د سوداګرۍ بيلانس د تېر په پرتله په نسبي ډول ښه شي.

**نهم شکل:**
*په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان د صادراتو کچه (له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۸؛ له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۷ مالي کلونو سره سم)*




**لسم شکل:**
*د سوداګرۍ د حجم له مجموع څخه د صادراتو د ونډې سلنه (له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۸؛ له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۷ مالي کلونو سره سم)*




**د افغانستان پر محوريت د سيمه‌ييزې انرژۍ د ټرانزيټ د پروژو عملياتي کېدل:** د سوېلي او مرکزي آسيا ترمنځ د افغانستان واقع کېدل يو اقتصادي پوټېنشل دی؛ چې سوېلي او مرکزي آسيا يو بل ته متقابلې اقتصادي اړتياوې لري. د دغو دوو سيمو ترمنځ اقتصادي تعامل يوازې د افغانستان له خاورې ممکن دی. د دغه اهميت په درک سره، له مرکزي آسيا څخه سوېلي آسيا ته د انرژۍ د ټرانزيټ د طرحو د عملي کولو په برخه کې اقتصادي ډيپلوماسي

او نور اړوند اقدامات ډېر شول او په پایله کې يې، د ټاپي د ګازو د ټرانزيټ (له ترکمنستان څخه ـ افغانستان ـ پاکستان ـ هند ته د ګازو لېږد) او د کاسا ۱۰۰۰ د برېښنا د ټرانزيټ لويې پروژې (افغانستان او پاکستان ته د قرغېزستان او تاجکستان د برېښنا ټرانزيټ) عملیاتي پړاو ته ورسېدې او همدارنګه د ټاپ ۵۰۰ برېښنا د ټرانزيټ پروژه (ترکمنستان ـ افغانستان ـ پاکستان) د تخنيکي څېړنې او ډيزاين په پړاو کې ده.

## ذ ـ د زېربناوو پرمختيا او ترانزيټي آسانتياوې

حکومت د يوه حقيقي او پايدار اقتصاد د بنسټونو د پلان، د افغانستان د جيو ايکانوميک پوټېنشل د بيا را ژوندي کولو او د سيمې د هېوادونو ترمنځ د تقابل له ډګر څخه د تعامل پر ټکي د هېواد د بدلولو د پاليسۍ د تحقق په برخو کې، د ترانسپورتي زېربناوو د کيفيت جوړول او ښه کول په خپلو کاري لومړيتوبونو کې راوستل.

**د واټونو د ترانسپورتي زېربناوو پرمختيا:** په وروستيو څلور نيمو کلونو کې، په ټول هېواد کې ۹۰۵ کيلومېتره سفالتي سړک، ۵۴۰ کيلومېتره جغلي سړک او په ۴۰۶۹ متره اوږدوالي سره ۷۱ پلونه د ټولګټو وزارت لهخوا جوړ شوي او نورې لويې پروژې لکه د قيصار ـ لامان، جبل السراج ـ نجراب، فيض آباد ـ اشکاشم، ښرنې ـ انګور اډې، د کابل ـ جلال‌اباد دويم سړک، چاه انجير ـ ګرشک، يکاولنګ ـ دره‌صوف، دوشي ـ باميانو، د ګردن‌ديوال ـ چغچران دويمه برخه، ارملک ـ لامان او د سالنګ تونل او نوې لارې پروژه تر کار لاندې دي. له ۱۳۹۴ څخه تر ۱۳۹۷ کال پورې له ۹۰ زره کيلومېتره ډېر سفالتي او جغلي سړک ساتنه او پالنه بل لوی فعاليت دی.

**د افغانستان د اوسپنې پټلۍ شبکې د پراخوالي لپاره بنسټيز پلانونه:** د اوسپنې پټلۍ نوی قانون د اوسپنې پټلۍ د شبکې د پراخوالي لپاره د نوو ليدلورو له مخې نافذ شو او په دغه قانون پورې اړوندې ۱۱مقررې هم جوړې شوې دي. همدارنګه، د آقينې ـ آتامراد د اوسپنې پټلۍ چې افغانستان په آقينه بندر کې له ترکمنستان سره نښلوي، پرانيستل شوه او د افغانستان ـ ترکمنستان د اوسپنې پټلۍ د بيا جوړولو کار د تورغونډۍ په بندر کې هم بشپړ شوی دی. پر دې سربېره، د تورغونډۍ ـ هرات د اوسپنې پټلۍ جوړولو لپاره ترکمنستان هوکړه کړې ده او ازبکستان هم ژمنه کړې چې د مزارشريف ـ هرات د اوسپنې پټلۍ د جوړولو په برخه کې له افغانستان سره همکاري وکړي.

**د هوايي ترانسپورټ پرمختيا:** په ۱۳۹۷ کال کې افغانستان وکولای شول له ۲٦ کلونو وروسته د افغان متخصصينو په واسطه د خپل هوايي حريم کنترول ترلاسه کړي. همدارنګه، په وروستيو څلورنيمو کلونو کې، د نيمروز، باميانو او فراه هوايي ډګرونه، د کندوز، ميمنې، کندهار او خوست د هوايي ډګرونو ترمينل، د جاغوري ولسوالۍ محلي هوايي ډګر او د زابل د هوايي ډګر رنوې جوړه شوې ده.

**د ځمکني ترانسپورټ د ودې لپاره زېربنايي او قانوني آسانتياوې:** د هېواد د ترانسپورتي سيستم لپاره د اغېزناکو حقوقي بنسټونو د جوړولو په موخه، د واټ د ترانسپورټ د تنظيم قانون جوړ او نافذ شو. همدارنګه په «تير»[۱] نړيوال سازمان کې د افغانستان له غړيتوب څخه د ښې ګټې اخيستنې په موخه، د «تير» سيستم د پلي کولو مقرره جوړه شوه. پر دې سربېره، د ننګرهار ولايت د تورخم په بندري ښارګوټي کې د ترانسپورتي ـ مسافر وړونکي ترمينل لومړی او دويم فاز بشپړ شوي او د درېيم فاز کار روان دی.

## ر ـ د کانونو په سکتور کې اصلاحات

حکومت د کانونو په سکتور کې د شته ننګونو په سم درک او همدارنګه د کانګو په شان هېوادونو څخه چې د سرچينو له نفرين[۲] سره مخ شول د تجربو د روښانه تصوير په لرلو سره د کانونو د سکتور د بشپړې پرمختيا لپاره يوه اغېزناکه او پايداره ستراتيژي طرحه کړه. په دې برخه کې د کانونو د سکتور لار نقشه جوړه شوې چې موخه يې په دغه سکتور کې د پراخو اصلاحاتو راوستل او ظرفيت جوړول دي. د کانونو د لار نقشه په لومړيو کې د کانونو د سکتور ټول محدوديتونه او ننګونې په دقت ګورې او بيا هغه سيمې چې بايد په ترتيب سره يې په اړه پرېکړه وشي لومړيتوب‌بندي کړې دي.

**د کانونو لويو تړونونو ته رسېدنه:** لويو ځنډول شوو او کمزورو تړونونو ته د رسېدنې په برخه کې، د آمو دريا د نفتي حوزې، افغان ـ تاجک نفتي حوزې، د جبل‌السراج د سمنټو پروژې، د غوري سمنټو پروژې، په هرات کې د شيدا د ميسو کان، د بدخشان د سرو زرو کان، د بلخاب د ميسو کان او د هرات د سمنټو د پروژې د وضعيت په شمول لوی تړونونه مشخص شوي چې ځينې يې بيا ځلي داوطلبۍ ته سپارل شوي يا قرارداد شوي دي. پر دې سربېره، د ننګرهار ولايت د تالک کان، د سمنګان ولايت د سمنټو پروژه، د کونړ ـ ننګرهار د مرمرو ډبرو

---

۱ TIR
۲ resource curse theory

کان او د غزني او میدان وردګو د تراورتین[1] کان هم په وروستیو کې داوطلبۍ ته سپارل شوي دي.

**له غیر قانوني کانکیندنې سره مبارزه:** له غیر قانوني کانکیندنې سره د مبارزې د سختوالي په پایله کې، تر اوسه د کابل په کچه شاوخوا ۵۸۴ ځایه غیرقانوني کانکیندنه تثبیت او بنده شوې ده؛ چې له ډلې یې ۳۱۲ د کانونو او پټرولیم وزارت سره تړون کولو ته حاضر شوي دي. همدارنګه په ۱۳۹۶ کال کې په ۳۰۰ ساحو کې ۳۳ غیر قانوني کانکیندنې په ګوته شوې او د رسمي مېکانېزم لهلارې یې تړون کړی دی.

**د تېلو او ګازو د سرچینو په تنظیم کې اصلاحات:** د تېلو او ګازو د سرچینو د ښه تنظیم په برخه کې، د نفتو او ګاز (هایدرو کاربنونو) نوی قانون نافذ او د تېلو او ګازو ملي پالیسي تصویب شوه. له نوې پالیسۍ سره سم، د تېلو او ګازو د سرچینو تړونونه په ژوره توګه څېړل کېږي. همدارنګه د هېواد د تېلي او ګازي سرچینو د اغېزناکې ایستنې لپاره لکه د آمو دریا نفتي حوزې، افغان ـ تاجک نفتي حوزې، د یتیمتاق ګاز د څاګانو او نورو اړوندو سیمو په اړه عملي او اصلاحي اقدامات پیل شوي دي.

**د کانونو د عوایدو په راټولولو کې اصلاحات:** د اصلاحاتو په پلي کولو سره، د کانونو د عوایدو راټولولو پروسې منظمې شوې او په پراخه کچه څارل کېږي. په پایله کې یې، په ۱۳۹۶ مالي کال کې د کانونو د سکتور ټول عواید د تېر کال په پرتله، ۷۰ سلنه لوړ شوي او ۷ میلیارده افغانیو ته رسېدلي دي.

## ز ـ د مخابراتي زېربناوو پرمختیا

د افغانستان ۸۹ سلنه سیمې د مخابراتي خدماتو تر پوښښ لاندې دي او په پام کې ده چې د پاتې ۱۰ سلنه لرې پرتو، غرنیو او صعبالعبور سیمو لپاره هم «د کلیو لپاره مخابراتي شبکه»[2] پروژې لهلارې د ۱۵۰۰ آنتنونو او مخابراتي دستګاوو په نصبولو سره باکیفیته مخابراتي خدمات برابر شي. همدارنګه په افغانستان کې انټرنېټ ۹،۷ میلیونه کاروونکي لري چې د هېواد شاوخوا ۲۸ سلنه نفوس جوړوي. د انټرنېټ د پوښښ ساحه له ۱۳۹۴ څخه تر ۱۳۹۶ کلونو پورې له ۱۷ سلنې څخه ۵۱ سلنې ته پراخه شوې ده.

---

۱ یو ډول اهکي ډبره ده چې د رسوبي او زینتي ډبرو له ډلې بلل کېږي.
۲ VCN

**د نوري فایبر شبکې پرمختیا:** د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت توانېدلی په وروستیو څو کلونو کې ۲۵ ولایتونه د نوري فایبر شبکې تر پوښښ لاندې راولي. د نوري فایبر د پرمختیا لپاره، په درېیو پړاوونو کې، شاوخوا ۱۵۲ میلیونه ډالره لګول شوي دي او د ۱۳۹۸ کال تر پایه به دغه شبکه په پاتې ۹ ولایتونو کې هم د ۵۰ میلیونه ډالرو په لګښت بشپړه شي. پر دې سربېره، د منځنۍ آسیا له هېوادونو څخه د انټرنېټ په پېرلو سره، د نوري فایبر شبکې ظرفیت له ۱۰ جي بي څخه ۳۰ جي بي ته لوړ شوی دی. د نوري فایبر شبکې د چټکې ودې او د خصوصي سکتور د پانګونې راجلبولو لپاره، نوري فایبر ته د پرانیستي لاسرسي پالیسي جوړه شوې ده چې خصوصي سکتور د نوري فایبر په برخه کې پانګونه وکولی شي.

**د کاسا ډیجیټل پروژه:** د دغې پروژې اساسي موخه د افغانستان له‌لارې د نوري فایبر شبکې په مرسته د منځنۍ او سوېلي آسیا نښلول دي. د کاسا ډیجیټل پروژه په ۱۳۹۷ کال کې پیل شوه او په ۵ کلونو کې بشپړېږي.

**د افغان سټ ۱ سپوږمکۍ د مولدیت لوړول:** په تېر وخت کې د افغان سټ ۱ سپوږمکۍ له ټول پوټېنشیل څخه ګټه نه اخیستل کېده او دغه پروژه په زیان کې وه، د لومړي ځل لپاره، په ۱۳۹۶ کال کې، د افغان‌سټ ۱ سپوږمکۍ د خدماتو خرڅلاو په لوړېدو شو، چې عواید یې له لګښت ډېر شول او د کال په ۱۵ میلیون ډالري عاید سره د دولت لپاره په یوه عایداتي سرچینه بدله شوه.

خومره لاره مو وهلې؟

۱ بهرنی سیاست

۲ اقتصادي انکشاف

# ۳ سوله

۴ امنیت

۵ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا

۶ ټولنیز انکشاف

*په هېواد کې د هر اړخيزې سولې او ټيکاو لپاره د ملي يووالي حکومت هڅې او پايدارې سولې ته د رسېدو لپاره د افغانانو په مالکيت خبرې اترې بې‌مخينې او نه سترې‌کېدونکې وې. دغې چارې ته جدي پاملرنه په داخلي اړخ کې د دې لامل شوه چې ملي اجماع رامنځته شي، د ګلبدين حکمتيار له اسلامي حزب سره خبرې اترې بريالی شي، د سولې په پروسه کې د علمای کرامو رول تسجيل شي او د جګړې د فکري او اعتقادي زمينو د له‌منځه وړلو په وسيله د افغانستان د اسلامي جمهوريت پر وړاندې د جګړې مشروعيت له منځه يوړل شي. په بهرني اړخ کې هم د پام وړ لاسته‌راوړنې لرو؛ لکه څرنګه چې ګاونډيو هېوادونو، اسلامي هېوادونو، سيمې او نړۍ ته د جمهور رئيس سفرونه او همدارنګه په دې برخه کې پرله‌پسې ناستې لکه د کابل پروسې جوړول، د دې لامل شول ترڅو په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره سيمه‌ييزه او نړيواله اجماع رامنځته شي، د هېوادونو اسانوونکي اقدامات ډېر شي او د افغانانو په مشرۍ د سولې د بهير د پر مخ وړلو او بين الافغاني خبرو ملاتړ وشي.*

د سولې د عالي شورا پیاوړي کول

د جګړې د فکري او اعتقادي زمينو له منځه وړل

د علمي ميکانيزمونو جوړول او پلي کول

بهمن دانشدوست

## الف ـ د سولې د عالي شورا پیاوړي کول

حکومت د سولې د هڅو او تحقق په برخه کې د سولې د عالي شورا د کړنو پر خپلواکۍ ټینګار کړی او د دغه غیر دولتي بنسټ د ښه فعالیت لپاره یې زمینې برابرې کړې دي. هغه کورنۍ او بهرنۍ ناستې او کنفرانسونه چې دغې شورا جوړ کړي، د سولې لپاره یې ملي اجماع پیاوړې کړې او په داخلي او بهرني اړخ کې یې د سولې د تحقق زمینه برابره کړې ده.

**د سولې د ملي ستراتیژۍ تدوین:** د ملي یووالي حکومت تر جوړېدو وروسته او هغه لرلید ته په پام سره چې پایدارې سولې ته د رسېدو په موخه د جمهور رئیس غني له‌خوا وړاندې شو، د سولې عالي شورا مسوولیت نوي مشرتابه ته وسپارل شو. دغه بدلونونه د دې لامل شول چې د سولې ملي ستراتیژي جوړه او په دغه برخه کې واحده تګلاره او مشخصې موخې وټاکل شي. د سولې عالي شورا پنځه لویې کاري موخې لري، چې عبارت دي د ملي اجماع له جوړولو، د بین الافغاني خبرو پیل، د محلي ثبات د پروګرام پیلول، د سولې د هوکړه‌لیکونو پلي کول او د سولې په اړه د ظرفیتونو لوړول.

**د ملي اجماع په جوړولو کې رول لوبول:** د سولې عالي شورا د خپلې لومړۍ موخې په برخه کې له سیاسیونو، قومي او جهادي مشرانو، د اکاډمیکو بنسټونو له مسوولینو، ځوانانو، ښځو، مدني ټولنو او له ټول هېواده له پېژندل شوو څېرو سره کتنې او مشورې کړې دي چې یوازې د یوه کال په موده کې یې د ټولنې د ټولو اقشارو د غوښتنو او نظریو د راټولولو لپاره ۵۰۰ ناستې جوړې کړې دي، ترڅو پایدارې سولې ته د رسېدو په موخه یوه پیاوړې اجماع رامنځته شي.

**د سولې میندې په نوم د غونډو جوړول:** په سوله کې د ښځو د رول زیاتولو او د ښځو ترمنځ د سولې د شبکو جوړولو په موخه د «سولې میندې» ناستې جوړې شوې. دغه ناستې د ټولنیزې سولې په راوستلو کې د ښځو پر اغېزناک رول او د سولې فرهنګ ته د تاوتریخوالي د فرهنګ پر بدلولو ټینګار کوي.

**د سولې د مشورتي لویې جرګې د جوړولو مسوولیت:** د سولې عالي شورا په نوبت ناستې او کنفرانسونه جوړ شوي چې له ډلې یې په شمال، ختیځ، لوېدیځ او سوېل‌ختیځ زون کې له علماوو سره د سولې مشورتي کنفرانسونو؛ د سولې په اړه د دیني علماوو ملي مشورتي ناستې (۱۳۹۶ مرغومی)؛ د جهادي، قومي او ولایتي شورا د مشرانو په ګډون د سولې ملي کنفرانس (۱۳۹۶ کب) او د سولې په اړه د

مدني ټولنې، ځوانانو او ښځو ملي مشورتي کنفرانس (۱۳۹٦ مرغومی) ته اشاره کولای شو. دغه ناستې د ګډونوالو د نظرونو راټولولو او د سولې له بهیره د هغوی د ملاتړ لامل شوې دي. د ۱۳۹۷ کال په وروستیو کې هم د هېواد وضعیت ته په پام سره د سولې عالي شورا ته د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړولو مسوولیت ور په غاړه شو.

## ب ـ د جګړې د فکري او اعتقادي زمینو له منځه وړل

سولې ته د رسېدو په لاره کې یوه لویه ننګونه د افغانستان په تېرو څو لسیزو ګډوډیو کې جګړې ته د مشروعیت‌ورکولو لپاره د فکري او اعتقادي زمینو رامنځته کېدل دي. په تېرو څلورو کلونو کې حکومت د دغو زمینو د له‌منځه وړلو او پایدارې سولې او ټیکاو ته د رسېدو په موخه د علماوو له‌خوا د افغانستان د اسلامي جمهوریت پر وړاندې د جګړې د ناروا بللو لپاره زمینې برابرې کړې دي. په داخلي اړخ کې علماوو دغه جګړه د «متفقې فتوا» په خپرولو سره ناروا وبلله او په بهرني اړخ کې د سعودي عربستان علماوو دغه جګړه ناروا او «فتنه» وبلله. دغې لاسته‌راوړنې دوې مشخصې پایلې درلودې: پر وسله‌والو مخالفینو ایډیولوژیک فشار او د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام د دیني مشروعیت منل.

**د بوګور د پریکړه‌لیک خپرول:** د ۱۳۹۷ کال د غوایي پر ۲۱ مه د اندونیزیا په بوګور ښار کې د افغانانو پر وړاندې پر ګواښونو د بحث په موخه د افغانستان، اندونیزیا او پاکستان د علماوو درې اړخیز کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې علماوو د پریکړه‌لیک په خپرولو سره په افغانستان کې د سولې او هوساینې ملاتړ وکړ او د کابل پروسې په دویم کنفرانس کې یې د جمهور رئیس محمد اشرف غني د سولې وړاندیز وستایه.

**د افغانستان د علماوو د متفقې فتوا خپرول:** په کابل کې له ټول افغانستانه د څه باندې ۲۹۰۷ علماوو بې‌سارې ناسته جوړه شوه. د هېواد علماوو د دې ترڅنګ چې بین الافغاني او پایدارې سولې ته پر رسېدو ټینګار وکړ، د ۱۳۹۷ کال د غبرګولي پر ۱۴مه یې د لویې جرګې په تالار کې د متفقې فتوا په خپرولو سره د افغانستان د اسلامي جمهوریت پر وړاندې جګړه ناروا او ځانمرګي بریدونه حرام وبلل.

**د سولې په ملاتړ د حرمینو شریفینو د امامانو خطبه:** د حرمینو شریفینو خطیبانو (د ۱۳۹۷ د چنګاښ پر لومړۍ نېټه) د جمعې د لمانځه په خطبه کې په افغانستان

کې د سولې، ټيکاو او اوربند مسألې ته اشاره وکړه. هغوی په افغانستان کې د سولې او ټيکاو د ټينګښت لپاره د دعا ترځنګ د جګړې د پای ته رسولو غوښتنه وکړه. د مسجدالحرام خطيب شيخ عبدالرحمن سديس او د مسجد نبوي (ص) امام شيخ عبدالله بن عبدالرحمن البعيجان د قرآن کريم او نبوي احاديثو پر بنسټ له مخالفينو او افغان حکومت څخه د سولې او ټيکاو د ټينګښت غوښتنه وکړه. دغو خبرو په افغانستان کې د روانې جګړې د ناروا بللو او پای ته رسولو په اړه د اسلامي نړۍ په ځانګړې توګه ديني علماوو دريځ سره نږدې کړ.

**د مکې مکرمې د بيت الحرام اعلاميې صادرول:** د اسلامي همکاريو سازمان د افغانستان د سولې او امنيت په اړه د دوو ورځو لپاره د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ پر ۱۹مه او ۲۰مه په جده او مکه مکرمه کې د علماوو نړيوال کنفرانس جوړ کړ. د دغه کنفرانس په پايله کې «د مکې مکرمې د بيت الحرام اعلاميه» خپره شوه. په دغه اعلاميه کې د افغانستان اوسنۍ جګړه د اسلام له اصولو او اساساتو او اسلامي ټولنې سره په مخالفت کې اعلان شوه او ځانمرګي بريدونه چې پر عامو خلکو کېږي، حرام وبلل شول. د مکې مکرمې اعلاميې د افغانستان روانه جګړه وغندله او له ښکېلو غاړو يې وغوښتل چې «فتنه» له منځه يوسي او سوله وکړي. دغه سازمان په افغانستان کې د سولې او آرامۍ اجنډا ته په خپلو پروګرامونو کې لومړيتوب ورکړی[1]. د علماوو د نړيوال کنفرانس په تعقيب د ۱۳۹۷ کال د وږي پر ۲۲مه د افغانستان په اړه په جده کې د اسلامي همکاريو د سازمان ځانګړې ناسته وشوه. تر دې وړاندې هم د ملي يووالي حکومت اجرائيه رئيس د اسلامي همکاريو سازمان د مشرانو د ديارلسمې ناستې[2] په څنډه کې، چې د «عدالت او سولې لپاره د يووالي او پيوستون» په نامه جوړه شوې وه، اسلامي هېوادونه په افغانستان کې له ترهګرۍ سره ګډې مبارزې او د سولې په ټينګښت کې همکارۍ ته را وبلل او د دغې ناستې په څنډه کې يې په دې اړه د ۸ هېوادونو (سعودي عربستان، ترکيې، ايران، ماليزيا، اردن، پاکستان، مصر او بلاروس) هوکړه ترلاسه کړه.

**د افغانستان او پاکستان د علماوو ګډه ناسته:** د افغانستان د علماوو پلاوي پاکستان ته په سفر کې (۱۳۹۷د تلې ٦ـ۷) د پاکستان له علماوو سره وکتل او د دغه هېواد له ځينو مذهبي او سياسي مشرانو سره يې په افغانستان کې د سولې

---

۱ په افغانستان کې د اسلامي همکاريو د سازمان د سفير، حسين اوني بتساني خبري ناسته د ۱۳۹۷ د زمري ۱۵ مه.
۲ د ۱۳۹۵ د وري ۲٦ مه، ستانبول، ترکيه

د پروسې په ملاتړ د علماوو پر همغږۍ خبرې وکړې. د پاکستان علماوو په ليدنو کې ژمنه وکړه چې د سولې په بهير کې د افغانستان د علماوو له سراسري شورا او د سولې له عالي شورا سره همکاري کوي.

## پ ـ د علمي مېکانېزمونو جوړول او پلي کول

حکومت سولې ته د رسېدو لپاره د نه ستړي‌کېدونکو فعاليتونو پر دوام د پايدارې سولې عملي مېکانېزم جوړ کړ او اوسمهال د «سولې د لار نقشې» پر اساس لازم پروګرامونه مخ ته وړي.

**د ملي اجماع جوړول:** د سياسيونو او ګوندونو په ګډون د ټولنې له اقشارو سره مشورې د سولې په اړه اجماع ته د رسېدو لپاره د ملي يووالي د حکومت له پيله د دولت د رهبرۍ له لوري يو دوامدار بهير دی. دغه پرله‌پسې اته مياشتنۍ ناستې، د اساسي قانون اهميت او اعتبار، له نړيوالې ټولنې سره د افغانستان اساسي ګډون او د سولې په پروسه کې د افغانستان د حکومت مالکيت او مشرې د ټولو اقشارو ګډ ټکي دي.

**د سيمه‌ييزې اجماع جوړول:** د سيمې له هېوادونو سره دوه اړخيزې او څو اړخيزې مشورې پايدارې سولې ته د رسېدو لپاره د حکومت له قاطع اقداماتو څخه دي چې دغې چارې د سولې لپاره د سيمه‌ييزې اجماع د رامنځته کېدو زمينه برابره کړه. په دغه دايره کې شاملو هېوادونو ته يې قناعت ورکړ ترڅو ومني چې په افغانستان کې سوله او ټيکاو د سيمې د سولې او ټيکاو ضامن دی. په دې برخه کې کولای شو د تاشکند، شانګهای، د آسيا زړه او اسلامي همکاريو د سازمان کنفرانس او د افغانستان، پاکستان او چين د بهرنيو چارو وزيرانو د درې اړخيزو خبرو اترو جوړولو او د «کابل پروسې» ته اشاره وکړو.

**د کابل پروسه:** د کابل پروسه د سولې د بهير پرمخ بېولو لپاره د واحد چتر د رامنځته کولو په موخه جوړه شوه. د دغې پروسې دوې ناستې د ۱۳۹٦ د غبرګولي پر ١٦مه او د ۱۳۹٦ د کب پر ۹مه جوړې شوې. دغه ناسته چې تر ۲۰ د ډېرو هېوادونو او سازمانونو د استازو په ګډون جوړه شوه، د ګډونوالو تر منځ د اجماع د جوړولو په برخه کې، همدارنګه افغان طالبانو ته د سولې د واضح وړانديز کول او د حکومت له‌خوا له کوم وړاندې‌شرط پرته خبرو ته د هغوی رابلل، د سولې په بهير کې ارزښت لرونکی ګام و.

**د سولې لار نقشې اعلان:** جمهور رئیس محمد اشرف غني د جنېوا په ناسته کې چې د (۱۳۹۷ د لیندۍ پر ۷مه) له نړیوالې ټولنې سره د متقابلو ژمنو لپاره د افغانستان په اړه جوړه شوې وه، «د سولې د لار نقشې» په اړه خپلې راټولونې وړاندې کړې. په دغه لارنقشه کې د سولې پر هوکړهلیک ټینګار شوی چې د څلورو ټکو له پهپام کې نیولو سره طالبان د یوې ولسواکې او ټولشمولې ټولنې برخه شي: د اساسي قانون پر اساس د ټولو وګړو په ځانګړې توګه د ښځو د مکلفیتونو تامین؛ د اساسي قانون منل یا د اساسي قانون د احکامو پر اساس د هغو تعدیل؛ د قانون پر اساس د ملکي خدماتو، امنیتي او دفاعي ځواکونو د فعالیتونو مخ ته وړل؛ د هغو وسلهوالو ډلو فعالیتونو ته اجازه نه ورکول چې له بهرنیو ترهګریزو شبکو، بهرنیو مخربو سازمانونو، دولتي او یا غیر دولتي بنسټونو سره اړیکه لري او په افغانستان کې د نفوذ په لټه کې وي. دغه نقشه د سولې د مالکیت، د سولې د مشرۍ، د جګړې د ماهیت او اړخونو، له طالبانو سره د سولې د خبرو او سیمهییزې او نړیوالې اجماع په اړه ده. د لارې نقشه د افغانستان جګړه تحمیل شوې، له محدودیت پرته، نا اعلان شوې او د بدلون په حال کې بللې چې څلور لاملونه لري: بهرنۍ ترهګریزې شبکې، بهرني جنایتکار سازمانونه، هغه ګاونډیان چې د ترهګرۍ په برخه کې خپله وجیبه نه ادا کوي او افغان طالبان چې د نورو دربیو لاملونو لپاره یې زمینه برابره کړې ده. په دغه سند کې ۱۲ کسیز خبرې کوونکی پلاوی او له ۹ کمېټو جوړ شوی مشورتي بورډ ځرګند شوی چې د جمهور رئیس په فرمان جوړ او کار یې پیل کړی دی.

**د سولې همغږۍ له څلور اړخیزې ډلې څخه اغېزناکه استفاده:** افغانستان، پاکستان، متحدو ایالتونو او چین سولې ته د رسېدو د لار نقشې په اړه د هوکړې لپاره د سولې د همغږۍ څلور اړخیزه ډله جوړه کړه. د دغې ډلې په شپږو ناستو کې د افغانستان فعال حضور (د ۱۳۹۴ د مرغومي له ۲۱مې د ۱۳۹٦ د تلې تر ۲۴مې) د دې لامل شو چې پاکستان د لارې د یوې نقشې په چوکاټ کې د سولې د بهیر په اړه ژمنې وکړي. که څه هم پاکستان خپلې ژمنې عملي نه کړې خو افغانستان وکولای شول د سولې د بهیر او له ترهګرۍ سره په مبارزه کې د پاکستان د کمکارۍ په اړه له دغو ناستو څخه له نړیوالو سره د خپل لیدلوري د برابرولو لپاره د یوه فرصت په توګه ګټه واخلې.

**د سولې او پیوستون لپاره د افغانستان او پاکستان د عمل پلان تدوین:** په اسلام آباد کې د پاکستان په بهرنیو چارو وزارت کې د افغانستان او پاکستان د

چارواکو په څلورمه ناسته کې د ۱۳۹۷ د غویي پر ۲۴ مه «د سولې او پیوستون د عمل پلان»[۱] بشپړ شو. لکه څرنګه چې د دغې ناستې په ګډه اعلامیه کې راغلي، دغه پلان د جمهور رئیس محمد اشرف غني او د پاکستان د لومړي وزیر شاهد خاقان عباسي د ۱۳۹۷ د وري د ۱۷مې لیدنو په تعقیب په کابل کې بشپړ شو او په هغو کې ۵ کاري ډلې پر کار وګومارل شوې. دغه پلان د باور د پیاوړي کولو او په دوه اړخیزو اړیکو کې د تعامل د ژوروالي زمینه برابروي او د دواړو اړخونو اندېښنو ته د حل لارې موندلو لپاره یو جوړښت دی. پنځو کاري ډلو چې سیاسي ـ ډیپلوماټیک، پوځي، استخبارات، اقتصاد او کډوال پکې شامل دي د ۱۳۹۷ د چنګاښ پر ۳۱مه کار پیل کړ. د سولې او پیوستون د عمل پلان په واقعیت کې د کابل پروسې په دویمه ناسته کې د جمهور رئیس غني وړاندیز شوې طرحه وه چې له دولت سره د دولت پر خبرو اترو ټینګار کوي.

**له افغان طالبانو سره اوربند:** له بېلابېلو اقشارو سره د مشورو او د افغانستان د دیني علماوو د متفقې فتوا په لړ کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د روژې مبارکې میاشتې له ۲۷م څخه د ۱۴۳۹ کال د کوچني اختر تر پنځم پورې (۱۳۹۷ غبرګولی) اوربند اعلان کړ. د بې‌ساري اوربند د اعلان تر څنګ طالبانو هم د کوچني اختر درې ورځې اوربند ومانه. دغې تاریخي پېښې درې ټکي روښانه کړل: د افغانستان په ټولنه کې د حوصلې شتون او د ښه راتلونکي په لوري د حرکت د اړتیا درک؛ سولې ته د طالبانو د جنګي ډلې د نه حاضرېدو په اړه د انګېرنې ناسم ثابتېدل او د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو ژمنتیا.[۲]

**د امریکا متحدو ایالتونو اسانوونکی رول:** د افغانستان فعالي ډیپلوماسۍ د رواني جګړې د بېلابېلو اړخونو له په‌پام کې نیولو سره د سولې په برخه کې د امریکا د متحدو ایالتونو د اسانوونکي رول لپاره زمینه برابره کړه او له یوې نیمې لسیزې وروسته یې دغه هېواد د افغانستان له ګاونډیانو سره د سولې په تعاملاتو کې د ښه‌والي رول لوبولو ته قانع کړ. حکومت د افغانستان د سولې په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي لازمي کاري همغږۍ د افغانستان د ملي ګټو او سولې د افغاني مالکیت پر اساس پیاوړې کړې دي. همدارنګه د شوو خبرو پر هر پړاو پوره څارنه لري.

---

۱ APAPPS
۲ د سولې لار نقشه، ۱۳۹۷

**د افغانستان، عربستان، اماراتو او امريکا څلور اړخيزې ناستې:** دغه څلور اړخيزې ناستې د څلورو هېوادونو د ملي امنيت د سلاکارانو په ګډون د (١٣٩٧ د وري ۵ مه) په واشنګټن کې په لومړۍ ناستې سره پيل شوې. نورې ناستې د زمري پر ٢مه، د لړم پر ٢۴مه او د ١٣٩٧ د ليندۍ پر ٢۵مه په ابوظبۍ کې جوړې شوې. د نړيوالو ترهګريزو ډلو پر وړاندې ګډه مبارزه، د ترهګرو د مالي سرچينو له‌منځه وړل، د افغانستان د سولې بهير، سيمه‌ييزې همکارۍ او له طالبانو سره مستقيمې خبرې د دغو څلورو ناستو موضوعات وو. په وروستۍ ناسته کې «د سولې لار نقشه» او د بين الافغاني خبرو لپاره له طالبانو سره د افغانستان د دولت د مستقيم تعامل په اړه خبرې وشوې.

خومره لاره مو وهلې؟

١ بهرنی سیاست

٢ اقتصادي انکشاف

٣ سوله

# ٤ امنیت

٥ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا

٦ ټولنیز انکشاف

*د امنیت تینګښت تل د افغانستان د خلکو د یوې مهمې او اساسي غوښتنې په توګه مطرح و، چې اهمیت ته یې په پام سره د ملي یووالي حکومت په تېرو څلورو کلونو کې دغې غوښتنې ته د رسېدو او په هېواد کې د سراسري ټیکاو د رامنځته کولو لپاره د خپلو پروګرامونو په لومړیتوبونو کې راوستی دی. امنیتي او دفاعي ځواکونه له څلورو کلونو وروسته تر ۹۰ سلنه ډېر اکمالاتي پوښښ لري، منسجمه، همغږې او واحده سوق او اداره لري، اصلاحات د څلور کلن امنیتي پلان له مخې کېږي، د امنیتي ځواکونو مورال پیاوړی شوی، په خپلواکو عملیاتو کې د ځواکونو ظرفیت لوړ شوی او امنیتي او دفاعي ځواکونو په خپلو اتلولیو سره په مېړانه د هېواد د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا دفاع کړې ده.*

د سیاسي جغرافیې ساتنه او د ځمکنۍ بشپړتیا دفاع

د وسله‌والو ځواکونو د اعلا سر قوماندانۍ او د توحید د ملي مرکز جوړول

د سوېلي اسیا او افغانستان لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو د ستراتېژۍ اعلان

د ځواکونو ظرفیت لوړول

پراخ او پایدار اصلاحات

د څلور کلن امنیتي پلان جوړول او پلي کول

پر امنیتي او دفاعي ځواکونو دوامداره پانګونه

د عملیاتو د اغېز ډېروالی

په پوځي بنسټونو کې د فساد کمول

د بشري حقونو د مسایلو ښه‌والی

د ځواکونو او د هغوی د کورنیو د ژوند ښه‌والی

د ځواکونو د مورال پیاوړي کول او د دوښمن روښانه تعریف

په پوځي برخه کې د قانوني تشو ډکول

له نشه‌يي توکو سره مبارزه

کابل ته د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د پلاوي سفر

له ترهګرۍ سره د مبارزې سیمه‌ییزه ستراتیژي

بهمن دانشدوست

## الف ـ د سیاسي جغرافیې ساتنه او د ځمکنۍ بشپړتیا دفاع

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو له پام وړ کموالي سره، د هغوی هر اړخیز ملاتړ روزنې، مشوره ورکونې او تجهیز ته راکم شو (۲۰۱۴ کال کې) او همداراز امنیتي مسوولیتونه افغان ځواکونو ته وسپارل شول؛ نو ترهگرو ډلو په ناسمو محاسبو سره هڅه کوله یو شمېر ولایتونه سقوط کړي او د افغانستان سیاسي جغرافیه پر دوو برخو ووېشي. شومو موخو ته په رسېدو کې د دښمن ناکامي او د افغانستان د بقا تضمین هغه لومړنۍ مهمې لاسته‌راوړنې وې، چې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د اتلولیو له امله ترلاسه شوې.

## ب ـ د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندانۍ او توحید ملي مرکز جوړول

د تېل شوې جگړې سختو شرایطو ته په پام سره جمهور رئیس «د وسله‌والو ځواکونو اعلی سرقوماندانی» او «توحید ملي مرکز» جوړ کړل، ترڅو د جگړې مشري په سم ډول وشي او د ځواکونو همغږي ته په مسلکي او اغېزناک ډول پام وشي. دغه مرکز ۲۴ ساعته په ټول هېواد کې له امنیتي ارگانونو او جزوتامونو سره په اړیکه کې دی، د اعلا سر قوماندان لارښوونې هغوی ته لېږدوي او امنیتي مسوولینو ته د جگړې د وضعیت راپور ورکوي.

## پ ـ د سوېلي اسیا او افغانستان لپاره د امریکا متحدو ایالتونو د ستراتیژۍ اعلان

په هېواد دننه او بهر د ملي یووالي حکومت رهبري، بریالۍ ډیپلوماسي او د سیمې د وضعیت په اړه د جوړوونکو نظرونو په وړاندې کولو په ځانگړې توگه د نړیوالې ترهگرۍ پر وړاندې د امنیتي ځواکونو مبارزه، ددې لامل شوه چې په سیمه کې د ترهگرۍ د له‌منځه وړلو په اړه د افغانستان او امریکا د متحدو ایالتونو د حکومتونو تر منځ د نظر یووالی رامنځته شي. دغه بحثونه د سوېلي آسیا او افغانستان په اړه د امریکا د متحدو ایالتونو د ستراتیژۍ جوړولو لامل شول چې په هغو کې له ترهگرۍ سره په مبارزه کې له افغانستان سره د مرستو پر دوام، پر زماني محدودیت د ولاړ سیاست پر ځای د شرایطو پر بنسټ ولاړ سیاست مخ ته وړلو، د افغانانو له لوري د ملت‌جوړونې پر پیاوړي کولو ټینگار او د ترهگرۍ په ملاتړ د پاکستان د اقداماتو پر وړاندې د کلک دریځ نیولو، په سیمه کې پوځیانو ته د پرېکړې کولو د ډېرو صلاحیتونو ورکولو او په افغانستان کې د هند پر لا ډېر اقتصادي رول ټینگار شوی.

## ت ـ کابل ته د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د پلاوي سفر

د ۱۳۹۶ کال د مرغومي پر ۲۵مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۵ کسیز جګپوړي پلاوي د افغانستان د سیاسي او امنیتي وضعیت د څېړنې او په دغه شورا کې د افغانستان له‌خوا ثبت شوو شکایتونو ته د رسېدنې په موخه کابل ته سفر وکړ. تر ۱۳۸۰ کال وروسته کابل ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پلاوي دا لومړی سفر و چې مشري یې هم دوره‌یي مشر کوله. افغانستان د داعش په ګډون د ترهګرو ډلو د تحرک، فعالیت، روزنې او تمویل شواهد او نمونې د پلاوي له غړو سره شریک کړل. د دغه سفر په لړ کې د ۱۳۹۶ کال د مرغومي پر ۲۹مه د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا ځانګړې ناسته «د امنیت او پراختیا د تامین د الګو په توګه په افغانستان او مرکزي آسیا کې د سیمه‌ییز مشارکت جوړولو» په نامه جوړه شوه. په دغه ناسته کې د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې پر دوام، د ترهګرو پر پټنځایونو او ملاترو فشار، د افغانستان ملاتړ، د ترهګرۍ پر وړاندې د هر اړخیزې مبارزې اړتیا او د افغانستان د اقتصاد پر بیا جوړولو ټینګار وشو او نه یوازې دا چې د افغانستان لاسته‌راوړنې تصدیق شوې، بلکې د پام وړ وبلل شوې. همدارنګه د ملګرو ملتونو امنیت شورا د افغانانو په مشرۍ د سولې د بهیر ملاتړ وکړ او په ناسته کې دا مطرح شوه چې پاکستان باید په افغانستان کې د سولې او ټیکاو په راوستلو کې ونډه واخلي.

## ث ـ له ترهګرۍ سره د مبارزې سیمه‌ییزه ستراتیژي

حکومت د استانبول پروسې په چوکاټ کې له سخت‌دریځۍ او ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره د یوه ګډ سیمه‌ییز چوکاټ د جوړولو په موخه مشورې پیل کړې. په دې برخه کې افغانستان وکولای شول «له ترهګرۍ سره د مبارزې د سیمه‌ییزې ستراتیژۍ»[۱] مسوده د آسیا زړه پنځم کنفرانس (۲۰۱۵) د اعلامیې له ۲۵مې مادې سره سم له ملاتړو غړو هېوادونو سره په همغږۍ په اسلام‌اباد کې جوړه کړي. د آسیا زړه د شپږم کنفرانس په اعلامیه کې دغه مسوده وستایل شوه او پر بشپړولو یې ټینګار وشو[۲]. د سیمې د هېوادونو له‌خوا په رسمي ډول د دغه ګډ چوکاټ منل به په سیمه کې د ترهګرۍ پر وړاندې د ګډې مبارزې لپاره حقوقي الزام رامنځته کړي.

۱ Heart of Asia Regional Counter Terrorism Strategy
۲ د اسیا زړه هېوادونو د شپږمې ګډې ناستې شلمه ماده، هند، امرتسر، د لېندۍ ۱۴مه ۱۳۹۵.

## ج ـ د څلور کلن امنیتي پلان جوړول او پلي کول

د حکومت څلور کلن امنیتي پلان د ځواکونو د ارزونې زمینه برابره کړې او له مخې یې تشکیلات او جوړښتونه د تنظیم په حال کې دي. څلور کلن امنیتي پلان د افغانستان د ملي امنیت شورا لهخوا په درېیو محورونو طرح او جوړ شو چې هغه پراخ اصلاحات، د امنیتي او دفاعي ځواکونو ظرفیتجوړونه او پر ځواکونو د پانګونې برخه ده، چې د نړیوالې ټولنې او امریکا لهخوا وستایل شو او کلک ملاتړ یې وشو.

## چ ـ پراخ او پایدار اصلاحات

د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو په ټیټو او لوړو کچو کې پراخ او پایدار اصلاحات د اداري فساد د کموالي لامل کېږي او نه یوازې دا چې د امنیتي ځواکونو مورال پیاوړی کوي، د هغوی پر کړنو مثبت اغېز کوي او بریالیتوبونه یې ډېروي.

**د امنیت د ټینګښت لپاره د واحدې قوماندې رامنځته کول:** د تشکیلاتي اصلاح او د امنیت د ټینګښت او عملیاتو لپاره د واحدې قوماندې د تنظیم په موخه سرحدي او عامه نظم ځواکونه له کورنیو چارو وزارت څخه د ملي دفاع وزارت له تشکیل سره یو ځای شول. دغه ځواکونه به د ملي اردو له ځواکونو سره په همغږۍ ښه ظرفیت جوړ کړي ترڅو سیمې په اساسي توګه وساتي. همدارنګه د ملي دفاع وزارت په قرارګاوو کې د تشکیلاتي تورم د رفعې په موخه اقدامات، د وظیفوي تداخل مخنیوی، د ملي اردو له تشکیلاتي لومړیتوبونو سره سم د نویو وړتیاوو د رامنځته کولو په موخه د سرچینو موندل، د وړتیاوو لوړول او د ملي اردو ظرفیتونه لوړول هغه چارې دي چې کار پرې شوی.

**د قانون پر نافذولو د پولیسو متمرکز کول:** تېل شوې جګړه او د کلونو لپاره د هغې سختېدل اصلي دندې یعنې د قانون نافذولو ته د ملي پولیسو تمرکز له خنډ سره مخ کړی دی. له جګړهییز ماموریت څخه د پولیسو په لرې کولو دغه ځواکونه د عدالت د تحقق او بشري حقونو د دفاع په برخه کې متمرکز شوي دي.

**قول اردو ته د ځانګړو عملیاتو د فرقې لوړول:** کوماندو ځواکونو تر دې وړاندې د ۲ لبواګانو او ۱۰ کنډکونو په چوکاټ کې فعالیت کاوه خو په عملیاتو او د امنیت په ټینګښت کې یې د فعالیت اغېز ته پهپام د دغو ځواکونو تشکیل دوه برابره او د قول اردو په ډول تنظیم شول، ۲ ضربتي لبواګانې او ځانګړې ملي دندې هم په دغو تشکیلاتو کې ډېرې شوې دي.

**د هوايي ځواکونو بیا جوړول او پیاوړي کول:** د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې هر کال لسګونه ځوانان له هوايي پوهنتونه فارغېږي او اوسمهال تر سلګونو ډېر کسان په دغه روزنیز مرکز کې مسلکي زده‌کړې کوي. د ځواکونو مدیریت، تنظیم او اداره د ځواکونو د پیاوړي کولو لپاره یو مهم اصل دی چې په دې برخه کې د اصلاحاتو په موخه د هوايي ځواکونو د بستونو شمېر درې برابره لوړ شوی او د بلک هاک چورلکو، MD-530، UH-60، د ثابت وزر الوتکې C-208 او سوپرټوکانو A-29 ته هم جدي پاملرنه شوې ترڅو دغه ظرفیتونه سم مدیریت شي او په اغېزناک او هدف‌مند ډول ترې کار واخیستل شي.

**د ګارنیزیون جوړول:** د کابل ګارنیزیون عمومي قوماندانۍ د کابل د امنیتي ټیم د رهبري کولو د ځواک په توګه د بېړنیو عملیاتو، د ترهګریزو ډلو د فعالیتونو د مخنیوي، د غیر مسوولو ډلو او وسله‌والو د کنترول، د عامه او دولتي ملکیتونو د غصب د مخنیوي، د لاریونونو د امنیت ټینګولو، د خط سیر او د ملي او نړیوالو کنفرانسونو جوړولو د ځایونو د امنیتي تدابیرو د نیولو، له دښمنانه او قانون‌ماتوونکو فعالیتونو سره د مبارزې په موخه د پولیسو او ملي امنیت په ملاتړ فعالیت لري.

**د غیر نظامي بستونو ملکي کول:** ملي دفاع وزارت د افغانستان د جمهوري ریاست د فرمان او له نړیوالې ټولنې سره د ژمنو پر اساس تر اوسه ۱۱ بستونه د ریاست په کچه، ۷۰۰ د افسرۍ او ۳۵۰۰ د بریدملۍ او سرتېرۍ بستونه مطلق ملکي بستونو ته واړول چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو د خپلواک کمیسیون له‌خوا یې ګومانې رواني دي. همدارنګه په کورنیو چارو وزارت کې ۲۱۰۰ مالي او تدارکاتي بستونه ملکي شوي او په درېیو پړاوونو کې ۲۴۶ متخصص کسان په دغو بستونو ګومارل شوي دي.

**د پوځي افسرانو د ټاکلو آزاده سیالي:** د لومړي ځل لپاره په کورنیو چارو وزارت کې د مرکز او ولایتونو په ګډون ۳۰۰ لوړ رتبه افسر بستونه لکه د ولایتونو د امنیت آمرین، د امنیتي حوزو آمرین، له جنايي جرمونو سره د مبارزې، کشف، لوجیستیک، ممر، اعاشې، تخنیک او سرحدي مدیران د آزادې سیالۍ له لارې وټاکل شول.

**په پاسپورت ریاست کې اصلاحات:** پاسپورت ریاست چې هره ورځ له ۴۰۰۰ څخه تر ۴۵۰۰ جلده پاسپورتونه توزیع کوي، د ملي یووالي حکومت په وخت کې د اداري اصلاحاتو او سیستم جوړولو له روښانه بېلګو څخه دی. تېرو څلورو کلونو

ته په پام سره د پاسپورت د توزیع ظرفیت دوه برابره لوړ شوی او خلکو ته د خدماتو وړاندې کول ساده او اسانه شوي دي.

## ح ـ پر امنيتي او دفاعي ځواکونو دوامداره پانګونه

د هېواد پر امنيتي او دفاعي ځواکونو دوامداره پانګونه د ملي حاکمیت د تضمین، ځمکنۍ بشپړتیا او د قانون د ساتنې په توګه د ملي یووالي حکومت په امنيتي پلان کې شامله ده چې پر عملي کولو یې د ځواکونو غوڅ ملاتړ کېږي، مسلکي پوهه یې زیاتېږي او د جګړې په ډګر کې یې مهارتونه لوړېږي ترڅو ډېرې لاسته‌راوړنې ولري. په دې برخه کې د امنيتي ځواکونو د ۴ کلونو لپاره د ٦ میلیارده ډالرو پانګې جلب او د هوایي ځواکونو د کمیت ۳ برابروالي، په بېلابېلو وسلو او وسایلو د هوایي ځواکونو د عمومي قوماندانۍ د جزوتامونو او قطعاتو د اکمال جلب، د بلک هاک، C-130، A-29، Mi-24، MD-530 او Cheetal په شان هلیکوپټرو او الوتکو لاسته راوړلو او د پوځي وسایلو د ترمیم لپاره د چین مرستې، د روسیې له‌خوا د ۱۰ زره کلاشینکوفونو مرسته او د امنيتي او دفاعي ځواکونو لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو له‌خوا د زرګونو زغره‌والو ګاډو اخیستلو ته اشاره کولای شو.

## خ ـ د ځواکونو ظرفیت لوړول

د ځواکونو ظرفیت جوړول چې د ټلور کلن امنيتي پلان د اهمیت وړ برخې جوړوي، د هېواد امنيتي او دفاعي ځواکونو ته د دې وړتیا ورکوي چې په ډېریو ځمکنیو او هوایي لیکو کې په خپلواک ډول نه یوازې عملیات وکړي بلکې اغېز یې هم ډېر کړي.

**لوړې زده‌کړې او روزنه:** د تحصیلي فرصتونو برابرولو له امله ۱۱۹۵۵ کسان له ملي پوځي اکاډمۍ، د ځوانو افسرانو له اکاډمۍ، د ځوانو هوایي افسرانو له اکاډمۍ او د افسرۍ له منتخبه ښوونځي (OCS) څخه فارغ او د ملي اردو له لیکو سره یوځای شوي دي. د پولیسو اکاډمۍ هم له ۱۳۹۵ کال څخه تر ۱۳۹۷ کال پورې ۱۳۰٦ کسان فارغ کړي دي. همدارنګه په تېرو څلورو کلونو کې د ملي دفاع وزارت له‌خوا ۵۰۹٦ افسران، بریدملان او محصلین ۲۳ هېوادونو او د کورنیو چارو وزارت له‌خوا ۴۴۳۴ محصلین ۳۳ هېوادونو او ۱۲٦ کسان نور د ماسترۍ دورې سټف کالج ته ور پېژندل شوي او لېږل شوي دي. تر اوسه له هېواده بهر ۵۴۹ افسران او بریدملان له لوړو زده کړو په راګرځېدو سره په هوایي ځواکونو کې دنده لري. تر ۷۰۰ ډېرو د ملي اردو موظفینو د شپې او ورځې د الوتنو زده‌کړې بشپړې کړې او په بېلابېلو برخو کې ۲۷۸۹ کسانو مسلکي کورسونه لوستي دي.

**د ښځو له ظرفیته ګټه اخیستل:** د ملي یووالي حکومت له پیله تر اوسه تر ۲۱۴۰ ډېرې ښځې د ملي دفاع وزارت په بېلابېلو دندو ګومارل شوې او دنده اجرا کوي. همدارنګه ۱۲۵۳ ښځې د پولیسو په چوکاټ کې جذب شوې دي.

**د ترفیع او تقاعد اجرا کول:** له ځوانو ظرفیتونو څخه د ګټې اخیستنې او د امنیتي او دفاعي ځواکونو په لیکو کې د تحرک رامنځته کېدو په موخه، د حکومت له لوري په شرایطو د برابرو کسانو تقاعد پیل شوی دی. د افسرانو، بریدملانو او ساتنمانو د ذاتي چارو قانون د ۱۳۹۶ کال په لړم میاشت کې په رسمي جریده کې په خپرېدو سره نافذ شو. په دغه برخه کې د ۲۹۳ جنرالانو په شمول ۲۵۸۷ د ملي پولیسو افسران او د ملي اردو سلګونه ځواکونه تقاعد شول. همدارنګه له قانون سره سم په ملي اردو کې تر ۱۹۸۰۰ ډېر او په سلګونو مورده د ملي پولیسو په برخه کې د ترفیع موارد اجرا شوي دي.

## د ـ د عملیاتو د اغیز ډېروالی

حکومت د تحمیلي جګړې له سخت‌والي سره سره وکولای شول په درېیو برخو کې د عملیاتو په څرنګوالي کې بدلون راولي: تهاجمي کړنې؛ په خپلواک ډول عملیات کول او په ګډو عملیاتو کې د همغږۍ ډېروالی.

**د لویو او بېړنیو عملیاتو طرحه او اجرا کول:** د امید، شفق، خالد او نصرت په نومونو څلور لوی عملیات د افغان ځواکونو له‌خوا په هغو ولسوالیو کې وشول چې تر لوړ ګواښ لاندې وې او له ګاونډیو ولسوالیو سره تړلې وې، چې په هغو کې کوماندویي، شپني او هوایي بریدونه شامل وو. د لویو او بېړنیو عملیاتو له امله د دوښمن د نورو زیانونو ترڅنګ د وسله‌والو مخالفینو لږ تر لږه ۲۴ لوړ رتبه او کلیدي کسان ووژل شول، داعش ته ډېر زیانونه واوښتل او ۴۲۴ کسان د دښمن له بنده خوشي کړای شول.

**د داعش ځپل:** د داعش پر وړاندې عملیات د جوزجان د درزاب او قوش‌تپې ولسوالیو او په ننګرهار کې د خوګیاڼیو، اچین، پچیراګام او تورې بورې سیمو د پاکېدو لامل شوي دي. همدارنګه د داعش د ۸۱۰۷ غړو د له‌منځه تلو ترڅنګ د دغې ډلې مشران لکه حافظ سعید، عبدالحسیب مشهور په حسیب لوګري، ابوسعید او ابوسعد ارهابي ووژل شول، تر ۲۰ ډېر نور کلیدي غړي یې له منځه ولاړل او ۲۲۵ کسان یې په درزاب ولسوالۍ کې د سولې له پروسې سره یوځای شول.

**د لویو لارو امنیت ټینګول:** کورنیو چارو وزارت له دفاعي او امنیتي ځواکونو سره په همغږۍ د لویو لارو د امنیت ټینګښت په موخه ګډ پلان جوړ او اجرا کړی دی، په دغه پلان کې د عمومي لویو لارو د مسیر او د ولسوالیو او ولایتي مسیرونو د امنیت ټینګښت په پام کې نیول شوی.

## ذ ـ د بشري حقونو د مسایلو ښه‌والی

په تېرو څلورو کلونو کې د ملي یووالي حکومت هر اړخیزو هڅو ته په پام، امنیتي او دفاعي ځواکونه په جګړه کې د بشري حقونو د مسایلو په رعایتولو ډېر مکلف شوي او په دې برخه کې د یوه مهم ارزښت په توګه لازم اقدامات شوي چې دایمي څارنې کېږي او نظارت‌خونې هم څارل کېږي. د ملي دفاع وزارت د بشر دوستانه او بشري حقونو، په وسله‌والو جګړو کې د ماشومانو د ساتنې، په دفاعي ځواکونو کې د ماشومانو د ګومارلو د مخنیوي، اخلاقیاتو او د پرسونل د قوانینو په برخه کې ۴ پالیسۍ جوړې کړې دي. د بشري حقونو د رعایت په موخه په کورنیو چارو وزارت کې هم د ماشومانو د جذب او شکنجه کولو مخنیوی شوی او پر وړاندې یې جزایي اقدامات کېږي. همدارنګه د ملي امنیت عمومي ریاست په دوامدارې څارنې سره مدافع وکیل ته د تورنو کسانو لاسرسی، له قانوني سن څخه د ټیټو ماشومانو د ګومارلو مخنیوی، د ملي امنیت په څارن‌ځایونو کې د ماشومانو نه ساتل او د بشري حقونو په برخه کې د سرغړوونکو پر وړاندې جزایي اقدامات عملي کړي دي.

## ر ـ په پوځي بنسټونو کې د فساد کمول

په امنیتي او دفاعي بنسټونو کې د فساد کمولو لپاره په تېرو څلورو کلونو کې پام وړ اصلاحات او لاسته‌راوړنې شوې چې په دې برخه کې کولای شو په ترونونو کې د روڼتیا رامنځته کېدو، په بېلابېلو برخو کې د بایومټریک او الکترونیکي سیستم جوړولو، په لازمو ځایونو کې د امنیتي کمرو لګولو، د اکمالاتو معیاري تنظیم او شکایتونو ته پر وخت رسېدنې ته اشاره وکړو. له ترونونو ترلاسه شوې سپما په لومړي پړاو کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو دوولس زرو کورنیو ته د کوپون د برابرېدو لامل شوې ده.

**د اداري فساد دوسیو ته رسېدنه:** د کورنیو چارو وزارت د لوړ رتبه افسرانو په شمول د ۵۵۸ شکمنو کسانو د اداري فساد ۲۹۳ دوسیې عدلي او قضایي بنسټونو ته سپارل شوې دي. همدارنګه د ملي دفاع وزارت د افسرانو او بریدملانو په شمول د ۲۹۹ کسانو د اداري فساد ۹۹ دوسیې د اداري فساد له جرمونو سره د

مبارزې څارنوالیو او د لویې څارنوالۍ د درنو جرمونو عدلي او قضایي مرکز ته لېږل شوې دي. همدارنګه د کورنیو چارو وزارت له لوري د ستونزو د ثبت لپاره د اړیکو د ۳۵ مراجعو جوړول، د اداري فساد د قضیو د ثبت سیستم، په ټولو ادارو کې د روڼتیا کمېټې او د ملي دفاع وزارت له لوري «له فساد سره د مبارزې عالي بورډ» جوړول او له فساد سره د مبارزې کمیسیون اړوندې کمېټې او په عدلي او قضایي ادارو کې د فساد د قضیو څارنې سیستم جوړ شوی دی.

**په تړونونو کې روڼتیا ډېرول:** په امنیتي او دفاعي بنسټونو کې د فساد لویه سرچینه د هغوی تړونونه دي چې کچه یې لوړه ده. په دغه برخه کې د روڼتیا رامنځته کولو په موخه د تړونونو لویه برخه د ملي تدارکاتو د کمیسیون تر نظر لاندې اجرا شوې ده او همدارنګه په اړوندو بنسټونو کې غیر نظامي بستونه ملکي شوي دي. د دغې کړنلارې له امله د ملي دفاع وزارت په تړونونو کې شاوخوا ۱۰ میلیارده افغانۍ او د کورنیو چارو وزارت په تړونونو کې ۷,۱ میلیارد افغانۍ سپما شوې ده. دغې سپما د شهیدانو کورنیو ته د ښه ژوند وضعیت ته د رسېدنې لپاره پام وړ پیسې برابرې کړې دي.

## ز ـ د ځواکونو د مورال لوړول او د دوښمن روښانه تعریف

په مادي او معنوي ملاتړ سره د ځواکونو مورال ساتل شوی او پیاوړی شوی او د دوښمن روښانه تعریف د دوی د مبارزې انګېزه پیاوړې کې ده.

**د ځواکونو د مورال ساتنه او پیاوړي کول:** حکومت یو لومړیتوب د امنیتي او دفاعي ځواکونو د روحیې لوړول او د وسله‌والو ځواکونو د قربانیانو کورنیو ته رسېدنه ده، چې پایله یې د جګړې په لیکو کې د هغوی زړورتیا او مېړانه ده. د ځواکونو اکمالاتو ته جدي پاملرنه، د اکمالاتو کچه په ملي اردو کې له ۹۰ سلنې ډېره او په ملي پولیسو کې په ځینو برخو کې سل سلنې ته رسېدلې ده. د ټولنې د بېلابېلو اقشارو د ملاتړ جلب، د دولت پر وړاندې د تحمیلي جګړې د ردولو لپاره د علماوو د ملاتړ جلب او د کب میاشتې نهمه «د هېواد د دفاعي او امنیتي ځواکونو د ملاتړ ملي ورځې» په توګه نومول په دغه برخه کې د حکومت له اغېزناکو اقداماتو څخه دي. همدارنګه امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د ترفېعاتو اجرا او د ۱۲۲۲ مډالونو او ۶۷ نښانونه ورکول د یادولو وړ دي.

**د دوښمن روښانه تعریف:** د افغانستان جمهور رئیس د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په توګه د دوښمن واضح تعریف وکړ چې درې ډلې په دغه لیکه

کې راغلي: ترهګر او اورپکي؛ قاچاق وړونکي؛ د نشه‌يي توکو مافيا او د جرمي اقتصاد مافيايي کړۍ.

## ژ ـ د ځواکونو او د هغوی د کورنيو د ژوند ښه‌والی

د امنيتي او دفاعي ځواکونو د ژوند وضعيت ته رسېدنه د هېواد په امنيتي چارو کې لومړيتوب لري. په همدې موخه د شهيدانو او معلولينو په چارو کې د دولت د وزير دفتر رامنځته شوی دی. همدارنګه د امنيتي او دفاعي ځواکونو د شهيدانو ۱۲ زرو کورنيو ته د يوه کال لپاره د کوپون يو پړاو توزيع شو او پنځه سلنه د حج سهميه د شهيدانو او ورکو شوو د پاتې کسانو لپاره ځانګړې شوې ده.

**د استوګنې د ځای او ځمکې توزيع:** د امنيتي او دفاعي ځواکونو د هستوګنې د ستونزې رفع کولو په برخه کې د هستوګنې د ځايونو جوړولو په پروژو کې د امنيتي او دفاعي ځواکونو لپاره له ۱۵ تر ۲۵ سلنې سهميې د ځانګړې کولو لپاره د جمهور رئيس ۳۵۰۰ شمېره حکم صادر شو او د هستوګن‌ځايونو د جوړولو په ټولو پروژو کې په ۷ سلنه سهميه کې له ټولې بيې څخه ۳۰ سلنه تخفيف له شهيدانو څخه پاتې کسانو ته ځانګړی شوی دی. همدارنګه د امنيتي او دفاعي ځواکونو د شهيدانو وارثينو او د پوليسو د معلولينو لپاره ۱۳۹ اپارتمانونه او ۹۸۲۶ نمرې ځمکه توزيع شوې ده، د ۵۲۷ نمرو ځانګړې کول او ۵۲۷۱ کورنيو ته د ځمکې د وېش لپاره د ولايتونو ښاروالیو ته پيسې لېږل شوې دي. د يادونې وړ ده چې د امنيتي او دفاعي ځواکونو د شهيدانو د وارثينو لپاره د هستوګنې د زرو کورونو د جوړولو پروژه پيل شوې او د ملي اردو د شهيدانو ۴۸۳۸ وارثينو ته د کور جوړولو په موخه ۲۰۰ زره افغانۍ نغدي مرستې وېشل شوې دي.

**د تحصيلي فرصتونو برابرول:** د شهيدانو او ورکو شوو کسانو د کورنيو پاتې شوو غړو ته په خصوصي موسسو کې د کورنيو چارو وزارت د تعليمي او تحصيلي فرصتونو د ۷ سلنه سهميې اختصاص او د وړيا زده‌کړو لپاره خصوصي پوهنتونونو ته د پوليسو د ۲۳۴ پاتې شوو کسانو ور پېژندل په دغه برخه کې له اقداماتو څخه دي. همدارنګه د ملي اردو د شهيدانو ۴۰۰ وارثينو ته په داخل او بهر کې تحصيلي فرصتونه برابر شوي دي.

## س ـ په پوځي برخه کې د قانوني تشو ډکول

لکه څرنګه چې حکومت په نورو برخو کې پر تقنيني اسنادو کار کړی، په پوځي برخه کې يې هم بېلابېل تقنيني اسناد بشپړ او نافذ کړي دي چې له جملې يې

د نظامي لوړو زده‌کړو د موسسو قانون، د افسرانو، بریدملانو او ساتنمانو د ذاتي چارو قانون، له هېواده بهر د نظامي لوړو زده‌کړو د بورسونو مقررې، د هېواد په هوايي قلمرو کې د بهرنیو دولتونو د پوځي الوتکو او هلیکوپټرونو د الوتنې د تنظیم قانون، د شکنجې د منعې قانون، په نظامي قطعاتو کې د اطفالو (ماشومانو) د استخدام د منعې قانون او د نظامي جرمونو په هکله د جزا کود لومړی ګڼې ضمیمې ته اشاره کولای شو.

## ش ـ له نشه‌يي توکو سره مبارزه

حکومت د نشه‌يي توکو د کرکیلې او قاچاق او همدارنګه د جرمي اقتصاد، د ترهګرو او جنایت‌کارو ډلو او هم د ټولنیزو زیانونو د تمویل د یوې سرچینې په توګه د هغو پر وړاندې پر مبارزه ټینګار کوي؛ لکه څرنګه چې له نړیوالې ټولنې څخه د هغوی د قاچاق پر وړاندې د جدي مبارزې د همکارۍ غوښتنه شوې ده.

**د قانون نافذول:** په تېرو څلورو کلونو کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د قانون د نافذېدو په موخه د هېواد په کچه له ۱۲۳۰۰ د ډېرو عملیاتو اجرا کول، د ۳۰ لویو قاچاق وړونکو په ګډون تر ۱۲۸۶۰ ډېرو کورنیو او بهرنیو شکمنو کسانو نیول کېدل او د نشه‌يي توکو د پروسېس او تولید سلګونه لابراتوارونه ویجاړ شوي دي. همدارنګه ۱۳۶۰ ټنه نشه‌يي توکي سوځول شوي او تر ۹۰۰ میلیون امریکایي ډالرو ډېر نشه‌يي توکي او د قاچاق وړونکو تجهیزات نیول شوي دي. په بانکونو او صرافیو کې د لېږد پر مهال له قاچاق وړونکو څه باندې ۴,۷ میلیونه امریکایي ډالر کشف او نیول شوي دي.

**د کوکنارو د کروندو له منځه وړل:** په ۱۳۹۴ـ۱۳۹۶ کلونو کې د کوکنارو شاوخوا ۴۸۶۵ کروندې ویجاړې شوې او کروندګر د کوکنارو نه کرلو ته هڅول شوي دي. همدارنګه د معیشت بدیل پروګرامونه پلي شوي دي چې یوازې په ۱۳۹٦ کال کې یې ٦٢ زرو کسانو ته مستقیمه او ۴۳۰ زرو کسانو ته غیر مستقیمه ګټه رسېدلې ده. د دې ترڅنګ د کوکنارو نه کرلو ته د کروندګرو د هڅولو په موخه کرنیزې پروژې پیل شوې دي.

**له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د سیمه‌ییزې ستراتیژۍ طرحه:** د سیمې هېوادونو د همغږۍ د ښه‌والي او د همکاریو د پراختیا په موخه له نشه‌يي توکو سره د مبارزې په چاره کې حکومت په کابل کې د افغانستان د ګاونډیانو او د روسیې، ترکیې، متحدو عربي اماراتو او هند د استازو په ګډون دوه ورځنی کنفرانس (د

۱۳۹٦ د تلې پر ۱۷ ـ ۱۸) جوړ کړ، چې په پایله کې یې «له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د ستراتیژۍ» طرحه جوړه شوه. د دغې ستراتیژۍ دویمه مسوده د ۱۳۹۷ کال د تلې پر ۱۷مه په کابل کې د ځینو هېوادونو له سفیرانو او استازو سره په ناسته کې شریکه شوه او د بشپړولو او تصویب لپاره یې دوامدار فعالیت روان دی.

خومره لاره مو وهلې؟

١ بهرنی سیاست

٢ اقتصادي انکشاف

٣ سوله

۴ امنیت

# ۵ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا

٦ ټولنیز انکشاف

*د قانون حاکمیت، اصلاحات راوړل او روڼتیا رامنځته‌کول له حکومت څخه د خلکو اساسي غوښتنې دي چې په تحقق سره یې پر حکومت د خلکو باور ډېرېږي او د حکومت او خلکو تر منځ واټن راکموي. د ملي یووالي حکومت د نوو کړنلارو په جوړولو او قاطعیت سره غوارې د خلکو دغو تمو ته ځواب ووايي. د قانوني تشو له‌منځه‌وړل او د حقوقي زمینو برابرول، د فساد له ډولونو او د ځمکو له غصب سره جدي مبارزه، د برېښنايي حکومتولۍ وده، د خلکو د مشارکت د زمینو برابرول او د اصلاحاتي پروګرامونو طرحه او پلي کول په دې برخه کې د ملي یووالي حکومت له لویو کړنلارو څخه دي چې د ملنو وړ لاسته‌راوړنې یې لرلي دي. اوس‌مهال نه یوازې پر فساد د نړیوالې تولنې د نیوکې ګوته چپه شوې، بلکې په دې برخه کې د حکومت د نوښتونو ستاینه کوي او د دغو بهیرونو د دوام غوښتونکي دي.*

د هیواد د قوانینو چوکاټ بشپړول

عدلي او قضايي اصلاحات

په څارنوالۍ کې اصلاحات

تاکنیز اصلاحات

د محلي حکومتولۍ د اجراآتو ښه‌والی

د حکومتي بنسټونو جوړښتي اصلاح

د اداري د بشري ځواک ظرفیت جوړونه

د فساد د درک په شاخص کې لوړوالی او د روڼتیا زیاتوالی

له غصب څخه مخنیوی او د غصب شوو ځمکو بېرته ترلاسه کول

د انسان له قاچاق سره مبارزه

اطلاعاتو ته د لاسرسي پراختیا

د بیان له آزادۍ او خبریالانو غوڅ ملاتړ

د برېښنايي حکومتولۍ پراخول

محمد حسین جوهري

## الف ـ د هېواد د قوانینو چوکاټ بشپړول

د ملي یووالي حکومت پر مهال د «۳۹۷» تقنیني سندونو د طرحو طی مراحل، تدقیق او بشپړ شوی چې قانون، مقررې، طرزالعمل او اساسنامې پکې شاملې دي او د جزا کود او اطلاعاتو ته د لاسرسي؛ له اداري فساد سره د مبارزې؛ د اداري فساد د جرمونو له اطلاع‌ورکوونکو څخه د ملاتړ؛ د اداري اجراآتو؛ د ملکي لوړو زده‌کړو؛ پاسپورت؛ کانونو؛ محدودالمسؤولیت شرکتونو؛ عامه او خصوصي مشارکت؛ د افغانستان بانکدارۍ؛ ښاروالیو؛ ټاکنو؛ د کورنیو صنایعو حفاظت (ساتنې)؛ د افسرانو، بریدملانو او ساتنمانو ذاتي چارو؛ په نظامي قطعاتو کې د اطفالو (ماشومانو) د استخدام د منعې؛ تدارکاتو؛ د ځمکولې چارو تنظیم او د ګمرکاتو قوانین د ملي یووالي په حکومت کې له نافذو شوو مهمو قوانینو څخه دي.

**د جزایي قوانینو جوړول او توحید:** د جزایي قوانینو تیت‌والي او د ځینو کړنو د جرم بللو په برخه کې تشو، کلونه کلونه څارنوالان، قاضیان او مدافع وکیلان له سرخوږي سره مخ کړي وو حکومت د دغې ستونزې د له‌منځه وړلو او په عدلي او قضایي اجراآتو کې د آسانتیا لپاره د جزا کود (قانون) جوړ کړ، چې ۳۳ بېلابېل تیت قوانین یې په یوه واحده مجموعه کې راټول او نوي جزایي موارد پکې تسجیل شول. په دغه قانون کې د احکامو، عمومي قواعدو، جرمونو او مجازاتو په برخه کې نوښتونه راغلي؛ له دې ډلې د جرم او مجازاتو تر منځ د تناسب رامنځته کول، د اعدام د مواردو کمولو په موخه ۳۰ کلونو ته د عمري حبس لوړول او د جرم په توګه د دغو مواردو بلل: نسل‌وژنه، بشر ضد جرمونه، جنګي جرمونه، اداري او مالي فساد، سایبري جرایم، د انسان قاچاق، بچه‌بازي او د ماشومانو او ښځو ځورول.

## ب ـ عدلي او قضایي اصلاحات

د عدلي او قضایي بنسټونو اصلاح د حکومت مهمه موخه ده چې په دې برخه کې د پروګرام له مخې کار شوی. له همدې امله تل د محاکمو پر خپلواک کار ټینګار شوی او د جمهور رئیس له لوري د قضایې قوې د خپلواکۍ په کلک ملاتړ سره په عدلي او قضایي بنسټونو کې غیر سیاسي ګومارنې شوې دي. همدارنګه ستري محکمې د محکمو په چارو کې د والیانو د لاس‌وهنې کمولو په موخه یوه مصوبه صادره کړې ده.

**د عدلي او قضایي اصلاحاتو ملي پروګرام جوړول:** حکومت د عدلي او قضایي اصلاحاتو په موخه د عدلي او قضایي اصلاحاتو ملي پروګرام (۱۳۹۶ ـ ۱۴۰۰) جوړ کړ چې د قانون حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا د ۱۳۹۵

کال د مرغومي د شپږمې نېټې په ناسته کې تصویب شو. د یادولو وړه ده چې په دې برخه کې تر ۲۷۰ ډېرې ښځې په ستره محکمه کې د قاضیانو په توګه ګومارل شوې دي، له دې ډلې یې ۲۲ په لوړو بستونو کې دنده اجراکوي او د ځینو محکمو مشري هم کوي.

**د تقنیني اسنادو تعدیل او رامنځته کول:** د قضایه قوې د جوړښت او صلاحیت د پیاوړتیا په موخه د قضایه قوې د تشکیل او واکونو قانون تعدیل شو. همدارنګه د قضایي ستاژ د غوښتونکو منلو طرزالعمل چمتو شوی او د قضایي زده‌کړو مقرره بیا کتل شوې ده. د استیناف محکمو او سترې محکمې دېوانونه له پنځو اتو دېوانونو ته لوړ شول او د ولایتونو د محکمو د رئیسانو صلاحیت ډېر کړای شول.

**پر قاضیانو د قانون پلي کول:** له فساد سره د مبارزې او په محکمو کې له قاضیانو او په فساد ککړو کارکوونکو سره د قاطع چلند په برخه کې نږدې ۱۹۰۰ قاضیان بدل شوي او ۳۴۴ پر فساد تورن قضایي او اداري کارکوونکي او کمېشن‌کاران محاکمه شوي دي. همدارنګه د سترې محکمې ۱۵۳۷ قضایي او اداري کارکوونکي تأدیب شوي او د محکمې د ۷۹ سلنه کارکوونکو شتمنۍ ثبت شوې دي.

## پ ـ په څارنوالۍ کې اصلاحات

د لویې څارنوالۍ عالي اداره د اصلاحاتو په راوستلو سره توانېدلې د بروکسل کنفرانس ژمنې او د لویې څارنوالۍ د پایلو پر بنسټ ولاړ کلنی پلان ۱۰۰ فیصده عملي کړي، همدارنګه تر ۶۰ سلنه ډېر د میک کمېټې[۱] شاخصونه او له اداري فساد سره د مبارزې د ملي ستراتیژۍ په رڼا کې له اداري فساد سره د مبارزې پلان ۹۵ سلنه عملي شوی دی.

**د لویې څارنوالۍ عالي اداري د جوړښت پیاوړي کول:** د لویې څارنوالۍ د عالي اداري جوړښت په دغه اداره کې له اداري فساد سره د مبارزې د مرستیالۍ؛ د ښځو او ماشومانو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره د مبارزې په چارو کې مرستیالي؛ د جنډر ریاست؛ د اعدام او ربړونې د منعې د دوسیو څېړلو د کمېټو؛ د نړیوالو جرمونو څېړنې د څارنوالۍ ریاست؛ د کارکوونکو د کړنو ارزولو د آمریت په جوړولو او په ۱۷ ولایتونو کې د ۴۳ ابتدایي څارنوالیو پر فعالېدلو پیاوړی شوی دی. په همدې برخه کې په دغه اداره کې د ښځو حضور له ۳ سلنې څخه ۲۲ سلنې ته لوړ شوی چې

۱ د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمېټه (MEC)

د ښځینه څارنوالانو شمېر ۵۱۰ ته رسېدلی دی. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې مرستیالۍ او ۱۳ ریاستونو مشري د ښځو له‌خوا کېږي او د ۳۲ ولایتونو د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د واحدونو آمریتې هم ښځې دي. اوس‌مهال په ټول هېواد کې ۱۶ ښځینه څارنوالانې د ولسوالیو د څارنوالیو مشري کوي.

**د څارنوالانو د ظرفیت لوړوالی:** د څارنوالانو د ظرفیت لوړولو په موخه ۴۲۶۰ څارنوالانو په بېلابېلو برخو کې زده‌کړې کړې، ۱۵۰ کسان د لېسانس او ماسټرۍ دورو لپاره دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته او ۲۴۰ نور د کابل پوهنتون د حقوقي ستاژ دورې ته ور پېژندل شوي دي. همدارنګه د ۱۷۲۹ کارکوونکو ترفیع اجرا او په لویه څارنوالۍ کې د تنخوا د لوړوالي طرحه پلې شوې ده.

**د آزادې سیالۍ له لارې د څارنوالانو ګومارل:** د څارنوالۍ په اداره کې د اصلاحاتو په رامنځته کولو سره د مسلکي کارکوونکو جذب د وړاندیز او سپارښتنې پر ځای د سیالۍ پروسې ته اوښتی او څارنوالان د آزادې سیالۍ له‌لارې ګومارل کېږي.

**پر څارنوالانو د قانون پلي کول:** د لويي څارنوالۍ په اړوندو ادارو کې د اصلاحاتو راتلو په موخه ۱۵۵ کارکوونکي له دندې لرې شوي، ۸۰۰ مرکزي او ولایتي کارکوونکي ارزول شوي او ۹۶ کارکوونکي له اداري بستونو څخه مسلکي بستونو ته تبدیل شوي او همدارنګه د لويي څارنوالۍ ۶۷ سلنه لوړ رتبه کارکوونکو د خپلو شتمنیو فورمې ثبت کړې دي.

**د ځواب‌ویلو پیاوړې کول:** له لوی څارنوال سره د خلکو د مستقیم لاس‌رسي لپاره نومورې په اوونۍ کې یوه ورځ له مراجعینو سره مخامخ خبرو ته ځانګړې کړې ده. په وروستي یوه کال کې تر شپږ زرو ډېرو کسانو خپلې ستونزې په مستقیم ډول له لوی‌څارنوال سره شریکې کړې دي. همدارنګه د تلیفوني خدماتو د ۱۸۰ شمېرې له‌لارې د شکایتونو اورېدو مرکز جوړ شوی چې شکایتونه ثبتوي او د رسېدنې په موخه يې له اړوندو برخو سره شریکوي.

## ت ـ ټاکنیز اصلاحات

د ټاکنو په پروسه کې د روڼتیا او اصلاحاتو راوستو په موخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رای ورکوونکو نوملړ چمتو او د رای ورکولو مرکزونه تثبیت او و پېژندل. همدارنګه کمیسیون د ۱۳۹۷ کال د تلې میاشتې د ۲۸ ـ ۲۹ پارلماني ټاکنو د رای ورکوونکو د بایومتریک پروګرام عملي کړ.

**د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون جوړول:** حکومت د ټاکنیزو بنسټونو د خپلواکۍ او د هغوی د بې طرفۍ د ساتنې لپاره په لومړیو کې «د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړی کمیسیون» جوړ کړ څو ټاکنیز قوانین وڅېړي او اوسنیو اړتیاوو ته د هغو د ځواب ویلو په موخه د تعدیل لپاره مشخص وړاندیزونه چمتو کړي. د دغه کمیسیون د وړاندیز پر اساس د رڼو او عادلانه ټاکنو د اجرا په موخه د ټاکنو قانون تعدیل شو.

**د ټاکنیزو کمېشنرانو د ټاکلو لپاره نوې طریقې:** د ټاکنو په قانون کې په تعدیل سره د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو د ټاکلو لپاره نوې طریقې جوړې شوې. په دغه دوره کې دوه ځله د ټاکنیزو کمیسیونونو غړي وټاکل شول. په لومړي ځل د «غوراوي کمېټه» چې په هغو کې د سترې محکمې، د بشري حقونو د کمیسیون، د اساسي قانون پر اجرا د څار کمیسیون استازي، د مدني ټولنې یو استازی او د ښځو د حقونو د مدافعو بنسټونو یو استازی شامل وو، د ټاکنو کمیسیون لپاره یې ۲۱ کسیز او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون لپاره یې ۱۵ کسیز لېست جمهور رئیس ته وړاندې کړ. معرفي شوي کسان له جمهور رئیس، د جمهور رئیس د دویم مرستیال، اجراییه رئیس، قاضي القضات او لوی څارنوال له‌خوا تر ګډې مصاحبې وروسته وټاکل شول او پر کار یې پیل وکړ. د کمېشنرانو بیاځلي ټاکل په ۱۳۹۷ کال کې د روڼتیا د تضمین او د مشارکت د رامنځته کېدو په موخه، د ګوندونو او د ټاکنو په برخه کې د فعالو بنسټونو د وړاندیز شوي لېست پر اساس وشول. جمهوري ریاست ته ۱۷[1] نوماندانو په ټاکنو کې په ګډون سره د کمیسیونونو غړيتوب ته د ۸۴ نوماندانو لپاره رایه وکاروله او وروسته جمهور رئیس د یوه فرمان په ترڅ کې هغوی د کمیسیونونو په پوستونو وګومارل.

**د ټاکنیزو قوانینو تعدیل او تدوین:** په ټاکنیز نظام او اړوندو کمیسیونونو کې د اصلاحاتو ساتلو لپاره د روڼتیا د لوړولو په موخه قوانین پر څو د خوښې وړ پړاوونو کې بدل شول. د ۱۳۹۴ د تلې د ۷مې نېټې رسمي جریدې د ټاکنو په قانون کې لومړی تعدیل او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو نوی قانون خپور کړ. دویم ځل د ټاکنو نوي قوانین او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دندې او صلاحیتونه د ۱۳۹۴ د کب میاشتې د ۲٦مې نېټې په رسمي جریده کې نافذ شول. په پای کې د ۱۳۹۵ د تلې په څلورمه د ټاکنو اوسنی قانون په رسمي جریده کې خپور شو. په دغه

۱ ښاغلی سید نور الله جلیلي غیر حاضر و

قانون کې له سیاسي ګوندونو او د ټاکنو د څار له بنسټونو سره په همغږۍ تعدیلات راغلي چې د ۱۳۹۷ د کب پر لومړۍ نېټه خپور شوی. د دغه تعدیل پر اساس کمیسیون مکلف دی څو د ټاکنیزې پروسې د چټکوالي او روڼتیا د ټینګښت په موخه تدابیر ونیسي چې د رای ورکوونکو د نوملیکنې او پېژندنې په ګډون د ټاکنو ټولې پروسې له اړوندې کرنلارې سره سم د برېښنایي او بایومتریک ټکنالوژۍ په کارولو سره په خوندي ډول ترسره شي.

**د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو ممنوع‌الخروج کېدل:** د ټاکنیزو کمیسیونونو کمېشنران د ۱۳۹۷ کال تر ننګونو ډکو ټاکنو وروسته د خلکو، ګوندونو او مدني بنسټونو د نیوکو له امله لرې کړای شول. د کمیسیونونو غړي د ممنوع الخروجۍ تر څنګ عدلي او قضایي بنسټونو ته معرفي شول.

## ث ـ د محلي حکومتولۍ د اجراآتو ښه‌والی

حکومت د خدماتو د لوړاوي او متوازن انکشاف د تحقق لپاره په ولایتونو او ولسوالیو کې په محلي کچه د حکومتولۍ پر پیاوړي کولو ټینګار کړی. له مرکز سره د ولایتونو اړیکه په بېلابېلو طریقو ډېره شوې او همدارنګه د ځینو ولایتونو د درجې په اړه بیا فکر شوی. د ښاروالیو د هڅونې لپاره د بودیجې ځانګړې کول (په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۸۵ میلیونه افغانۍ) هغه لارې دي چې د دوی د خپلو کړنو تحرک او ښه‌والي ته هڅوي.

**د محلي ادارو د اصلاحاتو د لار نقشې جوړول:** حکومت د ښاروالیو او کلیو په کچه د حکومتولۍ د ښه‌والي په برخه کې «د محلي ادارو د اصلاحاتو لار نقشه»[۱] درییو شاخصونو لکه د امنیت ټینګښت، د قانون حاکمیت او متوازن اقتصادي انکشاف ته په پام جوړه کړې ده. د دغې لار نقشې پر اساس د کلیو، ښاروالیو، ولسوالیو، ولایتونو او سیمو (زونونو) مهمې محلي کچې تعریف شوې دي. په افغانستان کې ۸ زونونه په پام کې نیول شوي چې هر یو به یې «سیمه‌ییزه پراختیایي اداره» لري. دغه اداري د یوه دولتي شرکت په توګه جوړېږي. همدارنګه د محلي حکومتولۍ پر وړاندې پراته محدودیتونه په دغه سند کې څرګند شوي او لازم اصلاحات په پام کې نیول شوي دي.

---

۱ http://idlg.gov.af/fa/wp-content/uploads/2018/08/SNGPolicy-ApprovedbyCabinet.pdf

**د ښاروالیو قانون نافذول:** په ښاروالیو کې د چارو د انسجام او خلکو ته د هغوی د ځواب ویلو د پیاوړتیا په موخه د ښاروالیو نوی قانون په ۳۴ څپرکیو او ۲۲۹ مادو کې تعدیل، تصویب او نافذ شو. په دغه قانون کې د ښاروالیو لپاره بېلابېل معیارونه په پام کې نیول شوي او د ښاروالیو د درجه‌بندۍ، د دندو د تنظیم او همدارنګه د ښاروال او ښاروالۍ د مجلس د غړو د ټاکل کېدو ورانډوبینه پکې شوې ده. له اړوندو ادارو او خصوصي سکتور سره د ښاروالیو همکاري؛ اقتصادي وده؛ د فرهنګي میراثونو ساتنه؛ د ښاروالیو مالي او بودیجوي چارې؛ د ښاروالیو د هڅوني وجهي صندوق؛ د ښاروالیو عواید؛ د ښاري ترافیکو تنظیم؛ ښاري ترانسپورت؛ شني ساحې؛ پارکونه او تفریح‌ځایونه؛ د ژوندچاپېریال ساتنه؛ د ښاروالۍ د ښوونیز انستېتیوت جوړول او د سیمې له خلکو څخه د ښاروال د کړنو په اړه پلټنې هغه موارد دي چې په دغه قانون کې څرګند شوي دي.

**په پرېکړو کې د سیمه‌ییزو چارواکو ګډون:** په حکومتي پرېکړو کې د محلي مسوولینو د ګډون د زمینې برابرولو په موخه والیانو، ولسوالانو او د ولایتي شورا غړو ته د کابینې او عالي شوراګانو په ناستو کې د ګډون فرصت ورکړل شوی. همدارنګه له محلي چارواکو سره د حکومت د مشرۍ د وېډیو کنفرانس جوړول؛ په کابل کې د محلي چارواکو په ګډون د کلنیو کنفرانسونو جوړول او د نوو ګومارل شوو ولسوالانو لپاره د ښوونیزو پروګرامونو جوړول نور اقدامات دي.

**د مرکز او ولایتونو تر منځ واټن کمول:** جمهور رئیس د ۱۳۹۷ تر سلواغې ۶۳ ولایتي سفرونه کړي تر څو د ولایتونو وضعیت، د ځایي خلکو ستونزې او وړاندیزونه په مستقیم ډول واوري. د طبیعي پېښو او ترهګریزو بریدونو له امله له زیانمنو شوو سره همدردي، د ولایتونو د وضعیت ارزونه او پراختیایي پروژې د جمهور رئیس د سفرونو له اصلي موخو څخه وې. له بل پلوه د جمهوري ریاست اداري تل د ولایتي مسوولینو او خلکو کوربه‌توب کړی او په دې برخه کې سلګونه حضوري او وېډیوکنفرانسي خبرې اترې شوې دي. د هېواد تر ټولو لوړ مقام او جمهوري ریاست ته د ولایتونو د خلکو دومره پراخ لاسرسی د افغانستان د حکومتولۍ په تاریخ کې بې‌مخینې دی.

**شپږم جدول:**

*د جمهور رئیس د داخلي سفرونو لېست*

| گڼه | ولایت | هجري نېټه | زیږدیزه نېټه |
|---|---|---|---|
| ۱ | پکتیکا | ۱۳۹۳ لیندۍ | ۲۰۱۴ ډیسمبر |
| ۲ | هرات | ۱۳۹۳ مرغومی | ۲۰۱۴ ډیسمبر |
| ۳ | لغمان | ۱۳۹۳ سلواغه | ۲۰۱۵ فبروري |
| ۴ | لوګر | ۱۳۹۳ سلواغه | ۲۰۱۵ فبروري |
| ۵ | پنجشیر | ۱۳۹۳ کب | ۲۰۱۵ فبروري |
| ٦ | بدخشان | ۱۳۹۴ وری | ۲۰۱۵ اپرېل |
| ۷ | ننګرهار | ۱۳۹۴ غویی | ۲۰۱۵ اپرېل |
| ۸ | هرات | ۱۳۹۴ غبرګولی | ۲۰۱۵ جون |
| ۹ | کندهار | ۱۳۹۴ غبرګولی | ۲۰۱۵ جون |
| ۱۰ | خوست | ۱۳۹۴ چنګاښ | ۲۰۱۵ جون |
| ۱۱ | پکتیا | ۱۳۹۴ غبرګولی | ۲۰۱۵ جون |
| ۱۲ | کندز | ۱۳۹۴ تله | ۲۰۱۵ اکتوبر |
| ۱۳ | لوګر | ۱۳۹۴ لړم | ۲۰۱۵ نوامبر |
| ۱۴ | کندز | ۱۳۹۴ لیندۍ | ۲۰۱۵ نوامبر |
| ۱۵ | میدان وردګ | ۱۳۹۴ لیندۍ | ۲۰۱۵ ډیسمبر |
| ۱٦ | پنجشیر | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱٦ جنوري |
| ۱۷ | ننګرهار | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱٦ جنوري |
| ۱۸ | کاپیسا | ۱۳۹۴ مرغومی | ۲۰۱٦ جنوري |
| ۱۹ | کندهار | ۱۳۹۴ سلواغه | ۲۰۱٦ فبروري |
| ۲۰ | هرات | ۱۳۹۵ غبرګولی | ۲۰۱٦ جون |
| ۲۱ | هلمند | ۱۳۹۵ غبرګولی | ۲۰۱٦ جون |
| ۲۲ | ننګرهار | ۱۳۹۵ چنګاښ | ۲۰۱٦ جولای |
| ۲۳ | بامیان | ۱۳۹۵ وری | ۲۰۱٦ جولای |
| ۲۴ | غور | ۱۳۹۵ لړم | ۲۰۱٦ نوامبر |
| ۲۵ | فاریاب | ۱۳۹۵ لیندۍ | ۲۰۱٦ نوامبر |
| ۲٦ | بلخ | ۱۳۹۵ لیندۍ | ۲۰۱٦ نوامبر |
| ۲۷ | هرات | ۱۳۹۵ لیندۍ | ۲۰۱٦ ډیسمبر |
| ۲۸ | نورستان | ۱۳۹۵ سلواغه | ۲۰۱۷ جنوري |
| ۲۹ | بلخ | ۱۳۹٦ وری | ۲۰۱۷ مارچ |
| ۳۰ | نیمروز | ۱۳۹٦ وری | ۲۰۱۷ اپرېل |
| ۳۱ | بلخ | ۱۳۹٦ غویی | ۲۰۱۷ اپرېل |
| ۳۲ | بامیان | ۱۳۹٦ غویی | ۲۰۱۷ مي |
| ۳۳ | هلمند | ۱۳۹٦ زمری | ۲۰۱۷ جولای |

| ګڼه | ولايت | هجري نېټه | زېږديزه نېټه |
|---|---|---|---|
| ۳۴ | هرات | ۱۳۹٦ زمرى | ۲۰۱۷ اګېسټ |
| ۳۵ | هرات | ۱۳۹٦ زمرى | ۲۰۱۷ اګېسټ |
| ۳٦ | کندهار | ۱۳۹٦ زمرى | ۲۰۱۷ اګېسټ |
| ۳۷ | ننګرهار | ۱۳۹٦ وږى | ۲۰۱۷ سپټمبر |
| ۳۸ | پکتيا | ۱۳۹٦ وږى | ۲۰۱۷ سپټمبر |
| ۳۹ | کندهار | ۱۳۹٦ تله | ۲۰۱۷ اکتوبر |
| ۴۰ | پکتيا | ۱۳۹٦ تله | ۲۰۱۷ اکتوبر |
| ۴۱ | بادغيس | ۱۳۹٦ ليندۍ | ۲۰۱۷ ډېسمبر |
| ۴۲ | هرات | ۱۳۹٦ کب | ۲۰۱۸ فبروري |
| ۴۳ | پکتيا | ۱۳۹۷ ورى | ۲۰۱۸ اپرېل |
| ۴۴ | خوست | ۱۳۹۷ ورى | ۲۰۱۸ اپرېل |
| ۴۵ | لوګر | ۱۳۹۷ غويى | ۲۰۱۸ مې |
| ۴٦ | بلخ | ۱۳۹۷ غبرګولى | ۲۰۱۸ مې |
| ۴۷ | کندهار | ۱۳۹۷ غبرګولى | ۲۰۱۸ جون |
| ۴۸ | ننګرهار | ۱۳۹۷ چنګاښ | ۲۰۱۸ جولاى |
| ۴۹ | لغمان | ۱۳۹۷ چنګاښ | ۲۰۱۸ جولاى |
| ۵۰ | پنجشېر | ۱۳۹۷ چنګاښ | ۲۰۱۸ جولاى |
| ۵۱ | بادغيس | ۱۳۹۷ زمرى | ۲۰۱۸ جولاى |
| ۵۲ | کاپيسا | ۱۳۹۷ زمرى | ۲۰۱۸ اګېسټ |
| ۵۳ | غزنى | ۱۳۹۷ زمرى | ۲۰۱۸ اګېسټ |
| ۵۴ | غزنى | ۱۳۹۷ تله | ۲۰۱۸ سپټمبر |
| ۵۵ | بلخ | ۱۳۹۷ تله | ۲۰۱۸ اکتوبر |
| ۵٦ | پروان | ۱۳۹۷ تله | ۲۰۱۸ اکتوبر |
| ۵۷ | کندهار | ۱۳۹۷ لړم | ۲۰۱۸ اکتوبر |
| ۵۸ | هلمند | ۱۳۹۷ لړم | ۲۰۱۸ اکتوبر |
| ۵۹ | پکتيکا | ۱۳۹۷ لړم | ۲۰۱۸ نوامبر |
| ٦۰ | دايکندي | ۱۳۹۷ لړم | ۲۰۱۸ نوامبر |
| ٦۱ | باميان | ۱۳۹۷ لړم | ۲۰۱۸ نوامبر |
| ٦۲ | هرات | ۱۳۹۷ ليندۍ | ۲۰۱۸ ډېسمبر |
| ٦۳ | ننګرهار | ۱۳۹۷ سلواغه | ۲۰۱۹ فبروري |

**په ښاروالیو کې د عوایدو لوړوالی:** حکومت د ښاروالیو په پیاوړي کولو سره په دولت کې دغه بنسټ له یوې خدماتي اداري څخه پر یوه عایداتي اداره بدل کړی چې په پایله کې یې په ۱۳۹۷ کال کې په ۳۳ ښاروالیو کې عواید ۴۵ سلنه لوړ شوي دي. همدارنګه د سیمه‌ییزو ارګانونو خپلواکې اداري په ۲۰ ښاروالیو کې د «ښار»

پروګرام په پلي کولو سره د ښاروالانو، د ښاروالیو د معینیت، د ښاروالیو د کارکوونکو او د ښاروالیو د مشورتي شوراګانو لپاره د تخنیکي مرستو زمینه برابره کړې ده.

**د سیمه‌ییزو چارواکو په ګومارلو کې د آزادې سیالۍ پلي کول:** د سیمه‌ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو له خپلواک کمیسیون سره په همکارۍ د لومړي ځل لپاره د ولایتونو د مرکزونو د ښاروالانو او د ولسوالیو د دویم بست ښاروالانو د ټاکل کېدو طرزالعمل جوړ او اجرا کړ، چې په تېرو څلورو کلونو کې د ولایتونو د مرکزونو ۳۲ ښاروالان، ۲۴۹ ولسوالان او ۱۸ مرستیال والیان له دې لارې ټاکل شوي دي.

## ج ـ د حکومتي بنسټونو جوړښتي اصلاح

د موازي ادارو شتون، تشکیلاتي پړسوب (تورم) او د حکومتي ادارو ترمنځ وظیفوي تیت‌والی، د حکومتي ادارو ترمنځ د چارو د کاري انسجام او همغږۍ د ټکنیتوب لامل کېږي چې په پای کې خلکو ته د حکومت له‌خوا وړاندې کېدونکي خدمات له ننګونې سره مخ کوي. د ادارو د فعالیت ښه‌والي او تنظیم، وظیفوي تداخل څخه د مخنیوي او د حکومت له‌خوا د ښو خدماتو وړاندې کولو لپاره په بودیجوي واحدونو کې جوړښتي اصلاحات یوه مهمه چاره ده چې د ادارو د ادغام، حذف او یا تاسیس لامل شوې ده.

**د نوو ادارو جوړول:** د لوړو زده‌کړو وزارت د کانکور ازموینو د عمومي ریاست پر ځای «د ازموینو د ملي ادارې» جوړول، د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د معینیت پر ځای «د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د ادارې» جوړول، د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د یوې برخې پر ځای «د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت» جوړول، «د درملیزو چارو او طبي محصولاتو د تنظیم ملي اداره»، «د افغانستان د نفتو او ګازو د تنظیم اداره»، «د افغانستان د جمهوري ریاست د ملي پراختیا عملیاتي او حمایوي اداره»، د جمهوري ریاست د چارو ادارې په تشکیل کې «د ملي تدارکاتو اداره»، او «د کابل ګارنیزیون» هغه ادارې دي، چې د ملي یووالي حکومت په دوره کې جوړې شوې دي. همدا راز په ځینو بودیجوي واحدونو کې مرستیالۍ زیاتې شوې دي چې کولی شو په لویه څارنوالي اداره کې د ښځو پر وړاندې د مبارزې مرستیالۍ، په بهرنیو چارو وزارت کې د اقتصادي همکاریو مرستیالۍ، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په اړانه کې د پناه‌غوښتونکو مرستیالۍ او په عدلیه وزارت کې د ټولنیزو چارو مرستیالۍ ته اشاره وکړو.

**د ادارو ادغام او لېږد:** د ترانسپورت وزارت، ټولګټو چارو وزارت، د ملکي هوايي چلند اداره، د افغانستان د اوسپنې د پټلۍ اداره او د ترافيکو رياست سره يو ځای او د «ترانسپورت وزارت» تر نامه لاندې يې يوه مرکزي اداره رامنځته کړه. د جيوديزۍ او کارتوګرافۍ عمومي رياست د ځمکو له خپلواکې ادارې سره يو ځای شو او وروسته د ځمکو خپلواکه اداره له ښار جوړولو او کورونو وزارت سره يو ځای شوه چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت يې رامنځته کړ. همدا راز د نشه‌يي توکو پر ضد د مبارزې وزارت له کورنيو چارو وزارت سره يو ځای شو، له فساد سره د مبارزې عالي اداره له لويې څارنوالۍ سره يو ځای شوه، د نفوسو د ثبت او احوال اداره د احصايې له مرکزي ادارې سره يو ځای شوه چې «د احصايې او معلوماتو ملي اداره» يې جوړه کړه او آيسا اداره له صنعت او سوداګرۍ وزارت سره يوه ځای شوه. په همدې برخه کې د تقاعد خزينې لوی رياست له کار وزارت څخه ماليې وزارت او د بندرونو برخه له صنعت او سوداګرۍ څخه ماليې وزارت ته ولېږدول شول. د دغو اقداماتو ترڅنګ په نظامي برخو کې هم د ادارو ادغام او انتقال شوی دی چې کولی شو د بېلګې په توګه له کورنيو چارو وزارت څخه ملي دفاع وزارت ته د سرحدي ځواکونو او عامه نظم او امن د ځواکونو انتقال ته اشاره وکړو.

## چ ـ د ادارې د بشري ځواک ظرفيت جوړونه

حکومت د ملکي خدماتو په برخه کې د اصلاحاتو په راوستو سره د ادارې د انساني منابعو د اصلاح او پياوړي کولو په برخه کې د حکومت د يوه خوځنده ماشين په توګه اقدام کړی. دغه مهم کار ته د پام له امله په ادارو کې د ځوانانو په ګومارلو کې څرګند بدلون ښکاري او د ملکي خدماتو د انساني ځواک په برخه کې د نسلي بدلون بهير څرګند شوی دی.

**په ادارو کې د ځوانانو ګومارنه:** په لوړو دولتي بستونو (۱ او ۲ بست) کې د ځوانانو ګومارنه په مرکز کې په ۱۳۹۳ کال کې له ٦٣ سلنې څخه په ۱۳۹۷ کال کې ۹۷ سلنې ته لوړه شوې ده. همدارنګه په ټيټ‌رتبه بستونو کې په مرکز کې له ۸۲ سلنې څخه ۸۷ سلنې ته او په ولايتونو کې له ۸۴ سلنې ۹٦ سلنې ته لوړ شوی دی. د استخدام په برخه کې د اصلاحاتو راوستو او روښتيا تر څنګ د عمر خوړلو کارکوونکو تقاعد د ځوان‌ځواک له ډېروالي سره مرسته کړې. له بل پلوه د ادارو د دويمو واحدونو د بستونو (ولايتي بستونو) اعلانولو په موخه د عايداتي ادارو لپاره د پام وړ بست د برحال کارکوونکي تر ۵ کاله ډېر خدمت او په نورو ادارو کې د پام وړ بست لپاره د برحال کارکوونکي تر ۷ کاله ډېر خدمت د شاخص په توګه ټاکل

شوي چې په پایله کې یې ځوانانو ته د بستونو نیولو او سیالۍ فضا رامنځته شوې.

**د سي بي آر په ختمېدو سره د بدلون پروګرام پیلول:** د سي بي آر پروګرام د بنه پلي کولو په موخه چې کارکوونکو به د پایلو پر اساس ډېر امتیازونه ترلاسه کول، اړین تعدیل راوړل شو او د ډېرو بستونو د شمولیت زمینه پکې برابره شوه. هم‌مهاله د دغه پروګرام په پای ته رسېدو سره او د متخصص کاري ځواک په جذب کې د هغو لاسته راوړنو ته په پام، د «بدلون»[۱] پروګرام طرحه او پلي شو. دغه پروګرام د درېیو کلونو (۱۳۹۸- ۱۴۰۰) لپاره جوړ شوی دی.

**د بشري سرچینو ظرفیت لوړول:** د تحصیلي بورسونو د معرفي د طریقې په اصلاح سره ۲۱۸۰ دولتي کارکوونکي په ۱۴۳٦ لنډ مهالو ښوونیزو پروګرامونو کې له هېواده بهر لېږل شوي. د لوړو زده‌کړو لرونکو (لېسانس، ماستري، دوکتورا) کسانو د جذب بهیر پراخ شوی او د لېسانس سند لرونکو سلنه په ۱۳۹۳ کال کې له ۳۰ سلنې څخه په ۱۳۹۷ کال کې ۵۷ سلنې ته رسېدلې ده. همدارنګه د کارکوونکو د مکافاتو په برخه کې د ملکي خدماتو کارکوونکو ته د «خلاقیت» او «ورتیا» جایزې ورکړل شوې دي. د دغه پروګرام د لومړۍ دورې ۱۰ ګټونکو ته د ۱۳۹۷ د مرغومي پر ٦ مه د جمهور رئیس له‌خوا جایزې ورکړل شوې.

**د استخدام د طریقو اصلاح:** حکومت د ملکي خدماتو د کارکوونکو د ګومارلو طریقه بربښنایي کړې، چې په‌کې ټولې پروسې په آنلاین ډول ترسره کېږي. په آنلاین ازموینه کې پاڼې د کمپیوټر په وسیله کنټل کېږي او پایله یې د ازموینې له پای ته رسېدو سره سمه اعلانېږي. اوس‌مهال د وزارتونو او ادارو د لومړي او دویم بست ازموینې د دغه سیستم له‌لارې اخیستل کېږي. همدارنګه د اداري اجراآتو او له اداري فساد سره د مبارزې د قوانینو په نافذولو سره د فاسدو کارکوونکو د ګومارلو پر وړاندې محدودیت وضع شوی.

**ډله‌ییزې ازموینې اخیستل:** د ډله‌ییزې او انفرادي سیالۍ د ازموینې بهیر د وړتیا پر اساس د کارکوونکو د جذب اغېزناکه طریقه ده. په لومړني اقدام کې د بربښنایي پېژندپاڼو د اداري د ۴۹۲ خالي بستونو ډله‌ییزه ازموینه تنظیم او عملي شوه چې د خلکو د خوښې او باور وړ وګرځېده. د ادارو د ٦۹۷ تدارکاتي بستونو ازموینه هم په همدې ډول د ۱۳۹٦ کال د تلې په میاشت کې تر ۸ زره د ډېرو داوطلبانو تر منځ وشوه. د پنځمو او شپږمو بستونو لپاره د ۸ زره ښوونکو په ګډون د ۱۸ زره کسانو استخدام د مدني بنسټونو په څار سره، همدارنګه تجارتي اتشې د ۲۱ او ښوونکو د

---

۱ CHANGE

روزنې د ۷۰۰ بستونو ازموينه هم په يوه جمعي سيالۍ کې واخيستل شوه.

**په ګومارنو کې د عدالت ټينګښت:** په دولتي ګومارنو کې د عدالت د ټينګښت په موخه د آزادې ټوليزې سيالۍ تر څنګ ښځو ته په ليکنۍ ازموينه کې ۵ امتيازي نمرې ورکړل شوې دي او د معلولو کسانو د حقونو د ملاتړ لپاره ټولو ادارو ته ويل شوي چې د ټولنې دغه پاړکي ته د هرې ادارې په کلنۍ عمومي ګومارنه کې ۳ سلنه سهميه ورکړي. له بل پلوه، د ادارې اصلاحاتو او ملکي خدماتو په کميسيون کې د شکايتونو د څېړنو وخت له ۹ مياشتو څخه دربيو اونيو ته راټيټ شوی او د پېرودونکو د خدماتو د مرکز په جوړولو سره ټولو ستونزو ته په يوه وخت او يوه ځانګه کې رسېدنه کېږي. همدارنګه ستونزو ته د رسېدو په موخه د ادارې اصلاحاتو او ملکي خدماتو د کميسيون مشران هره دوشنبه له مراجعينو سره په مخامخ ناستو کې حاضرېږي.

## ح ـ د فساد د درک په شاخص کې لوړوالی او د روڼتيا زياتوالی

په داسې حال کې چې په تېر کې افغانستان په فساد د تر ټولو ککړ هېواد په توګه پېژندل کېده، د ملي يووالي حکومت وکولای شوای د تر ټولو فاسدو هېوادونو له ډلې د افغانستان نوم وباسي. د (۲۰۱۸ زيږديز کال) د فساد د درک د شاخص[۱] د ډلبندۍ په اړه د روڼتيا نړيوال سازمان[۲] په وروستي راپور کې، افغانستان د ۱٦ امتيازونو په ترلاسه کولو سره د تېر کال په پرتله، پنځه درجې پورته تللی او له ۱۸۰م ځای څخه ۱۷۲م ځای ته راغلی دی. دغه لاسته راوړنې د حکومت د عملي اقداماتو له امله له فساد سره د مبارزې په برخه کې لکه د تقنيني اسنادو جوړول، د روڼتيا د ډېرولو لپاره د مېکانيزمونو جوړول او پر فساد د تورنو جګپوړو کسانو د محاکمې په پايله کې رامنځته شوې دي. همدارنګه د ادارې فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمېټې (ميک)[۳] څېړنو ته په پام د دغې کمېټې د وړانديزونو ګراف چې د حکومت له‌خوا پلي شوي، په وروستيو څلورو کلونو کې لوړوالی ښيي.

---

۱ Corruptions Perception Index (CPI)
۲ Transparency International
۳ Independent Joint Anti-Corruption Monitoring and Evaluation Committee (MEC)

**یوولسم شکل:**

*د شفافیت نړیوال سازمان له لوري د فساد د ادراک شاخص په رتبه‌بندی کې د افغانستان امتیاز*




**د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ملي ستراتیژۍ جوړول او پلي کول:**
حکومت له فساد سره د هدفمندې مبارزې په موخه، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ملي ستراتیژي[1] جوړه کړه. دغه ستراتیژي د ۱۳۹٦ د تلې میاشتې په شپږمه د قانون د حاکمیت او له فساد سره د مبارزې د عالي شورا له‌خوا تصویب شوه. دغه ستراتیژي په شپږو محورونو کې، چې سیاسي رهبري او د اصلاح‌گرانو له شبکې ملاتړ؛ د امنیتي سکتور اصلاح؛ پر وړتیا ولاړ د ملکي خدماتو بنسټیز کول؛ د اداري فساد د تورنو کسانو څارنه او د مالیې او بودیجې سم مدیریت؛ د پیسو تعقیب او د اقتصادي ارګانونو نښه‌والی پکې شامل دي، ترتیب شوې او هغه وزارتونه چې ۷۰ سلنه عواید او مصارف لري، په لومړیتوب کې راغلي دي. د دغې ستراتیژۍ پر پلي کولو څېړنه او څارنه له اداري فساد سره د مبارزې د ځانګړې سکرتریت له‌خوا د جمهوري ریاست د عالي مقام د عمومي دفتر د ریاست په چوکاټ کې کېږي چې د ۱۳۹۷ کال تر لیندۍ پورې له ۳۸ موارد ځخه د ۳۰ بنچمارکونو او له ٦٦ موارد ځخه د ۴۳ موخو د بشپړ پلي کولو ښکارندویي کوي.[2]

**د قانون د حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا جوړول:** د قانون د حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا جوړول، له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د حکومت د جدي ارادې ښکارندویي کوي. د دغې شورا دندې چې په مشرتابه کې یې جمهور رئیس دی، د قانون د حاکمیت پر اساس د عدلي او قضایي نظام اصلاح او پیاوړي کول؛ عدالت ته د لاسرسي

۱ http://moj.gov.af/Content/files/Strategy_dari_version.pdf
۲ د اداري فساد پروړاندې د مبارزې ملي ستراتیژۍ د تطبیق په اړه د ۱۳۹۷ مالي کال د دریېمې ربع راپور

زياتول؛ د قوانينو او نورو تقنيني اسنادو اصلاح او له فساد سره په مبارزه کې د ادارو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول دي. د قوانينو کمېټې، عدلي او قضايي او له اداري فساد سره مبارزه دغو دندو ته تحقق وربښي.

**د اداري فساد د درنو جرمونو د تورنو محکمه:** حکومت د دولتي جګپوړو چارواکو د اداري فساد قضيو ته د رسېدو په موخه، «د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز» د جمهوري رياست د ۱۳۹۵ د چنګاښ ۱۰ نېټې د فرمان پر اساس جوړ کړ. د دغه مرکز له جوړېدو راهيسې يې ٦۹۰ قضيې ثبت کړې دي. په اداري فساد د تورنو جګپوړو دولتي چارواکو د محاکمه کولو چې په هغو کې د پنځو وزيرانو جرمي دوسيې هم شاملې دي او اختصاصي محکمې ته يې دوسيې لېږل شوي دي؛ د اوو معينانو او شپاړسو جنرالانو محاکمه؛ د ۱۵ جنرالانو او د وزارت د يوه معين په شمول د ٦۷ تنو ممنوع الخروج کول او د ۴۷ قضيو وروستي کول چې تورن يې په جزا محکوم شوي او په زندان کې دي، د دغه مرکز له مهمو لاسته راوړنو څخه دي. د يادونې وړ ده چې له اداري فساد سره د مبارزې قانون په ۵ څپرکيو او ۴۰ مادو کې جوړ او تصويب شوی دی. په دغه قانون کې له اداري فساد سره د مبارزې د کمېسيون او د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز دندې او صلاحيتونه او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د ادارو د همغږۍ او همکارۍ مسووليت تشريح شوی دی.[۱]

**د اداري فساد دوسيو ته رسېدنه:** د لويې څارنوالۍ عالي اداري له تېر حکومت څخه را پاتې ۵۰۰ دوسيو او د لويې څارنوالۍ پر اداري فساد د تورنو ۳٦ څارنوالانو او اداري کارکوونکو دوسيې او د نورو ادارو د اداري فساد ٦۰٦۴ قضيو ته رسېدنه کړې ده. همدارنګه له اداري فساد سره د مبارزې د جرمونو عسکري څارنوالۍ د اداري فساد ۱۱۴٦ قضيې ترلاسه کړې چې په هغو کې ۱۹۹۵ کسان شکمن دي او تر اوسه يې ۴٦۸ شکمن کسان محکوم شوي دي. د اداري فساد له جرمونو سره د مبارزې ملکي څارنوالۍ هم تر اوسه د اداري فساد ۱۵۹۸ قضيو ته رسېدنه کړې.

**په تدارکاتو کې د فساد کموالی او سپما:** حکومت د ملي تدارکاتو د اصلاحاتو د پروسې د تحقق په برخه کې، د جمهوري رياست د چارو اداري عمومي رياست په چوکاټ کې د «ملي تدارکاتو ادارې» د جمهوري رياست د ۱۳۹۳ د تلې ۲۰ نېټې د فرمان پر اساس او د جمهور رئيس غني په مشرۍ او د اجرائيه رئيس، د جمهوري رياست دويم مرستيال، ماليې، عدليې او اقتصاد وزيرانو په غړيتوب د

۱ رسمي جريده، ۱۳۱۴ شمېره، ۱۸ تله ۱۳۹۷

«ملي تدارکاتو کمېسیون» د ۱۳۹۳ د کب ۱۳ نېټې د ۷۲ ګڼې فرمان پر اساس جوړولو اقدام وکړ. تدارکاتي اصلاحات د «تدارکاتو قانون» په نوي کولو پیل شول. د ملي تدارکاتو کمېسیون په ۱۷۹ ناستو کې، د ٦٦١.۷ میلیارد افغانیو په ارزښت ۳۸۹۰ قراردادونه څېړل شوي دي، چې له ډلې یې د ٦۰۲ میلیاردو ډېرو افغانیو په ارزښت د ۳۳۱۲ پروژو قراردادونه منظور شوي دي. دغه کړنلاره له ۵۰ میلیاردو ډېرو افغانیو د سپما لامل شوې ده.

**د ګمرکونو په عوایدو کې روڼتیا:** د ګمرکونو د ۲۵ سلنه کارکوونکو لرې کول، د اسیکوډا[۱] سیستم فعالول، په ګمرکونو کې د امنیتي کمرو نصبول، د بانکونو ترمنځ د ورکړو د برېښنايي سیستم جوړول، د مالیاتي اظهارنامو او د مالیې ترلاسه کولو برېښنايي کېدل، په ولایتونو او د کابل په مالیاتي حوزو کې د سګتاس[۲] مالیاتي سیستم پلي کول، د مالیاتي اظهار نامې د پراوونو د بشپړولو ساده کول، مالیه ورکوونکو ته د خدماتو د مرکزونو جوړول، د مالیاتو د راټولولو د بیلانس اصلاح او بیا کتنه او د پوروړو مالیه ورکوونکو لپاره د مالیاتي جریمو د ۹۵ سلنې معافیت د هېواد د ګمرکونو په عوایدو کې د روڼتیا لامل شوی.

**د پرانیستې بودیجې په شاخص کې د غوره ځای ترلاسه کول:** په بودیجه کې د روڼتیا راوستل، د پرانیستې بودیجې په شاخص[۳] کې په ۲۰۱۵ کال کې له ۴۲ څخه په ۲۰۱۷ کې ۴۹ ته د افغانستان د امتیازونو د لوړېدو لامل شوی دی.[۴] د بودیجې په استماعیه ناستو کې د مدني ټولنې د بنسټونو د ګډون د زمینې برابرول؛ د عادي او پرمختیایي بودیجې د لګښت نشر؛ کابینې ته په هرو دوو میاشتو کې د پراختیایي پروژو د کمي او کیفي پرمختګ د راپور وړاندې کول او په ولایتي بودیجه جوړولو کې د خلکو او ولایتي شورا راګډول په بودیجه کې له روڼتیا سره ډېره مرسته کړې ده.

**د پرانیستې دولتدارۍ ګډون سره یو ځای کېدل:** افغانستان د ۸۸ سلنه معیارونو په بشپړولو سره وتوانېد، چې د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ پر ۱۸مه «د پرانیستې دولتدارۍ ګډون» (OGP)[۵] له نړیوال نوښت سره یوځای شي. د دغه نوښت په معیارونو کې مالي روڼتیا؛ اطلاعاتو ته لاسرسی؛ د عامه خدماتو د کارکوونکو د شتمنیو ثبت او خپراوی او په پرېکړو کې د هېوادوالو ګډون شامل دي. له دغه نوښت سره د افغانستان له یوځای کېدو وروسته، د پرانیستې دولتدارۍ ګډون د

---

۱ ASYCUDA
۲ SIGTAS
۳ Open Budget Indicater (OBI)
۴ Afghanistan Open Budget Survey, International Budget Partnership, 2017
۵ Open Government Partnership

سکرتریت (OGPA) په جوړولو سره، له ۱+۱۰ سره د OGP نړیوال نوښت د موخو په برخه کې د افغانستان د عمل ملي پروګرام[۱] تعهد، تدوین او تطبیق پیل شو.

**د فساد پر وړاندې د مبارزینو ملاتړ:** حکومت له اداري فساد سره مبارزې ته د ټولو د هڅولو په موخه، د اداري فساد د جرمونو له اطلاع‌ورکوونکو څخه د ملاتړ قانون په ۵ څپرکیو او ۳۳ مادو کې جوړ او نافذ کړ. په دغه قانون کې د اداري فساد د جرمونو له اطلاع ورکوونکو قانوني ملاتړ کېږي او د هغوی په ملاتړ د امنیتي بنسټونو مکلفیت او د هغوی د نوم نه ښودل بیان شوي دي.

په دولتي ګومارنو کې روڼتیا: د بریښنایي ګومارلو په پیلولو او د کانکور په شان د ټولیزو ازموینو جوړول، د ملکي خدماتو د ګومارنو په مېکانېزمونو کې روڼتیا رامنځته کړې ده. د اداري اصلاحاتو کمېسیون د بریښنایي پېژندپاڼو، تدارکاتو، سوداګریزو اتشو او د ۵ او ٦ بستونو د ۱۸ زرو تشو بستونو د ازموینې په اخیستلو سره دغې عملي بڼه واخیسته. د آزادې سیالۍ له لارې د ښاروالانو، ولسوالانو د ولایتونو د مرستیالانو او د څارنوالۍ د مسلکي کارکوونکو په ګومارلو کې روڼتیا رامنځته شوې.

**د کانکور له پروسې څخه د رضایت زیاتوالی:** په کانکور کې د لویو تخنیکي او مدیریتي اصلاحاتو او بدلونونو له رامنځته کېدو وروسته، په ۱۳۹۴ کال کې د داوطلبانو د ناکامۍ کچه د ۱۳۹۳ کال په پرتله له ۴۵ سلنې څخه ۱۳ سلنې ته راټیټه او د ۱۳۹٦ کال ازموینه له بې‌سارې روڼتیا څخه برخمنه شوه. په کانکور کې تخنیکي اصلاحات لکه د داوطلبانو بایومتریک او د محصلینو شکایتونو ته د رسېدنې د میکانېزم اصلاح او د هغو ساده کول، د پایلو په اعلان د نیوکو کچه را کمه او د ګډونوالو رضایت یې ډېر کړ. د یادونې وړ ده چې په نورو برخو کې د ازموینو په اخیستلو کې د رامنځته شوي ظرفیت د کارولو لپاره، په لوړو زده‌کړو وزارت کې اړوند ریاست د «ازموینو ملي ادارې» په نوم د یوه خپلواک او بې‌طرفه ارګان په توګه لوړ کړل شو.

**د حاجیانو د خدماتو ښه‌والی:** د حاجیانو د چارو د مقررې چمتو کول او په سعودي عربستان کې د ګډ پلاوي تر نظر لاندې له تدارکاتي معیارونو سره سم د قراردادونو ورکول او په لویو قراردادونو کې د ملي تدارکاتو د اسانتیاوو کارول، په وورستیو کلونو کې د حاجیانو لپاره د خدماتو د ښه‌والي لامل شوي دي. د نوبت تثبیت او د بېلابېلو ادارو د ګډ پلاوي تر نظر لاندې قرعه‌کشي؛ د اړوندو ارګانونو له لوري

---

۱ https://www.opengovpartnership.org/sites/default/files/Afghanistan_Action-Plan_2017-2019_EN_UPDATED.pdf

د حج د پروسې دوامداره پلټنه، څېړنه او څارنه؛ د پرچون پېرودلو معیاري کول؛ د ناظمینو، د بعثې غړو او مساعدینو د سفریو قانوني کول؛ د ناظمینو، د بعثې غړو او مساعدینو د ټاکلو لپاره د طرزالعمل رامنځته کول په دې برخه کې د اخیستل شوو ګامونو له جملې څخه دي.

## خ ـ له غصب څخه مخنیوی او د غصب شوو ځمکو بېرته ترلاسه کول

د ځمکې له غصب سره د پرېکنده مبارزې لپاره، هم د ډېر غصب د مخنیوي او هم د غصب شوو ځمکو د بېرته ترلاسه کولو په برخه کې اساسي اقدامات او لویې لاسته راوړنې شوې دي.

**د ځمکوالۍ چارو تنظیم:** حکومت د ځمکو د ډېر غصب د مخنیوي لپاره، دغه کار جرم وباله او جزا یې ورته وټاکله، چې د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون له جوړولو او پلي کولو سره یې روښانه بڼه خپله کړه. همدارنګه د استملاک قانون نافذ شو او د ځمکې د عادلانه او مناسبې ورکړې او د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون د احکامو د ښه پلي کولو په برخه کې د ځمکې پالیسي او د قبالې د اجرا او ثبت مقرره جوړه شوه. له بل پلوه، «د دولتي ځمکو د بانک» په جوړولو سره، په ۲۸ ولایتونو کې د دولتي ځمکو د سروې او ثبت کار پیل شوی دی. همدارنګه په ښارجوړولو او ځمکو وزارت کې د اړیکو د ۱۰۱۲ شمېرې مرکز هم فعال دی.

**د غصب شوو ځمکو بېرته ترلاسه کول:** د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون په رڼا کې، ۵۶۶ زره جریبه ځمکه بېرته ترلاسه شوې او له هغو څخه د روا ګټې اخیستنې زمینه برابره شوې ده. په دې برخه کې د ۱۸۸۲۳ غاصبانو لېست هم عدلي او قضایي بنسټونو ته سپارل شوی دی او د هېواد په کچه ۳۵۵ غیر قانوني ښارګوټي پېژندل شوي دي.

## د ـ له انساني قاچاق سره مبارزه

د ملي یووالي حکومت د انسان له قاچاق سره د مبارزې د عالي کمېسیون په جوړولو له دغې پدیدې سره مبارزه کړې. د انسان د قاچاق او د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې د قانون تعدیل او اصلاح؛ د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق له نړیوالو دوو پروتوکلونو سره یوځای کېدل؛ د قاچاق وړلو شبکو د ۶۱۱ تنو پېژندل؛ د ۱۴۷۲ قاچاق وړونکو نیول؛ عدلي او قضایي مراجعو ته د انسان د قاچاق د ۳۲۰ قضیو سپارل او د انسان پر قاچاق د ۴۰۵ تورنو کسانو محاکمه او د قاچاق ۱۸۸۰۱ قربانیانو څخه ملاتړ، په دې برخه کې د حکومت له لویو لاسته راوړنو څخه دي.

## ذ ـ اطلاعاتو ته د لاسرسي پراختیا

د دولت د کار کړنو په اړه اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسي، د حکومتولۍ په بهیر کې هغوی ته د مشارکت زمینه برابره کړې او روښتیا یې تأمین کړې ده. د حکومت د ارتباطي لیکو له‌لارې اطلاعاتو ته د لاسرسي د لارو چارو برابرولو، د رسنیو آزاد فعالیت او خلکو ته د کره اطلاعاتو په لېږد کې د هغوی مشارکت ته لا ډېره زمینه برابره کې ده. د حکومت اغېزناک اقدامات د بیان د آزادۍ او رسنیو په برخه کې د افغانستان په اړه د نړیوال لیدلوري د مثبت بدلون لامل شوي دي. په ۲۰۱۷ کال کې د یونسکو[1] د ډلبندۍ پر اساس د بیان آزادۍ کې یوه درجه لوړېدل او له سرې ساحې څخه وتل او په زرغونه ساحه کې شاملېدل، د بې پولې (RSF) خبریالانو د مطبوعاتو آزادۍ د شاخص په جدول کې د ملي یووالي حکومت په دوره کې د افغانستان څلور پلې پورته تلل او په ۲۰۱۸ کال کې د ۱۸۰ هېوادونو ترمنځ ۱۱۸ ځای ته پورته کېدل.[2] په ۲۰۱٦ کال کې د سوېلي او مرکزي آسیا د ۱۳ هېوادونو ترمنځ د مطبوعاتو آزادۍ په شاخص کې د څلورم ځای خپلول او په ۱۳۹۵ کال کې د بې پولې خبریالانو د سازمان له خوا رسنیو ته د تر ټولو غوره ځواب ویونکي هېواد په توګه د افغانستان معرفي کول هغه مثبت قضاوتونه دي، چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادۍ د ښه‌والي ښودونه کوي.

**د نړۍ په کچه اطلاعاتو ته د لاسرسي په قانون کې د افغانستان لومړی مقام خپلول:** د حکومت په لومړیو ورځو کې د جمهور رئیس له‌خوا «اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون» په توشېح او د دغه قانون په نافذولو سره، اطلاعاتو ته لاسرسی پراخ شوی دی. په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون له نوي کولو وروسته د ۱۳۹۷ کال د وري په ۱۱ مه په رسمي جریده کې خپور شو. دغه قانون په ۲۰۱۸ کال کې د دغه ډول قوانینو په ډلبندۍ کې، چې په کاناډا کې د حقوقو او ډموکراسۍ د مرکز[3] له‌خوا وړاندې شو، د ۱۳۹ امتیازونو په ترلاسه کولو سره د جدول په سر کې راغلی دی.[4]

**اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسیون جوړول:** اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون د پلي کولو او اطلاعاتو ته د غوښتونکو د عملي لاسرسي په موخه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څار کمېسیون[5] جوړ او په کار یې پیل وکړ. دغه کمېسیون «په عمل کې اطلاعاتو ته د لاسرسي تحقق» په نامه اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي

---

۱ د ملګرو ملتونو علمي، فرهنګي او ښوونیز سازمان (UNESCO)
۲ https://rsf.org
۳ Centre for Law and Democracy
۴ https://www.rti-rating.org
۵ OCAI

ستراتيژي جوړه کړه، چې د ۱۳۹۶ د زمري په مياشت کې د اجراييه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله په حضور کې خپره شوه. حکومت د دغې ستراتيژۍ (۱۳۹۶ ـ ۱۳۹۹) له عملي کېدو ملاتړ اعلان کړی دی. اطلاعاتو ته د لاسرسي ملي ستراتيژي پر «عدالت غوښتنې»، «پوهاوي وركولو» او «ظرفيت لوړولو» د درې گونو ستراتيژيکو مواردو په توگه ټينگار کړی دی.

**د حکومت د وياندويانو د ځواب ويلو د کچې لوړوالی:** رسنيو ته د حکومت د وياندويانو د ځواب ويلو د ډېروالي په موخه، بېلابېلې کړنلارې په پام کې نيول شوې دي. د لومړي ځل لپاره د جمهوري رياست د عالي مقام دفتر د ستراتيژيکو او رسنيو د اړيکو معاونيت، د حکومت «د ستراتيژيکو اړيکو لارښود» جوړ او اجرايي کړی دی. په دغه لارښود کې د وزارتونو او ادارو ارتباطي پروسې او لارې چارې تعريف شوې او د حکومتي اړيکو د فعاليتونو د پر مخ وړلو لپاره کارېدونکي عوامل تشريح شوي دي. له بل پلوه، د ۱۳۹۸ کال لپاره د حکومت د اطلاع رسونې پلان جوړ او د پلي کېدو په حال کې دی. همدارنگه د ادارو د اطلاع رسولو او خپرولو لارې چارې پياوړې او پراخې شوې دي. په ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ کلونو کې د ولايتي وياندويانو ملي کنفرانسونه جوړ شوی او د مرکز او ولايتونو له رسنيو او خبريالانو سره د دولت د مشرۍ او د ادارو د اطلاع رسولو له مسوولينو سره بېلابېلې ناستې جوړې شوې دي.

**د ټوليزو رسنيو د قانون تعديل او د رسنيو د کمېسيونونو جوړول:** د ټوليزو رسنيو قانون، د دغو رسنيو د کميسيون په اړوندو موادو کې له بدلون او د رسنيزو شکايتونو او سرغړونو د څېړنې کميسيون جوړولو په اړه د موادو له زياتولو وروسته، توشېح او د ۱۳۹۳ کال د کب مياشتې په ۲۰مه په رسمي جريده کې خپور شو. د ټوليزو رسنيو کمېسيون چې خپلواک چلند کوي او د بيان د آزادۍ او د خبريالانو له حقونو د ملاتړ دنده لري د ۱۳۹۴ د مرغومي په ۲۴ مه د موجوديت اعلان وکړ. همدارنگه د رسنيو د شکايتونو او سرغړونو د څېړلو کمېسيون د ۱۳۹۴ د مرغومي په ٦مه په کار پيل وکړ.

## ر ـ د بيان له آزادۍ او خبريالانو غوڅ ملاتړ

د بيان د آزادۍ او د رسنيو له ازاد فعاليت څخه د لا ډېر ملاتړ په موخه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د څارنې کمېسيون د جوړولو ترڅنگ، د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي کمېسيون، د خبريالانو په گټه د قوانينو، مقرراتو او پاليسيو د تدوين کمېسيون هم جوړ شوی دی. جمهور رئيس هم د جلا حکمونو

په صادرولو سره د رسنیو او خبریالانو ملاتړ کړی دی.

**د خبریالانو د حقونو لپاره د اجرایي ضمانت جوړول:** د ټولیزو خصوصي رسنیو د تأسیس او فعالیت د ډول مقرره، د دې ترڅنګ چې د فعالیت آزادۍ، د رسنۍ او ارګان د جوړولو شرایطو، د رسنۍ سرغړونې، مالیې ورکولو او د فعالیت پر جواز رڼا اچوي، د رسنۍ د کارکوونکو حقوق او مکلفیتونه یې د کاري امنیت او خوندیتوب له نظره خوندي کړي دي. د دغې مقررې پر اساس، له خبریالانو سره د رسنیو د څښتنانو د ناوړه چلند مخنیوی کېږي او د مړینې په صورت کې له ډېرو مادي حقونو، د کلنۍ تنخوا له لوړېدو او د تقاعدۍ له امتیاز څخه برخمن کېږي. په دغه مقرره کې د ټولیزو رسنیو حق الامتیاز او بانکي تضمین هم په ځینو مواردو کې تر۹۰ سلنې راټیټ شوی دی.

**د جریمې عفوه او مالیاتي معافیت:** جمهور رئیس غني د ۱۳۹۶ په وروستیو کې د چاپي او غږیزو رسنیو، نشراتي موسسو او خبري اژانسونو د مالیاتي جریمو د عفوې حکم صادر کړ. همدارنګه په ۱۳۹۷ کال کې یې محلي راډیوګانې له مالیاتو څخه معاف اعلان کړې.

**د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ټولو قضیو ته رسېدنه:** د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیو ته د رسېدنې په موخه، د حکومت او رسنیو ګډې کمېټې د ۱۳۹۵ کال د تلې په میاشت کې د جمهوري ریاست د دویم مرستیال په مشرۍ د لومړۍ ناستې په جوړولو سره په کار پیل وکړ. دغه کمېټه د خبریالانو په امنیت پورې پر تړلو قضیو (۱۰۷۵ موارد د تېرو کلونو او ۱۷۲ قضیې له ۱۳۹۴ کال وروسته) کار کوي او د قانون د پلي کوونکو ادارو په توظیف کولو سره یې هغو ټولو ته رسېدنه کړې ده.[1]

**له خبریالانو د ملاتړ صندوق جوړول:** خبریالانو ته د لا ډېرې پاملرنې او د هغوی ستونزو ته د رسېدو په موخه، د خبریالانو د ملاتړ صندوق پرانیستل شو. جمهور رئیس له دغه صندوق د ملاتړ لپاره له خپلو شخصي پیسو ۵ میلیونه افغانۍ ورکړې او مالیې وزارت ته یې لارښوونه وکړه چې ۱۰ میلیونه افغانۍ د دولت له بودیجې ورکړي. د شهید شوو خبریالانو د کورنیو مالي ستونزو ته رسېدنه او د ټپي شوو خبریالانو درملنه د دغه صندوق کاري لومړیتوب دی.

**د بیان د آزادۍ په برخه کې فعالانو ته د مډال ورکول:** د بیان د آزادۍ په برخه کې فعالانو ته د مډال او ستاینلیکونو ورکول، د خبریالانو د هڅونې او ملاتړ په

---

۱ د رسنیو او حکومت د ګډې کمېټې په غونډه کې د لویې څارنوالۍ اداري راپور، چنګاښ ۱۳۹۷

برخه کې له لویو ګامونو څخه دي چې په درېیو دورو کې ترسره شول.

## ز ـ د برېښنايي حکومتولۍ پراخول

د برېښنايي حکومتولۍ لپاره د ظرفیتونو له کموالي او د زېربناوو له نا مناسبوالي سره سره، د قانون د حاکمیت، اصلاحاتو، روڼتیا او هېوادوالو ته د خدماتو د لوړولو د غوره تحقق په موخه حکومت هڅه وکړه برېښنايي حکومتوالي پراخه کړي. په تېرو څلورو کلونو کې د عامه خدماتو، خصوصي سکتور، حکومتولۍ او د حکومت د بشري سرچینو په برخو کې د برېښنايي حکومتولۍ لاسته راوړنې د پام وړ دي.

**د برېښنايي حکومتولۍ د قانوني زمینو برابرول:** د برېښنايي حکومتولۍ د ترویج لپاره اساس، د هغو قانوني او حقوقي چوکاټ دی. د لاس‌لیک او برېښنايي معاملاتو قوانین؛ د سایبري امنیت ـ خصوصي حریم او سایبري جرمونو ملي ستراتیژي تدوین، انټرنېټي خوندیتوب او په انټرنېټ کې د ماشومانو د خوندیتوب پالیسۍ جوړې شوې دي.

**د برېښنايي حکومتولۍ د مرکز پرانیستل:** د برېښنايي حکومتولۍ لومړی مرکز د ۱۳۹۷ کال د سلواغې په ۳۰ مه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په وزارت کې پرانیستل شو. په دغه مرکز کې مسلکي او تخنیکي کارکوونکي او د دغه وزارت د څېړنې برخې کارکوونکي تر یوه چتر لاندې د څېړنو، د سیستمونو او د برېښنايي حکومتولۍ د پروګرامونو د جوړولو، د برېښنايي حکومتولۍ د ترویج لپاره د دولت د کارکوونکو د ظرفیت جوړولو، د سافټ ویرونو د جوړولو او د عامه خدماتو د پروسو د ساده کولو لپاره فعالیت کوي.

**له آسان خدمت څخه ګټه اخیستنه:** اسان خدمت[1] چې د عامه خدماتو د وړاندې کولو لپاره یو واحد مرکز دی، د آذربایجان هېواد په تخنیکي همکارۍ جوړ شوی دی. دغه نوښت، د دولتي بنسټونو عامه خدمات او په خصوصي سکتور پورې اړوند خدمات په مرکزي موقعیت کې تر یوه چتر لاندې په ساده او چټک ډول هېوادوالو ته وړاندې کوي. د اسان خدمت پلې کول په ۵ پړاوونو کې طرحه شوي دي. د دغه مرکز په جوړو شوو خدماتو کې اسان پاسپورت، د وېزې تمدید، آسان جواز، د موبایل له‌لارې د تنخوا ورکړه، برېښنايي پېژندپاڼه او اسان وظیفه دي. د اسان خدمت د اداري لومړی خدماتي مرکز د ۱۳۹۷ کال د مرغومي په ۱۲ مه په کابل کې پرانیستل شو او تر اوسه د دولتي ادارو د عامه خدماتو له ۴۸ ډېرې پروسې د اسان خدمت له‌خوا څېړل شوې او ارزول شوې دي او کتلاک یې

---

۱ One-Stop Shop

په دریيو ژبو تشریح شوی دی.[1]

**د سیستمونو بریښنایي کول:** د غیرنظامي هوایي نړیوال سازمان (ICAO) له معیار سره سم ماشین لوستونکو ته په لاس د لیکل شوو پاسپورتونو بدلول؛ د هېواد په ټولو گمرکونو کې د یو شان تعرفې د پلي کولو او کنترول په موخه د TARIFF کنترولي سیستم؛ په گمرکونو کې د محصول د تحویلۍ د بهیر د آسانتیا په موخه بریښنایي ورکړه (e-pay)؛ په مالیه وزارت کې د سوداگرو لپاره بریښنایي ورکړه؛ د پروژو د تدارکاتي پړاوونو د طی کولو انلاین خارنه؛ په مرکزي بانک کې د بهرنیو پیسو لیلام؛ په مرکز او دویمو څانگو کې بهرنیو کاریگرو ته د کار د جواز توزیع؛ د مدیریت لپاره د مالي اطلاعاتو مدیریت او د هېواد د استخراجي صنایعو د عوایدو راټولول؛ د کډوالۍ د چارو د مدیریت لپاره د کډوالو معلومات؛ په عدلیه وزارت کې د قضیو د ثبت مدیریت او بریښنایي پېژندپاڼه د بریښنایي سیستمونو له لویو مواردو څخه دي چې جوړ شوي او گټه ترې اخیستل کېږي.

[1] asan.gov.af

خومره لاره مو وهلې؟

۱ بهرنۍ سیاست

۲ اقتصادي انکشاف

۳ سوله

۴ امنیت

۵ د قانون حاکمیت، اصلاحات او روڼتیا


# ۶ ټولنیز انکشاف

*متوازن ټولنيز انکشاف، د ټولنيز عدالت ټينګښت، امنيت او اقتصادي تحرک د افغانستان د خلکو لويې غوښتنې دي. که څه هم د هېواد اوسني وضعيت ته په پام، د امنيت او اقتصاد مسايلو ته پام ډېر دی او د ملي بوديجې ډېره سلنه هم همدې دوو برخو ته ځانګړې شوې، خو د ټولنيز انکشاف په برخه کې پرمختګونه او لاسته‌راوړنې د دې ښکارندويي کوي چې حکومت توانېدلی د سرچينو په ښه مديريت او له شته امکاناتو په ښې ګټې اخيستنې سره، د ټولنيز انکشاف او هوساينې زمينه برابره او له عادلانه ویش څخه يې ډاډ ترلاسه کړي. په تېرو څلورو کلونو کې د ټولنې زيانمنو اقشارو ته پاملرنه او په پراختيايي پروګرامونو کې انډول، په دې برخه کې د حکومت د فعاليتونو محوريت و. لومړنيو او روغتيايي خدماتو ته لاسرسی ډېر شوی، د پوهنې د نظام ستنې په رغېدو دي او د کډوالو او بې‌ځايه‌شوو چارو ته غوره رسېدنه شوې ده.*

د روغتيايي خدماتو ښه‌والی | د هېواد د ورزشي نظام تقويت

د ښوونې ښه‌والی | کلتوري وده | د کډوالۍ اغېزناک مديريت

د انکشافي پروګرامونو متوازن تنظيم | د زيانمنې د کچې ټيټول

د پروګرامونو له لارې په کارموندنه تمرکز

د استوګنې او ښاري خدماتو پروګرام جوړول

د ښځو د وضعيت ښه‌والی | ژواک چاپېريالي (محيط زيستي) ښه‌والی

احمدضيا محمدي

## الف ـ د روغتيايي خدماتو ښه‌والی

د روغتيايي خدماتو په وړاندې کولو کې د عدالت پر ټينګښت په تمرکز، له اداري فساد سره پر جدي مبارزې، د عامه او خصوصي مشارکت په پياوړي کولو، کليو ته د روغتيايي خدماتو په پراخولو، په لرې پرتو سيمو کې د روغتيايي مرکزونو په ډېرولو او د خدماتو د کيفيت په ښه‌والي، د روغتيا د ملي پالیسی (۲۰۱۵ ـ ۲۰۲۰) او د روغتيا د ملي ستراتيژی (۲۰۱۶ ـ ۲۰۲۰) د دوو سندونو په جوړولو او د اساسي روغتيايي خدماتو[۱] او د روغتونونو د روغتيايي خدماتو د بستې[۲] پر اغېزناک پلي کولو سره د روغتيا په سکتور کې پام‌وړ لاسته‌راوړنې راغلي دي. دغه لاسته راوړنې لامل شوې، چې د هېواد د عامې روغتيا وزير د نړۍ د حکومتي مشرانو[۳] په ناسته کې د نړۍ د غوره وزير جايزه وګټله.

**روغتيايي مرکزونو ته د لاسرسي ډېروالی:** اوسمهال د روغتيايي مرکزونو او ګرځنده روغتيايي ټيمونو په شمول د روغتيايي خدماتو د وړاندې کولو ۳۸۷٦ مرکزونه فعال دي. په داسې حال کې چې په ۱۳۸۲ کال کې په هېواد کې شاوخوا ۷۰۰ روغتيايي مرکزونه فعال وو. له ۱۳۹۴ تر ۱۳۹٦ کال پورې روغتيايي مرکزونو ته د مراجعينو شمېر ۱۰ سلنه، تر يو کلنۍ د ټيټو هغو ماشومانو کچه چې پنځه‌ګوني واکسين يې کړي وي ۳ سلنه، د نسايي ولادي متخصصينو تر پالنې لاندې زيږونه ۹ سلنه او په روغتونونو کې جراحي عمليات ۷ سلنه ډېر شوي دي.

**دوولسم شکل:**

*تر يو کلنۍ د ټيټو هغو ماشومانو شمېر چې پنځه‌ګوني واکسين ورته شوي وي (۱۳۹۴ ـ ۱۳۹٦)*




۱ BPHS
۲ EPHS
۳ World Government Summit (2019)

***دیارلسم شکل:***

*د عامې روغتیا وزارت د عادي تشکیل په ګډون د روغتیایي پرسونل شمېر (۱۳۹۳ ـ ۱۳۹۷)*




| | داکتر | نرس | قابله |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹۳ | ۳۷۸ | ۱۱۶۶ | ۳۸۹ |
| ۱۳۹۴ | ۵۹۲ | ۱۳۲۶ | ۴۵۶ |
| ۱۳۹۵ | ۹۲۲ | ۱۴۸۹ | ۴۹۴ |
| ۱۳۹۶ | ۱۲۱۷ | ۱۵۸۳ | ۵۴۰ |
| ۱۳۹۷ | ۱۵۵۱ | ۱۶۹۸ | ۵۸۰ |

**د روغتیایي او درملیزو خدماتو د کیفیت لوړول:** د طبي شورا په جوړولو سره، د ثانوي او ثالثي روغتیایي خدماتو د ښه‌والي په موخه د فیس اخیستل، د دیموګرافۍ او روغتیا ترځنګ د ۷ نورو سروې‌ګانو په خپرولو سره ارقامو ته د لاسرسي ډېروالی، د ٦٧١ خصوصي روغتیایي مرکزونو دوامداره څارنه چې په دې توګه د روغتیایي خدماتو د رسولو د کچې له کیفي لوړوالي ډاډ ترلاسه شوی دی. د درملو او روغتیایي محصولاتو د تنظیم د ملي اداري په جوړولو سره، تولیدي او وارداتي درمل کنټرولیږي. د درملو تولید په هېواد کې ۵۰ سلنه وده کړې، اوسمهال افغانستان د انتي اسید شربتونو (د معدې درمل) په تولید کې پر ځان بسیا دی او په نږدې راتلونکي کې به د ۹ ډوله نورو درملو په تولید سره ځان بسیا کړي.

**د میندو او ماشومانو د مړینې کچې ټیټوالی:** له ۱۳۸۲ کال راهیسې، د میندو د مړینې کچه ۸٦ سلنه او د ماشومانو د مړینې کچه ۸۰ سلنه راټیټه شوې او له زیږون وړاندې پالنې ۴۷,۸ سلنه ډېرې شوې دي. د امېندوارۍ، میندو، نوو زیږېدلو، ماشومانو او تنکیو ځوانانو د (۱۳۹٦ ـ ۱۴۰۰) ملي ستراتیژۍ په پلي کولو او د ۹۰۰ روزل شوو قابلو په ګمارلو سره، روغتیايي آسانتیاوې چې لږ تر لږه یوه قابله ولري له ۹۱ سلنې په ۱۳۹۴ کال کې په ۱۳۹٦ کال کې ۹۵ سلنې ته ورسیدې. د دې ترڅنګ هغه زېږونه چې د نسایي ولادي متخصصینو تر همکاریو او پالنو لاندې کېږي په ۱۳۹۴ کال کې له ۷٦٦ زره موردونو څخه په ۱۳۹٦ کال کې ۹۲۳ زرو ته لوړ شوي چې ۹ سلنه لوړوالی ښیي.

**خوارلسم شکل:**

*په هرو سلو زرو ژیږونونو کې د میندو د مړینې تیتوالی (۲۰۰۰ ـ ۲۰۱۸)*




**پنځلسم شکل:**

*د میندو د روغتیا د شاخصونو په سلنه لوړوالی (۲۰۰۳ ـ ۲۰۱۸)*




| | ۲۰۰۳ | ۲۰۱۰–۱۱ | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۵ | ۲۰۱۸ |
|---|---|---|---|---|---|
| د ماهرو کارکوونکو په حضور کې ولادتونه | ۱۱,۰٪ | ۳۸,۶٪ | ۴۷,۷٪ | ۵۸,۱٪ | ۵۸,۸٪ |
| له زیږون وړاندې پالنه | ۱۶,۰٪ | ۴۷,۹٪ | ۵۴,۰٪ | ۶۱,۲٪ | ۶۳,۸٪ |

**د وقايې او واکسيناسيون د کچې لوړوالی:** له ۱۳۸۲ کال راهيسې د واکسين خدمات ۲۰ سلنه ښه شوي دي. هر کال تر ۵ کلنۍ ټيټو ۱۰ ميليونو ماشومانو ته د پوليو واکسين ورکول کېږي. د پوليو زرقي واکسين (IPV) او د ويروسي اسهالاتو (Rota) د وقايې واکسين د کتلوي معافيت په روټين پروګرام کې اضافه شوي دي. د توبرکلوز، ملاريا، لشمانيا، ايډز، زيړي او اېس ټي آی[1] ناروغيو د کنټرول ملي پروګرامونه هم له پاموړ لاسته راوړنو سره د پلي کېدو په حال کې دي، چې کولای شو د توبرکلوز د ۹۰ سلنې ډېرو پېښو (۲۰۸ زره پېښې) درملنې، په زيانمنو ولايتونو کې په ۱۳۹٦ کال کې صفر ته د پلازموديم فالسيپارم ډوله ملاريا د نږدې کېدو او د روغتيا د نړيوال سازمان[2] لهخوا د مديترانې په ختيځه حوزه کې د ملاريا

۱ Sexually Transmitted Infection (STI)
۲ World Health Organization (WHO)

د کنترول او له‌منځه وړلو د پروګرامونو په اغېزناک پلي کولو کې د لومړي مقام ترلاسه کولو ته اشاره وکړو.

***شپاړسم شکل:***
*د توبرکلوز د تشخیص شوو پېښو شمېر (۲۰۱۴ ـ ۲۰۱۸)*




***اوولسم شکل:***
*د توبرکلوز د تشخیصي خدماتو د روغتیایي مرکزونو شمېر (۲۰۱۴ ـ ۲۰۱۸)*




**له خوارځواکۍ سره مبارزه او د خوراکي خوندیتوب ډېرول:** مزمنه خوارځواکي له ۱۳۸۲ کال راهیسې ۲۴ سلنه کمه شوې او له ٦۰ سلنې څخه ۳٦ سلنې ته را ټیټه شوې ده. تر پنځه کلنۍ د ټیټو هغو ماشومان سلنه چې وزن یې کم وي په ۱۳۹۲ کال کې له ۲۵ سلنې څخه په ۱۳۹۴ کال کې ۱۹,۹ سلنې ته را ټیټه شوې ده. د دغه شمېر د ښه‌والي په موخه، په خوارځواکۍ برخه کې ۱۰ زره روغتیایي کارکوونکي روزل شوي دي. ۱,۱ میلیونه میندو ته د ماشوم د تغذیې په اړه مشورې ورکړل شوې او پر ۲۲۷ زره میندو د خوراکي توکو بستې وېشل شوې

دي. د خوارځواکۍ د درملنې مرکزونه له ۷۰۰ څخه ۱۱۰۰ ته ډېر شوي چې له امله يې مراجعينو ته ځواب ويل په ۱۳۹۳ کال کې له ۱۲۲ زره کسانو څخه په ۱۳۹٦ کال کې ۲۵۵ زرو کسانو ته لوړ شوي دي.

**د ښځباک صحي اوبو او حفظالصحې ته د لاسرسي ډېروالی:** په ښاري او نيمه ښاري سيمو کې په تېرو ۴ کلونو کې د ۲۳۰۰ کيلومېتره شبکې د جوړولو لپاره د اوبو رسولو ۱۹ پروژې عملي شوې دي او ۱،۱۱ ميليونه کسان ترې برخمن شوي دي، چې د ښځباک اوبو ته د خلکو د لاسرسي ۹۴ سلنه ښيي. د ښځباک اوبو ته د کليوالي خلکو د لاسرسي کچه په ۱۳۹۷ کال کې ٦۳ سلنه لوړه شوې ده چې ټاکل شوې تر ۱۳۹۹ کال پورې سل سلنه شي. د حفظالصحې په برخه کې هم ۲۰٦ زره تشنابونه جوړ او بيا رغول شوي دي. په ټول کې په کليوالي سيمو کې ۱,۴۴ ميليونه کسانو د حفظالصحې له پروژو ګټه اخيستې.

**د روږدو کسانو د درملنې د ظرفيت لوړوالی:** اوسمهال په ۳۲ ولايتونو کې پر نشه‌يي توکو د روږدو ناروغانو لپاره روغتيايي خدمات شته او په دغو ولايتونو کې د روږدو کسانو د درملنې ۱۰۵ مرکزونه فعال دي، چې په کلني ډول د ۴۰,۵ زره ناروغانو د درملنې وړتيا لري.  له ۱۳۹۳ کال راهيسې، پر نشه‌يي توکو ۱۱۴ زره روږدي کسان د دغو مرکزونو له روغتيايي خدماتو برخمن شوي دي.

*اتلسم شکل:*

*د تداوي شوو روږدو شمېر (۱۳۹۳ـ ۱۳۹۷)*




**د رواني صحت د خدمتونو زياتول:** اوسمهال په ټولو روغتيايي مرکزونو کې د رواني مشورې په برخه کې لږ تر لږه یو کس روزل شوی دی او پر دې سربېره په روغتيايي مرکزونو کې د رواني مشاورې ۷۵۰ کسان ګومارل شوي دي.

## ب ـ د هېواد د ورزشي نظام تقویت

د بدني روزنې او ورزش قانون جوړول او نافذول، د امکاناتو برابرول، د هېواد په ورزشي بنسټونو کې کاري انسجام، د ورزشي زېربناوو جوړول او د ورزشکارانو په ځانګړې توګه معلولینو او ښځو ملاتړ، په وروستیو کلونو کې د ورزش په برخه کې د حکومت له مهمو کړنو څخه دي. په شاوخوا ټولو ولایتونو کې ورزشي ځایونه لکه سټېډیوم، جیمنازیوم او سرخلاصي ورزشي میدانونه جوړ شوي او د بېلابېلو ورزشي برخو ۸۰ تنه روزونکو لومړۍ، دویمه او درېیمه درجه سندونه ترلاسه کړي دي.

**د ورزش نظام‌مند کول:** د ملي او نړیوالو قوانینو په پام کې نیولو سره د بدني روزنې او ورزش قانون جوړ او نافذ شوی دی. همدارنګه د ورزشي بنسټونو، روزونکو، داورانو، ورزشکارانو، ورزشي ځایونو او تاسیساتو پر فعالیت د څرنګوالي د لا روښانتیا لپاره شپږ طرزالعمله چمتو شوي دي. د ورزش په مدیریتي کچه کې اصلاحات راغلي او د ورزشي او المپیکي فدراسیونونو ټاکنې د کورنیو او بهرنیو څارونکو تر څار لاندې شوې دي. د کلپونو، ټیمونو، روزونکو او ورزشکارانو د فعالیت لپاره د جوازونو ثبت او وېش هم پیل شوی دی.

**د ورزش وده او ترویج:** په تېرو څلورو کلونو کې په ۵۱ ورزشي برخو کې ۱۱۷۰۰ لوبې او ټورنمېنټونه جوړ شوي دي. د ۲۲۵۰۰ ډېرو ورزشکارانو له ډلې څخه چې په دغو لوبو کې یې ګډون کړی، ۵ زره کسان د ملي ټیمونو د غړیتوب لپاره ټاکل شوي دي چې ۲۰ سلنه یې ښځې دي.

**د ورزشي زېربناوو جوړول:** له زر جریبه ډېره دولتي ځمکه د بېلابېلو ورزشي تاسیساتو د جوړولو لپاره په پام کې نیول شوې ده. ۱۸ زره کسیز څلور سټېډیمونه ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د څو نورو ورزشي برخو لپاره هم څو نور سټېډیمونه د جوړېدو په حال کې دي.

**د فوټبال وده:** د فوټبال فدراسیون په ۳۰ ولایتونو کې فعالیت لري او دغه فدراسیون توانېدلی چې په ۱۴ سنې کچو کې د فوټبال منظم لیګونه جوړ کړي. د ښځو ملي ټیمونه په ۳ سنې کچو او فوټسال هم په ۳ سنې کچو کې جوړ شوي دي. د سوېلي آسیا په لوبو کې د فوټبال د ملي ټیم اتلولي او د نړیوال جام مقدماتي لوبو ته د لومړي ځل لپاره لار موندل د هېواد د فوټبال لاسته راوړنې دي.

**د کرکټ وده:** له ۱۰۰ د ډېرو کورنیو او بهرنیو لوبغاړو په ګډون په ۱۳۹۷ کال کې په هېواد کې د ننه شل اوره غوره لیګ جوړ شو. په ۱۳۹۷ کال کې په خوست، بامیانو، فاریاب او هرات ولایتونو کې «کرکټ د ټولو لپاره» پروګرام جوړ شو. افغانستان د کرکټ په نړیواله شورا[1] کې د بشپړ غړیتوب په لرلو سره په نړیوالو «یو ورځنیو» او «شل اوریزو» سیالیو کې د لوبېدو اجازه لري او هر کال د دغه ورزش د پیاوړي کولو لپاره له دغې شورا څخه ۵۰ میلیونه ډالر ترلاسه کوي.

***نوولسم شکل:***

*په وروستیو ۵ کلونو کې په شل اوریزو او یو ورځنیو لوبو کې د کرکټ د ملي لوبډلې د بریا سلنه*




**د ورزشکارانو هڅونه او ملاتړ:** د ورزشي مدیریت په برخه کې د زده‌کړو په موخه ۱۸۲ تنه ترکیې ته لېږل شوي دي. همدارنګه د ترکیې د کاستامونو[2] له پوهنتون سره د هوکړه‌لیک پر اساس، ۸۲ تنه نور ځوانان د ورزشي مدیریت په برخه کې پر زده‌کړو بوخت دي. جمهور رئیس محمد اشرف غني هم د ورزشکارانو د ملاتړ په موخه په څو لیدنو کې هغوی ته ۲۰ دولتي عالي مډالونه، ۹۴ افتخاري ستاینلیکونه او له ۳ میلیونو افغانیو ډېرې نغدي مرستې کړې دي.

**د ښځو ترمنځ د ورزش دود کول:** د ښځو په برخه کې د المپیک د ملي کمېټې د معاونیت جوړول او د بدني روزنې د ریاست په جوړښت کې د ښځو د ورزش د پراختیا ریاست جوړول د ښځو ترمنځ د ورزش د ترویج په برخه کې په مدیریتي کچه د اقداماتو له ډلې دي. اوسمهال په ۹ ولایتونو کې د ښځو د فوټبال د فدراسیون کمېټې، د ښځو د فوټبال لیګ او منتخب ټیمونه جوړ شوي دي.

---

۱ International Cricket Council
۲ Kastamonu University

## پ ـ د ښوونې ښه‌والی

ملي یووالي حکومت زده‌کړو ته ځانګړې پام کوي؛ لکه څرنګه چې جمهور رئیس محمد اشرف غني ۱۳۹۷ کال د «پوهنې ملي حشر» په نوم و نوماوه. دا کار د دې لامل شو چې د دغه ملي حشر په ستایلو سره، د ښوونځیو د جوړولو لپاره ۴۲۹ جریبه ځمکې مرسته وشوه او د پوهنې د پراخوالي لپاره د خلکو ۲۳۳,٦ میلیونه افغانۍ مرستې راټولې شوې دي.

**د ښوونې او روزنې مرکزونو ته د لاسرسي د کچې لوړوالی:** اوسمهال په ټول هېواد کې ۹،۳ میلیونه کسان په ۱٦۱۰۰ ښوونیزو مرکزونو او ښوونځیو کې پر زده‌کړو بوخت دي چې نږدې ۴۰ سلنه یې نجونې دي. په وروستیو څلورو کلونو کې ۱٦۲۸ ښوونیز مرکزونه او نوي ښوونځي جوړ شوي او د ولسي تړون د ملي پروګرام له‌خوا د ۲،۱٦ میلیونه زده‌کوونکو لپاره په ۳۴ ولایتونو کې د ٦ زره ښوونځیو د جوړېدو کار پیل شوی دی.

**د ښوونیز نصاب اصلاح کول:** له ملي او نړیوالو میتودونو او تجربو څخه په ګټې اخیستنې، د ښوونیز نصاب چوکاټ جوړ او د ښوونځیو او دیني مدرسو لپاره نوی ښوونیز نصاب چمتو شوی دی. همدارنګه د قابلیت محوره ښوونیز نصاب د چوکاټ سند هم بشپړ شوی دی. ښوونې او روزنې ته د عادلانه لاسرسي په برخه کې د نړیوال مشارکت پروګرام[1] په بادغیس، دایکندي، فراه، غور، هلمند، کندهار، خوست، نیمروز، نورستان، پکتیا، پکتیکا، اروزګان او زابل ولایتونو کې ۴۰ ولسوالۍ تر خپل پوښښ لاندې راوستې دي.

**د سواد کچې وده:** په تېرو ۴ کلونو کې د سودا زده‌کړې شاوخوا ۷۰ زره کورسونه جوړ شوي دي چې ۱،۴ میلیونه کسانو ترې ګټه اخیستې ده. له دغو کورسونو څخه ۸۷٦ زره زده‌کوونکي چې ۵۰۸ زره یې ښځې دي فارغ شوي. اوسمهال له ۱۵ کلنۍ پورته کسانو د سواد کچه له ۳۹ سلنې ډېره ده.

**د اسلامي زده‌کړو د ظرفیت ډېروالی:** په ۱۳۹۴ کال کې د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو شمېر ۹۰٦ و، چې دغه شمېره په ۱۳۹۷ کال کې ۱۱۰۷ مرکزونو ته لوړه شوه او ۱۲۲۰۸ زده‌کوونکو ته اعاشوي امکانات هم برابر شوي دي. د اسلامي زده‌کړو د ټولو زده‌کوونکو شمېر له ۱۳۹۴ کاله تر اوسه ۳۵,۸ زره تنه لوړ شوی دی چې ۳۲ سلنه یې ښځینه دي. دغه شمېر په ۱۳۹۷ کال کې شاوخوا ۳۴۸ زره تنو

---

[1] Global Partnership for Education (GPE)

ته لوړ شوی دی چې ۲۳ سلنه یې ښځینه دي.

**د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو وده:** د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د څانګو تنوع د ۱۵ رشتو په ډیرېدو له ۱۳۹۴ کال راهیسې، په ۱۳۹۷ کال کې ۷۷ رشتو ته لوړ شوی دی. په داسې حال کې چې اوسمهال په ۲۷۲ ولسوالیو کې د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ښوونځي او انستیتیوتونه شته دي، خو په هره ولسوالۍ کې «د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د یوه ښوونځي» د جوړېدو په موخه لومړني کارونه او «د کار د بازار» سروې روانه ده. له بلې خوا، په وروستیو څلورو کلونو کې د مسلکي رشتو د ٦۲۴۰ ښوونکو لپاره د تربیتي علومو[۱] او اداري د زده‌کړې دورې جوړې شوې او په دغو کلونو کې ۲۸۳،۵ زره محصلین د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو مرکزونو ته جذب شوي دي.

**شلم شکل:**

*د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د پروګرام د څانګو تنوع (۱۳۹۴ـ ۱۳۹۷)*




**یوویشتم شکل:**

*د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د دولتي مرکزونو شمېر (۱۳۹۴ـ ۱۳۹۷)*




۱ Pedagogy

**د کانکور د نظام اصلاح:** د بایومیټریک سیستم جوړول او پلي کول، له ١٦ زرو څخه ٦٥ زرو ته د پوښتنو د بانک د پوښتنو ډېرول، په جلا توګه او بدلو پوښتنو سره د هر کس لپاره د ازموینې د کتابچې چاپ، د ازموینې په پروسه کې د زورواکو له مداخلې مخنیوي د کانکور رونتیا ډېره کړې ده او پر وخت د پایلو اعلان پر دغه ملي پروسه باېللی باور ببرته را وګرځاوه.

**لوړو زده‌کړو ته د لاسرسي د کچې ډېروالی:** په تېرو څلورو کلونو کې، د لوړو او نیمه لوړو زده‌کړو مرکزونو له ٧٥١ زرو څخه ډېر کسان جذب کړي دي. په ١٣٩٧ کال کې د لوړو زده‌کړو دولتي بنسټونو ١٨٦ زره محصلین منلي چې ٤٩ زره (٢٧ سلنه) یې نجونې دي. خصوصي تحصیلي بنسټونو د ١٦٤ زره محصلینو په جذبولو سره په ١٣٩٧ کال کې د محصیلینو ټول شمېر ٣٥٠ زرو تنو رسولی دی.

**دوه ویشتم** شکل:
*د لوړو زده‌کړو په دولتي مرکزونو کې د تحصیلي څانګو ډېروالی (١٣٩٣ـ ١٣٩٧)*




**درویشتم** شکل:
*د لوړو زده‌کړو له دولتي مرکزونو څخه د فارغانو شمېر (١٣٩٣ـ ١٣٩۶)*



**د لوړو زده‌کړو د کیفیت ښه‌والی:** د ټولنې له اړتیاوو او د کار له بازار سره سم د اصلاح په موخه، د تحصیلي نصابونو د پراختیا او بیا کتنې ملي پروګرام پیل شوی دی. د ښوونکو د تخصصي کولو او د مهارتونو د لوړاوي په برخه کې، په ۱۰ پوهنتونونو کې د ښوونکو د مسلکي لوړاوي مرکزونه[۱] جوړ شوي دي. له ۱۳۹۳ کال راهیسې، هغه ښوونکي چې ماسټرۍ لرې ۵۹ سلنه او هغه ښوونکي چې دوکتورا لري ۲۱ سلنه ډېر شوي دي. افغان ایکس لومړی (AfghanX) انلاین ښوونیز سیستم دی چې په انټرنېټ کې له انلاین کورسونو MOOCs[۲] سره د لوړو زده کړو وزارت د بریښنایي زده‌کړې تر پروګرام لاندې فعال شوی دی. همدارنګه په ټولو دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو کې د کیفیت د تضمین او باور ورکولو کمېټې فعالې شوې دي.

***خلیرویشتم شکل:***
*د تحصیلي کچې په تفکیک د لوړو زده‌کړو مرکزونو د ښوونکو شمېر*




**د تحصیلي بورسونو ډېرول او عادلانه وېش:** د تحصیلي بورسونو د عادلانه وېش او روڼتیا په موخه د بورسونو د مدیریت سیستم[۳] جوړ شوی دی. اوسمهال ۳۸۷۵ کسان د لیسانس، ۲۰۵۶ کسان د ماسترۍ او ۳۸۵ کسان د دوکتورا په کچه په بهرنیو هېوادونو کې پر زده‌کړو بوخت دي. د بورسونو په برخه کې د فعالو خصوصي شرکتونو د بسیج پر مېکانېزم کار پیل شوی او په ۱۳۹۸ مالي کال کې د محصلینو لېږل د همدې پالیسۍ پر اساس کېږي.

۱ PDC
۲ Massive Open Online Courses
۳ Scholarship Management System (SMS)

## ت ـ کلتوري وده

د بودیجې له کموالي سره سره فرهنګ او هنر ته حکومت پاملرنه وه. د تاریخي ځایونو د رغولو او د فرهنګي میراثونو د ساتنې او د جوماتونو د جوړولو لپاره پروګرامونه جوړ شوي دي. همدارنګه د تاریخي اسنادو او هنري پاتوړو (میراثونو) د ساتنې په موخه، د جمهوري ریاست ارشیف جوړ شوی دی.

**د تاریخي ځایونو او فرهنګي میراثونو ساتنه او بیارغونه:** د هېواد له ۵ زرو ډېرې لرغونې سیمې د سپوږمکۍ له‌لارې پېژندل شوې او د لرغونو سیمو عمومي نقشه د جوړېدو په حال کې ده. لسګونه لرغوني ځایونه لکه د علي شېر نوایي، احمدشاه بابا او ابوریحان البیروني قبرونه، د غور منار جام او سراج العمارت بیا رغول شوي او د لوګر ولایت د میس عینک په لرغونې سیمه کې د عتیقه توکو د موندلو په موخه د کیندلو ۱۰ پړاوونه اجرا شوي دي. د جمهوري ریاست د عملیاتي واحد او مالي او اداري حمایوي لوی ریاست له‌خوا د امانیه ماڼیو د بیاجوړولو کار د مجربو انجنیرانو تر نظر لاندې روان دی.

**د دیني ځایونو جوړول او رغول:** په تېرو ۴ کلونو کې په ۳۴ ولایتونو کې د جوماتونو جوړولو ۳۳۰ پروژې پلې شوي دي او په ۳۴ ولایتونو کې ۷۱۲ جوماتونه او د حاجیانو کمپونه رغول شوي دي. په ۱۷ ولایتونو کې د جومات جوړولو پر ٦۰ ډېرو پروژو کار روان دی. د هرات د جامع جومات، خرقې شریفې، روضې مبارکې، پل خشتي او عیدګاه جومات ترمیم په دغه برخه کې د فعالیتونو له جملې دي. له خلکو او علماوو سره د جمهور رئیس محمد اشرف غني د ژمنې پر اساس، په ۳۴ ولایتونو کې ۳۴ جامع جوماتونو چې د ۲ زره کسانو د ځایېدو ظرفیت لري کار پیل شوی دی.

**د توریزم وده:** سیاحتي شرکتونو او ۱۱۰ مېلمستونونو او رستورانتونو ته د ۱۳۰۰ جوازونو په ورکړې سره، په هېواد کې ۴۵ زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. همدارنګه پر کورنیو سیلانیانو سربېره، له ۷۵ زره ډېرو بهرنیو سیلانیانو ته خدمات وړاندې شوي دي. د تېرو څلورو کلونو په موده کې له پلان شوي مقدار څخه ۱۰۹ سلنه عواید د توریزم صنعت د ودې ښکارندويي کوي.

**د فرهنګي ویاړونو یادونه:** د هېواد ملي او فرهنګي شخصیتونو ته د احترام په موخه، د دغو شخصیتونو په نوم د ۱۴ مډالونو د جوړولو کار قانوني پړاوونه طی کوي. په تېرو کلونو کې د هېواد د تاریخي، فرهنګي او سیاسي ویاړونو لکه امیر علي شېر نوایي، احمد علي کهزاد، فیض محمد کاتب هزاره، خوشحال خان

خټک، خواجه عبدالله انصاري، ګوهرشاد بېګم او ابوریحان البېروني د نمانځلو په موخه په جمهوري رياست کې ځو سمينارونه او سمپوزيمونه جوړ شوي دي.[1]

**د جمهوري رياست آرشيف:** له نړيوالو معيارونو سره سم د جمهوري رياست د ارګ آرشيف په جوړولو[2] سره شاخوا ۳۰ ميليونه تصويري، غږيز او ليکلي سندونه چې په هغو کې مصوبې، حکمونه، پروتوکولونه، تړونونه، هوکړه‌ليکونه، ملکيتونه، فرمانونه، د دولتي کارکوونکو سوابق، سرحدي نقشې، شاهي کتابونه، مکتوبونه، قوانين او کړنلارې شاملې دي، د منځه تلو له خطر ساتل شوي دي. د جمهوري رياست آرشيف ۳۰ زره تاريخي، مستند او هنري عکسونه ډيجيټل او اېډېټ کړي دي. د دغو اسنادو ډيجيټل شوې بڼه به د انټرنېټ له‌لارې د ټولو د لاسرسي وړ شي.

## ث ـ د کډوالۍ اغېزناک مديريت

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت توانېدلی د اصلاحاتو په پلي کولو او د اغېزناکو ميکانېزمونو په جوړولو سره په تېرو ۴ کلونو کې د ۱,۱۸ ميليارد ډالرو په ارزښت د نړيوالې ټولنې بېلابېل ډوله مرستو د وېش زمينه برابره کړې. حکومت د کډوالو او راستنېدونکو چارو ته د لا ښې رسېدنې لپاره ۴ لوی جوړښتونه رامنځته کړي دي، چې له ډلې يې د کډوالۍ چارو عالي کمېسيون، د وزيرانو شورا فرعي کمېټې، د بېځايه شوو او راستنېدونکو اجرايي کمېټې[3] «د سيمه‌ييزو حللارو ستراتېژۍ» د موخو ترلاسه کولو لپاره ستراتېژيکې کمېټې ته اشاره کولی شو.[4]

**پنځه ويشتم شکل:**

*د راستنو شوو کډوالو شمېر (زر کسه) (۱۳۹۳ ـ ۱۳۹۷)*




۱ ۱۰ شمېره جدول ته رجوع وکړئ
۲ ۲۸ چنګاښ ۱۳۹۷
۳ DIREC
۴ Strategic Committee on Implementing Regional Solution Strategy for Afghan Refugees

**د راستنېدونکو او بېځایه شوو د ژوند او اوسېدو ښه والی:** د بشري خدماتو په بدل کې پر زېربنایي «اساسي خدمتونو» د تمرکز له لارې، همداراز د بېځایه شوو پروسې د پای ته رسېدو او د بېځایه شوو پایداره مېشتېدنه، د بېځایه شوو له پدیدې سره مبارزه د حکومت له مهمو کړنو څخه دي. له کلونو وروسته د بېرته راستنېدونکو د ښارګوټو پراختیایي پروژو کار عملا پیل شوی دی. له بېرته راستنېدونکو سره له ۵۱۳ میلیونه ډالر ډېرې نغدي مرستې شوې دي. همدارنګه ۳۹۱ زره بېځایه شوې کورنۍ ثبت او ۱۵۹ زره کورنیو ته د بېرته ګرځېدو زمینه برابره شوې ده. ۴۱۲ زره بېځایه شوې کورنۍ له بشري مرستو څخه برخمنې شوې دي.

**په ایران کې د کډوالو د حقونو تامینول:** د ایران په ښوونځیو کې په وړیا توګه د سند لرونکو او سند نه لرونکو ۴۶۰ زره افغان ماشومانو شاملېدل او د ۲۸۰ زره کډوالو لپاره د روغتیایي بیمې برابرول او د کډوالۍ د کارت (د اوسېدو کارت) له لغوه کېدو پرته د کډوالو د تګ راتګ د زمینې برابرول، هغه اسانتیاوې دي چې افغان کډوالو په ایران کې ترلاسه کړې دي. همدارنګه د ۱,۴ میلیون کډوالو د اوسېدو کارتونه او د پاسپورتونو اقامې تمدید شوې او سند نه لرونکي کډوال ثبت شوي دي.

**په پاکستان کې د کډوالو د حقونو تامینول:** د کډوالو له راستنېدو سره د سیاسي چلندونو رفع کول، د سند نه لرونکو ۸۶۰ زره کډوالو ثبت او راجستر او ۳۵۰ زره نورو کډوالو ته د پېژندنې د کارت وېشل، د ۱,۴ میلیونه کډوالو د اوسېدو تمدید، په پاکستان کې د کډوالو لپاره له لاسته راوړنو وې.

**په عربي هېوادونو کې کډوالو ته د پاسپورتونو ورکړه:** په عربي هېوادونو کې مېشتو افغانانو ته له ۲۰۰ زره ډېرو پاسپورتونو د وېش هوکړه په دغه برخه کې مهمه لاسته راوړنه ده. همدارنګه دغو هېوادونو ته د کار لپاره د کارېګرو د قانوني استولو په اړه له دغو هېوادونو سره خبرې شوې دي چې له عربي متحده اماراتو سره د هوکړو چوکاټ پای ته رسېدلی او له نورو لکه کویټ او سعودي عربستان سره جریان لري.

**له اروپایي هېوادونو سره د کډوالۍ د ګډ مدیریت رامنځته کول:** د کډوالۍ د نړیوال سېل په جریان کې له اروپایي هېوادونو څخه د افغان پناه غوښتونکو له اجباري وتلو مخنیوی او د هغوی له بشري حقونو دفاع په اروپایي هېوادونو کې له کډوالو د ملاتړ له کار کړنو څخه دي. له اروپایي ټولنې سره د «راتلونکي ګډې

لاړې»[۱] سند، له آلمان او فنلنډ دولتونو سره دوې جلا اعلامیې او د ۱۳۹۵ کال په تله میاشت کې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت لهخوا له سویډین هېواد سره د هوکړې یادښت لاس‌لیک شو. له مقصد هېوادونو سره د کډوالۍ د ګډ مدیریت په رامنځته کېدو سره په ۲۰۱٦ او ۲۰۱۸ کلونو کې له اروپايي هېوادونو څخه د کډوالو اجباري وتل په کال کې ۲۱۸۰ کسانو ته راټیټ شوي دي.

**په ترکیه کې د کډوالو چارو ته رسېدنه:** له ترکیې سره د افغان کډوالو د اجباري وتلو د مخنیوي په برخه کې هوکړې ته رسېدنه او د کاریګرو د استولو لپاره د هوکړه‌لیک د لاس‌لیک لپاره د دوه اړخیزو خبرو چټکول په دې برخه کې د کاري کړنو له ډلې دي. همدارنګه د ترکیې د سرې میاشتې او تیکا آژانس[۲] په همکارۍ له ترکیې څخه د راستنېدونکو لپاره د کار موندلو پروګرام عملا پیل شوی دی.

**له انساني قاچاق سره مبارزه:** حکومت د انسان او کډوالو له قاچاق سره د اغېزناکې مبارزې لپاره د انسان له قاچاق سره د مبارزې کمیسیون جوړ کړ، چې په دغه کمیسیون کې پر کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو او عدلیه وزارتونو سربېره امنیتي او کشفي اداري هم غړیتوب لري. افغانستان د ځمکې، اوبو او هوا له لارې د انسان د قاچاق او کډوالۍ د منعې له پروتوکول سره یو ځای شوی دی چې له انساني قاچاق سره د مبارزې په برخه کې هڅې لامل شوې د امریکا متحدو ایالتونو د انساني قاچاق د کلني راپور[۳] په څلورګونو کټګوریو کې افغانستان په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې په دویم مقام کې راشي.

## ج ـ د انکشافي پروګرامونو متوازن تنظیم

د ټولنیز عدالت او پایدارې ودې پر محور د ټولنیزو انکشافي پروګرامونو متوازن تنظیم، د ملي همپالنې رامنځته کول، د ښار او کلي ترمنځ د واټن کمول او د لرې پرتو سیمو جغرافیایي محاصره ماتول د یادونې وړ برخې دي. د ولسي ترون لومړیتوب لرونکو پروګرامونو، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت پراختیایي پروګرامونو او د دولتي ادارو نورو کړنو په محرومو سیمو کې متوازنه خدمت رسونه کې مهم رول لوبولی دی.

**د طبیعي جغرافیې له زندان څخه د مرکزي افغانستان ایستل:** د ملي یووالي حکومت په دوره کې په مرکزي سیمو کې بېلابېلې زېربنایي پروژې طرحه او عملي

---

۱ Joint Way of Forward
۲ Turkish Cooperation and Coordination Agency (TiKA)
۳ Trafficking in Persons Report (2017 and 2018)

شوې دي، چې له جملې یې له شمال ختيځ سویل ته (یکاولنګ - دره‌صوف)
د سړک د پروژې دویمه برخه، له ختیځ څخه لودیځ ته سړک (د ګردن‌دېوال
سړک)، دوشي- بامیان، نیلي- پنجاب، قره‌باغ - جاغوري، جلریز - سنګلاخ،
اسپیلان - میرمور او د نیلي ښار د ننه سړکونو د کار پیلولو ته اشاره کولی شو.
بریښنا ته د مرکزي سیمو د لاسرسي په موخه د دوشي - بامیانو د ۲۲۰ کیلوولټ
بریښنا د لین تمدید د اجرا په حال کې دی.

**د خدماتو په رسولو کې د توازن ښه والی:** په لرې پرتو سیمو کې په خدماتو
رسولو کې د توازن رامنځته کولو لپاره د سړک جوړولو، بریښنا رسولو، د بریښنا د
کوچنیو بندونو او د روغتون او کلینیک جوړولو پروژې پیل شوې دي. دایکندي او
نورستان د لومړي ځل لپاره له بریښنا برخمن شول، د ګردن‌دېوال سړک جوړ او
د حلقوي سړک نورې برخې تر کار لاندې دي، روغتیایي مرکزونو ته د لاسرسي
په برخه کې ۱۴ نا امنه ولایتونه وځېړل شول او د هېواد د ټولو ولسوالیو لپاره د
مسلکي ښوونځیو د جوړېدو پروګرام جوړ شو. همدارنګه د بریښنا له ملي شبکې
سره د دایکندي، ارزګان، غور، نورستان او نیمروز ولایتونو د نښلېدو هوکړه‌لیک
د آسیا له پرمختیایي بانک سره لاس‌لیک شوی دی.

**د ولسي تړون پروګرام:** د ولسي تړون لومړیتوب لرونکي ملي پروګرام تر اوسه
د ۳۴ ولایتونو په کچه ۱۲۳ ولسوالۍ تر پوښښ لاندې نیولې دي. د دغه پروګرام
په انکشافي پروژو کې اوبه رسول، اوبه لګول، بریښنا، د تجدید وړ انرژي،
ترانسپورت، حفظالصحه او روغتیایي زده کړې شاملې دي. یوازې د ټولنیز
مشارکت لپاره د مالي ورکړې د فرعي پروګرام[1] له لارې په ټول هېواد کې ۴۱۴۲
غذایي بانکونه جوړ شوي دي.

## چ ـ د زیانمننې کچې ټیټول

د زیانمنو اقشارو (پاړکیو) د لا ډېر ټولنیز خوندیتوب په موخه، د ملي یووالي
حکومت د مستحقو اقشارو د زیانمنېدو د کچې د راکمولو، د طبیعي او غیر طبیعي
پېښو زیانمنو ته د رسېدنې، د ښځو او ماشومانو د بشري حقونو په برخه کې د
ملاتړ منظم پروګرام لري.

**د مستحقو اقشارو د زیانمنېدو د کچې کمول:** د دفاعي او امنیتي ځواکونو د
شهیدانو ۱۲ زرو کورنیو ته د مرستندویه خوراکي توکو د کوپون د وېش پروګرام په

۱ Social Inclusion Grant (SIG)

يو لړ مراسمو کې په کابل کې پيل[1] او د شهيدانو وارثينو ته د ځمکې او استوګنې د ځای په وېش کې ونډه په پام کې نيول شوې ده. همدارنګه متقاعدينو ته د نبې رسېدنې لپاره هغوی بايومټريک شوي او له ۱۱۷،۵ زرو (شاوخوا ۸۹ سلنه متقاعدينو) ډېر کسان ثبت شوي دي.

**پېښبو ته رسېدنه:** د ۱۳۹۷ کال لپاره د وچکالۍ د بېړني پلان په طرحه او پلي کولو سره، د وچکالۍ ۲،۲ ميليونه ډېرو زيانمنو ته ۳،۵ ميليونه څاروي وېشل شوي او په ۸ ولايتونو کې روغتيايي خدماتو ته د ۱۴۰ زرو اړو کسانو ملاتړ شوی دی. په ۱۳۹۵ او ۱۳۹۷ کلونو کې له پېښبو څخه د زيانمنو او بېځايه شوو ۳۵۰ زرو ډېرو کورنيو سره په ۳۴ ولايتونو کې، خوراکي او غير خوراکي مرستې او له ٦۵۰ ميليونو ډېرو افغانيو مالي مرستې شوې دي.

**د بشري حقونو ملاتړ:** په لومړي ځل د جزا په کود (قانون) کې بچه‌بازي جرم وبلل شو او د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذيت د منعې قانون نافذ شوی دی. همدا راز کارګرو ماشومانو ته د رسېدنې په موخه د ماشومانو د کار د منعې ستراتيژي وروستۍ شوه. د شکنجې له پديدې سره د اساسي مبارزې په برخه کې، د شکنجې د منعې لومړی قانون جوړ او نافذ شوی دی.

## ح ـ د پروګرامونو له لارې په کارموندنه تمرکز

د اقتصاد عالي شورا د کار رامنځته کوونکو او تولنيزو خدماتو په سکتورونو کې د پانګونې د ونډې ترمنځ توپير د ۷۰ او ۳۰ سلنې په ترتيب سره تصويب کړی دی؛ په دې معنا چې په بوديجه کې شته انکشافي پيسې به تر ډېره هغو سکتورونو ته ځانګړې شي چې د مولديت د لوړوالي او اقتصادي ودې لامل کېږي[2]. د کار موندلو سکتورونو ته د بوديجې د يوې ډېرې برخې ځانګړې کول او په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۹۱ سلنه انکشافي بوديجې لګول بې‌ساري دي او دا څرګندوي چې حکومت د کاري فرصتونو لپاره اغېزناکه کړنلاره لري.

**د ادارو ترمنځ همغږي:** د خلکو لپاره د نوي کار د زمينو رامنځته کولو په موخه، د کاري فرصتونو ملي پروګرام په ۵ محورونو کې د کرنې د ښه‌والي، د ښارونو د پاکولو، په کليو کې د سړک جوړولو، د برېښنا د بندونو د او د ټيټې بيې کورونو د جوړولو په برخه کې د ۱۳۹۴ کال په لړم مياشت کې پيل شو. د وړ کار هېواد

---

۱ ۱۵ سلواغه ۱۳۹۷

۲ د افغانستان د سولې او پراختيا ملي چوکاټ

شموله پروګرام[1] وروستی شوی دی، چې د تولید او د کار بازار د معلوماتو د تحلیل په برخه کې، د ظرفیت لوړوالي په موخه کلیدي پروګرامونه، د زده‌کړې او کارموندنې ډېر فرصتونه، د کوچنیو تشبثاتو د ودې لپاره مناسب چاپېریال او د زیانمنو شوو ډلو اقتصادي پیاوړي کولو پروګرامونه لري. د کار رامنځته کولو او د مسلکي کسانو د جذب په موخه، د لوړو زده‌کړو وزارت او ۱۸ وزارتونو او بنسټونو ترمنځ هوکړه‌لیک لاس‌لیک شوی دی. همدارنګه په پوهنتونونو کې د کار موندنې ۱۰ مرکزونه جوړ شوي دي.

**د بازار محوره زده‌کړې کړنلارې ته بدلون:** د حرفوي زده‌کړو د اړتیاوو د پېژندلو په موخه په ۱۳ ولایتونو کې د کار د بازار هر اړخیزې څېړنې شوې دي، په دې برخه کې ٦٥ معیارونه او ښوونیز نصاب جوړ شوی دی. د کار د بازار معلوماتي سیستم[2] د کار د اوسني بازار د اړتیاوو او راتلونکي کال د کار د بازار د اړتیا سنجولو پر اساس، د کار د بازار له نړیوالو شاخصونو سره سم د جوړېدو په حال کې دی. همدارنګه د فني او حرفوي زده‌کړو پروګرام ۳۴ ولایتونو ته پراخ شوی او د فني او حرفوي زده‌کړو د پروګرامونو ظرفیت له ۲۰ زرو ۳٦ زرو کسانو ته لوړ شوی دی.

**د خصوصي پانګونې ملاتړ:** حکومت د خصوصي سکتور د پانګونې او د دغه سکتور له‌خوا د کار رامنځته کولو له ښه‌والي څخه د ملاتړ په موخه ۹۵ سلنه مالیاتي معافیت عملي کړ. پر دې اساس، هغه مالیه ورکوونکي چې له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹٦ کال پورې یې د مالیاتي جریمو له امله خپله مالیه نه وه پاکه کړې، د اصلي مالیې او د مالیاتي جریمو د ۵ سلنې په ورکړې سره د مالیاتي جریمو له پاتې ۹۵ سلنې معاف شول.

**د نوو کاري فرصتونو رامنځته کول:** د کلیوالي صنایعو د پراختیا ملي پروګرام، په تېرو څلورو کلونو کې، په مستقیم او غیر مستقیم ډول له سل زره ډېر کارونه، له ۵ زره ډېر د ښځینه او نارینه سپما ډلې او ٦۰۰ تشبثونه جوړ کړي دي. له ۱۳۹۴ کال راهیسې د کرنې او مالدارۍ د پراخوالي د پروګرام په پلي کولو سره د ۱،۳ میلیونو کسانو لپاره د اوږد مهال او د ۱۹۵،۵ زرو کسانو لپاره د لنډ مهال او د ۲،٦۹ میلیونه کسانو لپاره د ورځني کار زمینه برابره شوې ده. د ولسي تړون ملي پروګرام د ٦۳۸۴ پراختیایي پروژو په اجرا سره، د ښارونو او کلیو په کچه د ښځو په پنځوس سلنې ونډې سره کاري فرصتونه برابر کړي دي. په تېرو څلورو کلونو کې د آزادې سیالۍ له لارې ۲۲ زره خالي دولتي پوستونه طی مراحل او خلک ګومارل شوي دي.

---

۱ Decent Work Country Program (DWCD-II, 2018 – 2022)
۲ Labour Market Information System (LMIS)

همدارنګه له ۲۰۱۸ څخه تر ۲۰۲۲ کال پورې د کډوالۍ د کار ملي ستراتيژي چمتو شوې ده چې له هېواده بهر د افغان کډوالو لپاره قانوني آسانتياوې برابروي.

## خ ـ د استوګنې او ښاري خدماتو پروګرام جوړول

په ۱۳۹۴ کال کې د افغانستان د ښارونو د وضعيت[۱] د راپور په جوړولو سره، په لومړي ځل د هېواد د ۳۴ ولايتونو مرکزونه په دقيق او هر اړخيز ډول و ارزول شول. دغه راپور د سټلايټ له‌لارې د دقيقو تصويرونو په اخيستلو، د کار وړ ځمکو او د ولايتونو د مرکزونو د هستوګنې د سيمو په اړه نور معلومات چمتو کړي دي. له بل پلوه، د کور او ښار جوړونې قانون او د ښاري لومړيتوب پروګرام تصويب شوی دی. د غير پلاني هستوګنځايونو د بيا ښه کولو او پراختيا پاليسۍ په تصويبولو په غير پلاني سيمو کې د خدماتو زمينه برابره کړې ده. همدارنګه په تېرو څلورو کلونو کې د معياري ښارونو د جوړولو او ښاري فرهنګ د ښه‌والي لپاره له ۱۰۰ ډېر تفصيلي او اصلاحي پلانونه جوړ شوي دي. په دغه برخه کې د حکومت د کارکړنو په پايله کې، افغانستان و توانېد په ۱۳۹۶ کال کې د نړۍ د ښاري حکومتولۍ عالي شورا[۲] غړيتوب ترلاسه کړي. همدارنګه د ښاري خدماتو انکشاف ته د حکومت په ځانګړې پاملرنې سره، نړيوال بانک ژمنه وکړه چې د ښارونو په ظرفيت لوړولو سره به تر ۲۰۰ ميليونو ډالرو پورې مرسته وکړي.

**د استوګنيزو کورونو جوړول:** په تېرو ۳ کلونو کې ۵۵ زره استوګنيز کورونه طرح، ډيزاين او د جوړېدو په حال کې دي، چې د دغو پروژو له ډلې د خواجه رواش ښارګوټي لومړی فاز، د اماراتو ښارګوټی، د خوشحال خان ښارګوټی او د قصبې د ښارګوټي ٦۰ بلاکونه بشپړ شوي دي. د ټيټې بيې او دايمي هستوګنځايونو ته د هغو کورنيو د لاسرسي په موخه چې لږ عايد لري، په ۱۳۹٦ کال کې د هستوګنې ملي پروګرام پيل شو. دغه پروګرام د ۱۳ کلونو لپاره په ۳۴ ولايتونو کې پلی کېږي. د ۱۰ زره اپارتمانونو د جوړولو په برخه کې له چين، د زرو له قطر او د ۴ زرو له هند سره هوکړه شوې ده. همدا راز اروپايي ټولنې د هرات په کمال الدين ښارګوټي کې د ۸ زره هستوګنځايونو د جوړلو د تمويل ژمنه کړې ده.

**په غير رسمي سيمو کې د ملکيت سند توزيع:** د ځمکو د غصب د مخنيوي او د غير رسمي ښاري سيمو د ثبت په موخه، د غير رسمي ښاري ملکيتونو د چارو د تنظيم مقرره په ۱۳۹٦ کال کې تصويب شوه. له دغه پروګرام سره سم په کابل،

---

۱ State of Afghan Cities- 2015
۲ Governing Council of UN-Habitat

هرات، مزارشریف، کندهار، جلال اباد، فراه، بامیانو او نیلي ښارونو کې په غیر پلاني سیمو کې ۵۳۵ زره کورونه سروې او ثبت شوي دي او د شرایطو وړ ځایونو ته د ملکیت د توزیع بهیر له هرات، کابل، جلال اباد ، نیلي او بامیانو څخه پیل شوی دی. د دغه پروګرام په دویم پړاو کې د مهترلام، غزني، چاریکار، تالقان، زرنج، ګردیز، خوست او لښکرګاه ښارونه شامل دي.

**د ښاري خدماتو ښه والی:** د ۲ زره کیلومتره سړک، د سړک غاړې ۵۰۰ کیلومتره پلو لارو، ۱۵ مسلخونو، د ښاروالۍ د ناحیو لپاره د ۵۰ اداري تعمیرونو، له ۵۰۰ ډېرو عامه تشنابونو، له ۲۰ زرو ډېرو پولګوټو (پلچکونو)، ۶۰ پارکېنګونو، ۲۰ مارکېټونو او په ښار کې له ۲ زرو د ډېرو نوو دکانونو جوړول، د ۵ میلیون متر مکعب تقریبي حجم د کثافاتو پاکول او مدیریت، په پنځو ښارونو کې له ۲۵۰۰ د ډېرو سولري څراغونو نصبول، په هرات او مزارشریف کې د ۲ پنځه ستوریزو هوټلونو جوړول د ښارونو د وضعیت په ښه‌والي کې د ښاروالیو له لویو لاسته راوړنو څخه دي.

## د ـ د ښځو د وضعیت ښه‌والی

د ملي یووالي حکومت د ښځو د سیاسي مشارکت، اقتصادي پیاوړتیا، عدالت او د ټولنیز ملاتړ د لاسرسی په برخو کې د هغوی د وضعیت د ښه‌والي په اړه بې‌ساري اقدامات کړي دي. د دغو اقداماتو په پایله کې اوسمهال ښځې د دې جوګه دي چې د هېواد دننه او بهر خپله استازولي وکړي.

**د ښځو د تبارز لپاره فضا جوړول:** د ښځو، سولې او امنیت په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ملي عمل پلان د ۱۳۲۵ پرېکړه لیک د مخکتنې او پلي کولو پیل[۱]، د افغانستان د سولې او پراختیا ملي چوکاټ کې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا د ملي پروګرام طرحه او ځای پر ځای کول، د افغان ښځو درې دورې سراسري سمپوزیم، جنډر ته ځواب ویونکې بودیجه، د ملي پروګرامونو په اسنادو کې د جنسیتي لیدلوري شاملول او په ادارو کې د ښځو د ډېر حضور د اسانولو لکه په ګومارنو کې امتیازي نمرې او له تحصیلي فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د لارو چارو په پام کې نیول هغه څه دي، چې د ښځو د تبارز لپاره یې مناسبه فضا جوړه کړې ده.

**د ښځو د اقتصادي مشارکت لپاره د لارې هوارول:** د افغانستان د ښځینه سوداګرۍ او صنایعو خونې جوړول د ښځو د پیاوړتیا په برخه کې لوی ګام دی.

---

۱ ۹ چنګاښ ۱۳۹۴

همدارنګه په ښځو پورې د اړوندو شرکتونو او فابريکو له محصولاتو څخه په پېرلو کې د حکومت ۵ سلنه غوره‌والی، د افغان ښځو د توليداتو د سوداګريز نښان جوړول، سوداګرو ښځو ته د ځانګړي شوي لومړي صنعتي پارک پرانيستل او د هغوی لپاره د صنعتي پارکونو له ۱۰ تر ۲۰ سلنې پورې د نور ظرفيت ځانګړي کول، د ښځو په اقتصادي مشارکت کې د اسانتيا رامنځته کولو په موخه د حکومت له اقداماتو څخه دي.

**عدالت ته د ښځو د لاسرسي ډېروالی:** په لويه څارنوالۍ کې د تاوتريخوالي د منعې د مرستيالۍ او په ولايتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې د ۳۴ څارنواليو جوړول، په ستره محکمه کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې د ځانګړي ديوان او په ولايتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې د ۲۸ ځانګړو محکمو جوړول، هغه جوړښتي اقدامات دي، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيو ته په رسېدنه کې يې ډېر جديت رامنځته کړی. همدارنګه د ښځو او ماشومانو د ځورونې د منعې عالي کميسيون او د هغو کمېټې په دولتي بنسټونو کې جوړې شوې دي او د ښځو او ماشومانو د ځورونې او اذيت د منعې قانون هم جوړ او نافذ شوی دی.

**د ښځو ټولنيز ملاتړ:** د ښوونې او روزنې په برخه کې، په تېرو څلورو کلونو کې ۳۹۲۷ ښځينه ښوونکې زده‌کړو ته د نجونو د هڅونې په موخه ګومارل شوې دي، چې په پوهنه کې يې د ښځينه ښوونکو شمېر ۲۶ سلنه لوړ کړی دی. د دې ترڅنګ د هېواد په ټولو دارالمعلمينو کې له ۲۸،۳ زرو ډېرې ښځينه محصلينې جذب شوې دي. د نجونو د زده‌کړې او روزنې پاليسي[۱] هم د نجونو او ښځو د زده‌کړې د خنډونو د لرې کولو، د نجونو او هلکانو د شموليت کچې د توپير کمولو، د زده‌کړې او روزنيز سيستم ته له ښوونځي بهر د نجونو د راوستلو او د ښځينه زده‌کوونکو او کارکوونکو پر وړاندې مثبت چلند ته د پوهنې وزارت د ژمن کولو په موخه جوړه شوه. همدارنګه په معارف کې د نجونو د لا ډېر جذب لپاره په ۱۹ ولايتونو کې د ښوونځيو شوراګانو ښوونيز پروګرامونه جوړ کړي دي. د روغتيا په برخه کې، د ۱۳۹۷ کال د سلواغې په ۱۳مه د ۲ ميلياردو افغانيو په ارزښت د بې‌بضاعته ښځو لپاره د روغتيايي مرستو ملي پروګرام پيل شوی دی. دغه پروګرام ۱۲۰۰ روغتيايي مرکزونه تر پوښښ لاندې لري او له دغه پروګرام څخه به ۲ ميليونه ښځې ګټه واخلي. د جنډر له مخې تاوتريخوالي ته د روغتيايي سکتور

۱ د ۱۳۹۷ کال د دلوې په ۱۷مه مخکتنه

د ځواب ویلو پروګرام[1] چې اوسمهال په ٦ ولایتونو کې فعالیت لري، ۱۲ نورو ولایتونو ته هم پراخیږي.

**شپږویشتم شکل:**
*دارلعلمینو ته د جذب شوو ښځینه محصلینو شمېر (۱۳۹۴ ـ ۱۳۹۷)*




**د ښځو د سیاسي مشارکت ډېروالی:** د ښځو لپاره د غوره کاري فرصتونو د برابرولو په برخه کې، په ملکي خدماتو کې د ښځو د مشارکت د ډېروالي پالیسي په کلني ډول په ملکي خدماتو کې د ښځو د ګومارلو د ۲ سلنه ډېروالي په موخه جوړه او د پلي کېدو په حال کې ده. د ۱۳۹۷ کال د مرغومي میاشتې له راپورونو سره سم، ۴ وزیرانې، ۱۱ معینانې، ۴ سفیرانې، ۲ ښاروالانې، ۲۶ سلنه د سولې عالي شورا په رهبرۍ کې، ۲۰ سلنه د ولایتي شورا غړې، ۲۲ سلنه د لویې څارنوالۍ د اداري کارکوونکې، ۲۳ سلنه د سترې محکمې کارکوونکې، د کابل د ۱۱ ناحیو مرستیالانې، د سیمه‌ییزو ارګانونو په خپلواکه اداره کې د جنډر ۲۶ متخصصینې، ٦ مستوفیانې او د (بلخ، هرات، ننګرهار او کابل) د والیانو د ټولنیزو چارو ۴ مرستیالانې ښځې دي. د بېلګې په توګه اشاره کولی شو چې په لویه څارنوالۍ کې د ښځو شتون ۷ برابره شوی او له ۳ سلنې ۲۲ سلنې ته لوړ شوی دی او د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۷ کال کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان ځانګړې استازولي یوه ښځه کوي.

## ذ ـ محیط زیستي ښه‌والی

د چاپېریال ساتنې په برخه کې د هوا له ککړوالي د مخنیوي د عالي کمیسیون په چوکاټ کې ۱۹ دولتي اداري له یو بل سره همکاري کوي ترڅو د چاپېریال ساتنې په برخه کې د دغو ادارو همغږي او د فعالیت اغېز ډېر شي.

---

۱ Health Response to GBV

**د ځنګلونو پايداره مديريت:** د لومړي ځل لپاره د هوايي نقشې له‌لارې په ټول هېواد کې د ځمکې پېژندل او تثبيت د ځمکې د پوښښ اطلس[1] چمتو شوی دی. د دغه اطلس د معلوماتو پر اساس، ځنګلي سيمې له ۱,۳۴ ميليون هکتار څخه په وروستيو کلونو کې ۱,۷۸ميليون هکتار ته ډېرې شوې دي. ۴۴۰ زره هکتاره ويجاړ شوی طبيعي ځنګل، د خلکو پر مخ د ساتنې او قروغ کولو له امله، په طبيعي ډول رغول شوی دی. اوس‌مهال ۴۵۱ زره هکتاره ځنګل د خلکو او ۱,۳۳ ميليون هکتاره د حکومت له‌خوا ساتل کېږي. همدارنګه د طبي بوټو پر شاوخوا ۲۸۸ هکتاره ويجاړو شوو سيمو، د للمي تخم شيندل شوی دی.

**تر حفاظت لاندې سيمو مديريت:** دملي يووالي حکومت په دوره کې د بدخشان ولايت واخان، په کابل کې کول حشمت خان او په باميانو کې شاه فولادي سيمې د ساتل شوو سيمو او ملي پارکونو په توګه اعلان شوې. له سرغړونو څخه د مخنيوي لپاره په ۲ ساتل شوو سيمو کې د طبيعي سرچينو ساتنې لپاره اقدامات شوي او په ۵ نورو سيمو لکه د هرات پل مالان، د غزني د ناور دښته، د تخار درقد، په باميانو کې شاه فولادي او د کابل په کول حشمت خان کې سروې او مطالعات شوي دي. د ساتل شوو سيمو په توګه د غزني ولايت د ناور د دښتې، د تخار ولايت د درقد او د باميانو د اجر درې د رسمي اعلان په موخه لومړنۍ سروې ګانې شوې دي. په واخان ملي پارک کې  د وحشي او هلي حيواناتو د واکسيناسيون کمپاين پيل شوی او د حيات وحش د تثبيت په موخه سروې او د يخچالونو د ارزولو چارې هم روانې دي.  له بل پلوه، ۱۴۹ ډوله نباتات او حيوانات چې د له‌منځه تلو په حال کې دي پېژندل شوي او په اړوندو ايکو سيستمونو کې يې ساتنه کېږي.

**د هوا د ککړوالي راکمول او د اشغال‌دانيو مديريت:** په تېرو ۴ کلونو کې نږدې ۲۴ زره توليدي او صنعتي فابريکې او نور ککړوونکي ځايونه، د ۲۵۱ زرو نقليه وسيلې له محيط زيستي پلوه څارل شوې او تفتيش شوي دي. همدارنګه د ۹۸ سلنه نانواييو، ۴۰ سلنه ډوډۍ پخولو د داشونو، ۱۵ سلنه د سقاوو او حمامونو، ۸۳ سلنه د رستورانتونو، ۹۷ سلنه د ودونو د تالارونو د سوند سيستم له لرګيو او د ډبرو له سکرو څخه ګازي ته بدل شوی دی او په شاوخوا ۷۵ سلنه حمامونو کې د دود تصفيې فلترونه لګول شوي دي.

۱ Land Cover Atlas- 2016

**د زرغون چاپېریال پراخول:** د مرکز او ۳۲ ولایتونو په فارمونو کې له ۹ میلیونو ډېر نیالګي روزل شوي او په ښوونځیو، جوماتونو، موسسو، ادارو او ښاروالیو کې د هغو په توزیع سره شنې سیمې ډېرې شوې دي. همدارنګه د شنه کمربند د رامنځته کولو په برخه کې په کابل کې په شاوخوا ۱۵۸۸ هکتاره ځمکه ۴۹۰ زره نیالګي کېنول شوي او په دغو سیمو کې د اوبو لګولو شبکې هم جوړې شوې دي. دغه سیمې د ۲۰۲۲ متریک ټنه کاربن ډای اکسایډ د جذب ظرفیت لري.

## د شکلونو فهرست

لومړی شکل: په تېرو څلورو کلونو کې د افغانستان کلنۍ اقتصادي وده په سلنې سره .. ۷۲
دویم شکل:  په وروستیو څلورو کلونو کې د افغانستان د پړسوب (تورم) کچه په سلنې.. ۷۲
درېیم شکل: د وروستیو پنځو کلونو په جریان کې د پراختیایي بودیجې د لګښت سلنه . ۷۳
څلورم شکل: له ۱۳۹۰ تر ۱۳۹۷ کال پورې راټول شوي دولتي عواید (میلیارد افغانۍ).. ۷۳
پنځم  شکل: له  ۲۰۱۴ تر  ۲۰۱۸ میلادي کال پورې د افغان ملي بانک لهخوا د افغانیو په میلیارد ورکړل شوي پورونه........................................... ۷٦
شپږم شکل: د وارداتي برېښنا د کچې ډېروالی ................................. ۷۹
اووم شکل: په افغانستان کې د زغفرانو د کرکیلي او حاصل کچه (۱۳۸۴-۱۳۹۷)...... ۸۲
اتم شکل:  په وروستیو کلونو کې د افغانستان د لبنیاتو د اتحادیې د شیدو د تولید پرتله  ۸۳
نهم شکل:په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان د صادراتو کچه (له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۸؛ له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۷ مالي کلونو سره سم) ........................................... ۸٦
لسم شکل: د سوداګرۍ د حجم له مجموع څخه د صادراتو د ونډې سلنه (له ۲۰۱۴ تر ۲۰۱۸؛ له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۷ مالي کلونو سره سم)  ....................... ۸٦
یوولسم شکل: .. د شفافیت نړیوال سازمان له لورې د فساد د ادراک شاخص په رتبهبندۍ کې د افغانستان امتیاز  ........................................................ ۱۲۸
دولسم شکل: تر یو کلنۍ د ټیټو هغو ماشومانو شمېر چې پنځهګوني واکسین ورته شوي وي (۱۳۹۴ ـ ۱۳۹٦)........................................................ ۱۴۱
دیارلسم شکل: د عامې روغتیا وزارت د عادي تشکیل په ګډون د روغتیایي پرسونل شمېر (۱۳۹۳ ـ ۱۳۹۷)...................................................... ۱۴۲
څوارلسم شکل: په هرو سلو زرو زیږونونو کې د میندو د مړینې ټیټوالی ............... ۱۴۳
پنځلسم شکل: د میندو د روغتیا د شاخصونو په سلنه لوړوالی  ....................... ۱۴۳
شپاړسم شکل: د توبرکلوز د تشخیص شوو پېښو شمېر  .......................... ۱۴۴
اوولسم شکل: د توبرکلوز د تشخیصي خدماتو د روغتیایي مرکزونو شمېر  ............ ۱۴۴
اتلسم شکل:  د تداوي شوو روږدو شمېر.......................................... ۱۴۵
نوولسم شکل: په وروستیو ۵ کلونو کې په شل اوریزو او یو ورځنیو لوبو کې د کرکټ د ملي لوبډلې د بریا سلنه  ................................................... ۱۴۷
شلم شکل: د تخنیکي او مسلکي زدهکړو د پروګرام د څانګو تنوع ................... ۱۴۹
یوویشتم شکل: د تخنیکي او مسلکي زدهکړو د دولتي مرکزونو شمېر  ............. ۱۴۹
دوه ویشتم شکل:د لوړو زدهکړو په دولتي مرکزونو کې د تحصیلي څانګو ډېروالی  (۱۳۹۳ ـ ۱۳۹۷) ............................................. ۱۵۰
درویشتم شکل: د لوړو زدهکړو له دولتي مرکزونو څخه د فارغانو شمېر (۱۳۹۳ ـ ۱۳۹٦)۱۵۰
څلیرویشتم شکل: د تحصیلي کچې په تفکیک د لوړو زدهکړو مرکزونو د ښوونکو شمېر ۱۵۱
پنځه ویشتم شکل: د راستنو شوو کډوالو شمېر (زر کسه) (۱۳۹۳ ـ ۱۳۹۷)........... ۱۵۳
شپږویشتم شکل: دارلمعلمینو ته د جذب شوو ښځینه محصلینو شمېر (۱۳۹۴ ـ ۱۳۹۷). ۱٦۲

## د جدولونو فهرست

لومړی جدول: د ملي یووالي حکومت په دوره کې په لوړه کچه ملي کنفرانسونه او علمي سمینارونه.................................................................. ۳۳
دویم جدول:  د تصویب شویو او په رسمي جریده کې د خپرو شویو نړیوالو اسنادو لېست تله ۱۳۹۳ ـ سلواغه ۱۳۹۷  ............................................ ۴۲
درېیم جدول: د جمهور رییس د بهرنیو سفرونو لېست  ........................... ۴٦
څلورم جدول: له ترکمنستان سره لاسلیک شوي دوهاړخیز سندونه.................. ۵۱
پنځم جدول: له ازبکستان سره لاسلیک شوي دوهاړخیز سندونه  ................. ۵۲
شپږم جدول: د جمهور رییس د داخلي سفرونو لېست  ............................ ۱۲۲



په تېرو څلورو کلونو کې موږ د یوه خواب‌ویونکي دولت لارنقشه جوړه کړې او د پلي کولو په حال کې یې یوو. په دې هیله چې ځوان نسل، ښځې او نارینه، له ما څخه د پله په توګه ګټه واخلي او د هېواد د راتلونکو مالکانو په توګه اساسي مسؤلیتونو ته اوږه ورکړي. زموږ خلک غواړي د تېر ښکار نشي، ترخې خاطرې هېرې کړي او د واضح خواب‌ویونکي دولت ولري.

محمد اشرف غني، د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهور رئیس




ISBN 978-9936-631-05-2

9789936631052

د جمهوري ریاست لوړ مقام دفتر لوی ریاست
د ستراتیژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت
د مطبوعاتو ریاست